ناول

# د غزې

## وروستی شپه



محمد طارق صابر

پیسي خو هسې یو رواج دی د ثواب پکې څه نشته
زما په جنازه کې دې تقسیم شي کتابونه

﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ﴾

# رحماني کتابتون

## د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون په سرچ
سره هم پیدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ
کړئ یا هم پښتو ملګرو .!

🔎 **Rahmani library**
🔎 **رحماني کتابتون**

# د غزې وروستۍ شپه

محمد طارق صابر

بسم الله الرحمن الرحیم

# د غزې وروستۍ شپه

لیکوال: محمد طارق صابر

ډیزاین: اکسوس ګرافیک

خپرندوی: اکسوس Aksos

چاپ: لومړی، داستاني‌ادبیات، ناول

د چاپ کال: ۱۴۰۴ هـ ش / ۲۰۲۶ م

چاپځی: وایګل چاپ، کابل - افغانستان

بیه: ۱۰۰ ؋

ISBN: 978-9936-1-1010-6

ټول حقوق خوندي دي ©

د دې کتاب د چاپ، خپرولو، ژباړې، برېښنايي بڼې، او هر ډول نقل ټول حقوق د اکسوس خپرندوی مرکز سره خوندي دي.

د خپرندوی له لیکلې اجازې پرته، د دې کتاب هېڅ برخه نه شي کېدای چې په هره بڼه یا د هرې وسیلې له لارې (چاپي، برېښنايي، غږيز، یا ډیجیټلي) نقل، ثبت، یا خپره شي.

0202504652 - 0798989696
info@aksosbookstore.af
www.aksosbookstore.af
House No. 13, Area 1006, District 3
Kabul, Afghanistan

Aksos

**مننه!**

له جلال بنسټ څخه مننه دوی یم، چې د دې اثر مالي او معنوي ملاتړ یې وکړ. دا ملاتړ یوازې مادي مرسته نه ده؛ بلکې د هغو انسانانو کیسه یې را ژوندۍ کړه او ستاسو تر لاسونو یې در ورسوله، چې د نړۍ په سیاسي برېوکي کې ورکه شوې وه.

﴿وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ۝٤﴾

مـوږ پـه خپـل کتـاب (تـورات) کـې بنـي اسراییـل پـه دې هـم خـبر کـړي وو، چــې تاســو بــه پــه ځمکــه کــې دوه ځلــې ډېــر لــوی فســاد را ولاړ کــړئ او لویـه سرکـشي بـه وښایاسـت.

**[قرانکریم، الإسراء سورت، ۳-۴ ایت]**

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګرې ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډیر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندي آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسي نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړي وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په دغه لاندي [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

د باد نرمې څپې د زړو انځيرو پاڼې نڅولې. کوترې په رژېدلو پاڼو کې مښوکه وهله، ښکې يې لمر ته ځلېدې. يوه نجلۍ په انګړ کې ولاړه وه، کوترې ته يې کتل.

باد تېز شو، له انګړه سپېره دوړه پورته شوه. نجلۍ لاسونه سترګو ته ونيول، د ګوتو له منځ يې وکتل، کوتره د بام په څنډه ناسته وه، سپين سر يې تر تور وزر لاندې کړی و.

نجلۍ موسکه شوه، ګړندۍ مخکې لاړه. وچې پاڼې يې پورته واچولې، کړېږ - وړېږ په ځمکه لغړېدې.

د الوتکې کړسنده غږ ولګېد، لکه د اسمان لمنه يې چې څيرلې وي. کوترې وزرونه ورپول، سينه يې کږه کړه. وړاندې د يوې ګردې ګنبدې په سر کېناسته. ګنبده لمر ته ژېړه بربښنده.

ډله هلکان له يوې خونې راووتل، کوچنی بکسې يې شاته اچولې وې. يوه هلک پر نجلۍ غږ وکړ:

ـ محيا تر کوره د منډې لوبه کوې؟

محيا جټکه وخوړه. د خيالونو نری تار يې پرې شو، شاته يې وکتل، ټنډه يې ګونځې شوه.

لا يې خبره نه وه کړې، چې هلک منډه کړه. د بوټ مزی يې تر پښه لاندې شو، پړمخې ولوېد. د محيا زړه څړيکه وکړه. چيغو يې په انګړ کې دوه ځلې انګازې وکړې:

ـ فرحانه، وروره!

په بېړه يې ورمنډه کړل. خرمايي وېښتان يې په مخ ول - ول ولوېدل. فرحان يې له خاورو پورته کړ، په ستوني کې يې لاړې بندې وې، په ژړغوني غږ يې وويل:

ـ خوږ شوې؟

فرحان څه و نه ويل، زيګروی يې کاوه، چپه ګونډه يې په غبرګو لاسونو کې نيولې وه.

محيا وېښتان بېرته تر ټکري لاندې کړل، په ټکري يې د خاورينو ګوتو نښې پاتې شوې.

دواړه له انګړه ووتل، سيوري يې پسې زنګېدل. موټر يې تر څنګ تېر شو. يوې او بلې غاړې ته يې وکتل. مخ پورته روان شول.

محيا ودرېده، له بکسې يې پټک را وويست. فرحان د وچې دښتې مسافر په څېر پټک ور واخيست، څو غوړپه اوبه يې وڅښې، د لاس څټ يې په خوله تېر کړ:

ـ دا خو ګرمې وې!

محيا سوړ اسويلی واېست:

ـ کور ته نږدې يو، هلته به...

خبره يې په خوله کې وچه شوه. د کوڅې په سر کې يو کس ولاړ و، په چټکۍ هغه ته

ورغلل. فرحان د سړي غېږې ته ورټوپ کړل.

سړي د فرحان له جامو خاورې وڅنډلې. محیا ته یې وکتل، په تنده یې د سهارني شبنم په څېر خوله پرته وه.

سړي وویل:

- په فرحان څه شوي؟

- ولوېد.

سړي د فرحان په سر لاس تېر کړ. بل لاس یې کڅوړې ته د ننه کړ، کتابچه یې ترې را وویسته.

د محیا څېرې ته د سکون وینه ورغله.

سړي بیا ځلې په کڅوړه کې څه ولټول:

- لورې سترګې پټې کړه!

د محیا په سترګو اوږده بانه پرېوتل، د زړه نرمه درزا یې اورېده.

سړي وویل:

- وګوره څه دي؟

محیا د سړي په لاسونو کې رنګې ولیدې. مخ یې د ګلاب د غوټۍ په څېر وغوړېد، غبرګ لاسونه یې ترې تاو کړل.

فرحان داسې ورته کتل، لکه له دوی چې پردی وي. سړی موسک شو، جېب ته یې لاس کړ، د لوبو راډیو یې ورته ونیوه. فرحان د سړي له ګوتو راډیو کش کړه، د پښې درد یې هېر کړ، په ترپکو ترپکو لاړ.

محیا او سړي وخندل. ناڅاپه درز شو. سړي شاته وکتل، وړاندې له یوې هسکې

ودانۍ تورې لوخړې پورته شوې.

د سړي له شونډو موسکا وکوچېده. د محیا لاس یې ټینګ ونیو، په بېړه په یوه نیم کښه دروازه ننوتل.

یوې ښځې له کړکۍ په وېرېدلو سترګو د باندې کتل، څنګ ته یې فرحان ولاړ و، شنه پلاستیکي راډیو یې غوږ ته نیولې وه.

محیا له سړي لاس ببل کړ. شېبه وروسته د ښځې کیڼ لوري ته ودرېده. درې واړه د کور له انګړه داسې ښکارېدل، لکه په زاړه دېوال چې انځور را ځوړند شوی وي.

***

د لمر وړانګې له کړکۍ را لوېدلې وې، له غالۍ سره خلا پورته کېده. سړی د کوټې کونج ته لاړ، دېوال ته یې ډډه ووهله.

شېبه وروسته فرحان او یوه ښځه کوټې ته د ننه شول، د انارو ډک غوری ورسره و.

د ښځې سترګې د سړي په سپین او تور سر ولګېدې:

ـ محموده تر وخت مخکې سپین ږیری شوې.

ـ تسنیم! څنګه به نه سپین ږیری کېږم. زړه مې ستاسو راتلونکي ته خوږین دی.

تسنیم د انار له پوټکي څو دانې بېلې کړې، خولې ته یې واچولې، په ډکه خوله یې وویل:

ـ زړه مه خوره، خان به خدای ته وسپارو!

باد د کوټې پرده وښوروله. د غالۍ پر سر د پرتې کتابچې پاڼه واوښته، درې ستوري رسم وو، لمر ورته خندل. لاندې ترې لیکل شوي وو:

زه، فرحان، مور او پلار.

بله پاڼه واوښته، طاوس سره او شنه لکۍ په سر اړولې وه.

محمود د کتابچې په ليدو موسک شو. سترګې يې په فرحان ولګېدې، يو موټی د انارو دانې يې خولې ته واچولې. غومبوري يې کوڼځ شول، لکه انارو يې چې ټوله ذايقه وېښه کړې وي.

***

د لمر وړانګې له سيمې په کوچېدو وې. هلکانو فوټبال کاوه، فرحان له کړکۍ ورکتل. ترم له ځايه را پورته شو، بېرته د محمود په اشاره په خپل ځای کېناست.

محيا پنسل په پاڼه وخوځاوه. شبېه وروسته يې ونه رسم کړه، ببرې پاڼې يې په رنګو شنې او ژېړې کړې.

تسنيم له کوټې ووته، ورپسې فرحان ورغی.

تسنيم د پسه غوښه او ترکاري مينځله. فرحان نږدې لاړ، له لمن يې ونيوه:

- مورې څه پخوې؟

تسنيم ور وکتل:

- خوندوره سماقيه[۱]!

د فرحان څېره وغوړېده، په شونډو يې ژبه تېره کړه:

- جوس هم جوړوې؟

- هو د انارو جوس.

فرحان له پخنلخي ووت، سيده کوټې ته ولاړ. پلار يې کتاب لوست. محيا ته ورغی، لا يې رسمونه کاږل. څنګ ته يې غلی کېناست.

۱ سماقيه د غزې د خلکو مشهور خواړه دي.

شنه رنگه يې ور واخيسته، پاڼې ته يې وکتل، د ونې لاندې کوتره رسم شوې وه، ښونوکه يې کړه وه.

فرحان په بېړه د رنگې څوکه د کوترې په سر کش کړه. پاڼه پرې شوه، په تېزۍ له ځايه پورته شو، د محمود تر شا ودرېد.

محيا سر را پورته کړ، په خبره کې يې غوسه ښکارېده:

ـ اووف پلاره دا مې نوې کتابچه وه!

د محمود په شونډو موسکا خوره شوه. فرحان يې په غېږه کې را ټينگ کړ، له غومبورې يې ونيو:

ـ لاړ شه د خور سره دې لوبې وکړه!

***

اذانونه يو په بل پسې پيل شول. د نږدې جومات د موذن غږ د محمود په غوږونو خوږ لگېد. له ځايه را پورته شو، چټک قدمونه يې واخيستل.

گڼ ځوانان او سپين ږيري جومات ته ننوتل، په سر يې شنه گنبده ولاړه وه.

د سرو غاليو پر سر کتار خلک ودرېدل. شېبه وروسته يې يوې او بلې خواته مخونه وگرځول.

محمود په خپل ځای ناست و، لاسونه يې لپه کړي وو، شونډې يې ورو ـ ورو خوځېدې. نرم يې لاسونه په مخ تېر کړل. سترگې يې لمدې وې، خو څېره کې يې د سکون نښې ښکارېدې. کور ته لاړ، په انگړ کې د تازه ډوډۍ بوی خور و.

د پخلنځي په وره کې ودرېد. محيا يې له مور سره مرسته کوله. غوښه يې په غوريو کې واچوله، تاوونه ترې پورته کېدل. څنگ ته يې تازه ترکاري کېښوده.

شپه وروسته د ټولو ژامې خوځېدې. فرحان له هرې ګولۍ سره يو غورپ د انارو اوبه څښلې.

ناڅاپه کوټه ولړزېده. د چاودني غږ دروند و. محمود را پورته شو، په ستوني کې يې دوړې وموښته، داسې درد يې حس کړ، لکه اغزي يې چې تېر کړي وي.

برېښنا پرې شوه. تپه ـ تياره د ناستو کسانو په سترګو راغله. شپه به لا نه وه وتې، چې پيکه رڼا يې په مخونو ولوېده. د محمود په لړزانده لاس کې موبايل و، څراغ يې سپين ځلېد.

فرحان شاته وځنبېد، پښې يې ورټولې کړې، دېوال ته يې تکيه وکړه. تسنيم په بېړه دسترخوان ټول کړ، په غوري کې د غوښې له ټوټې ژېړه دوړی تاو وه.

محمود له کړکۍ کتل. سرې لمبې له يوې ودانۍ تاوېدې. سبکه يې له زړه وخته، په کوټه کې يې داسې ګامونه اخيستل لکه څه چې ترې ورک وي.

فرحان يې د مور څنګ ته غلی ناست و. شپه وروسته په ژورې خاموشی کې خوب يوور. تسنيم يې په ګنو وېښتانو کې ګوتې وهلې.

***

سهارنۍ تودخه د محيا په مخ ولګېده، لاسونه يې اوږده وغځول. سترګې يې وموښلې، مور يې د وره سره ولاړه وه.

فرحان ويده و، مور يې ورغله:

ـ فرحانه، فرحانه.

فرحان لټ په لټ واوښت:

ـ څه دي؟

ـ پورته شه زویه ناوخته کېږي!

فرحان په سختۍ ولتېد. برنډې ته لاړ، څو لپې اوبه یې مخ ته وشیندلې، په تېر یې رانه څاڅکي وڅڅېدل.

دواړو بکسې شاته واچولې. فرحان په سختۍ گامونه اخیستل.

شببه وروسته سیده په یوه دروازه ننوتل، په سر یې لیکل شوي وو: د خان یونس ښوونځی.

محیا وویل:

ـ پام کوه چې بیا منډه و نه کړې.

فرحان چوپه خوله لاړ.

محیا ټولگي ته ننوته. وړیسې یو سړی ورغی، سترگې یې سرې وې، لکه ټوله شپه یې چې خوب نه وي کړی. زده کوونکو ته یې سلام وکړ.

تباشیر یې را واخیست، د تورې تختې په سر یې ولیکل: صلاح الدین ایوبي!

مخ یې زده کوونکو ته ور واړاوه، سترگې یې له اوښکو ډنډ وې:

ـ گرانو زده کوونکو، زموږ د تاریخ نننی درس د صلاح الدین ایوبي په اړه دی.

وروسته یې ټولگي ته وکتل، نیمایي څوکۍ خالي وې. سر یې وخوړېد، غاړه یې تازه کړه:

ـ بچیانو! صلاح الدین ایوبي په ۱۱۳۷ زېږدیز کال کې زېږېدلی، په ۱۱۸۷ کال کې یې قدس شریف ازاد کړ. د شپې به تر ډېره وېښ و. قسم یې خوړلی و، چې څو قدس ازاد نه کړي، خندا ورباندې حرامه ده.

ښوونکي په ټولگي کې څو گامه واخیستل، اوښکې یې په سترگو کې نه تم کېدې،

عینکې یې لرې کړې، په بټه ګوته یې د سترګو کونجونه پاک کړل:

ـ زرګونه صلیبیان یې د قدس د فتحې په ورځ په امن کې رخصت...

خبره یې پای ته نه وه رسېدلې، چې د ښوونځي انګړ ولړزېد. زده کوونکې په منډو له ټولګي ووتې.

محیا د ښوونځي په انګړ کې چیغې وهلې:

ـ فرحانه، فرحانه!

شبېه وروسته یې فرحان له شا ټکرۍ کش کړ. دواړه په ګنه ـ ګونه کې ورک شول، نږدې سیمه چیغو په سر اخیستې وه.

د پاخه سړک په بر سر کې ښکاره شول. پینځه ـ شپږ ګامه به یې واخیستل، بیا به یې شاته وکتل.

د انګړ دروازه خلاصه وه. تسنیم غبرګ لاسونه له سر تاو کړي وو، ټکی وینه یې په مخ نه ښکارېده. سترګې یې په محیا او فرحان ولګېدې، په نازکو څېرو یې وېره پرته وه.

***

اسمان کې رانه ستوري ځلېدل، دوه څنګ په څنګ و، یوه یې سترګګ واهه. سیمه کې د هدیرې په څېر چوپتیا خوره وه. له کوټې ژېړه رڼا راوتې وه، په انګړ کې د توت په څانګو لګېده.

تسنیم چاینکه را واخیسته، پیالې یې ډکې کړې. د ملذې پاڼې بوی یې حس کړ. پیاله یې د لاسونو تر منځ ونیوه، تاوونه یې په پوزه ننوتل، ژوره ساه یې واخیسته.

محمود د ټلوېزیون ریموټ ور پورته کړ، په بټن یې ګوته کېښوده، د ټلوېزیون پردې شنه رڼا وکړه.

خبريال په وبجاړه سيمه کې ښکاره شو:

ـ په جباليا کې پاکو اوبو او خوړو ته لاسرسی ستونزمن شوی.

چينل يې بدل کړ. د خرما ونې ښکاره شوې، تری څانگې يې باد خوخولې. سرې غالۍ او عربې توشکې په مصنوعي چمن کې هوارې وې. گڼ عرب په مجلس بوخت وو، د ځينو سپين چلتارونه د کولر باد رپول.

د کمرې سترگه يوه کس ته برابره شوه، سلامت پسونه يې په سرو سکروټو کې مندل. د چمن بلې غاړې ته دوو ځوانانو تورې جنگولې، تېرې څوکې يې رڼا ته ځلېدې. خندا يې له خولو نه تولېده، عربي سندرې ته يې نڅا کوله.

شبه وروسته يې کباب شوي پسونه د لويو لوښو په منځ کې کېښودل، څلورو خواوو ته يې وربجې واچولې، په هر لوښي درې کسه ورټول شول.

يوه زاړه عرب د پسه ورون وربېل کړ، په دواړو لاسو يې ونيو، خوله يې پرې خښه کړه، له ژامې يې غوړي څڅېدل. بل عرب مازې په وربجو کې گوتې وهلې.

د محمود تنده تروه شوه، په بتن يې گوته کېښوده، چينل واوښت. د تلويزيون په سکرين يې ځغلنده کرښه تر سترگو شوه: يهود پېژندنه! ورپسې د يوه يهودي څېره راغله، په بيرو برېتو کې يې پاسنی شونډه نه ښکارېده.

محمود تلويزيون ته ريموټ ونيو، بېرته يې کېښود.

خبريال له يهودي وپوښتل:

ـ د جگړې په اړه د تورات نظر څه دی؟

يهودي غاړه تازه کړه:

ـ تورات د دښمنانو په اړه پرېکنده دريځ لري. دا چې په دښمنانو زړه سوی و نه کړو؛ د دښمنانو ښځې، زاړه او ماشومان د رحم وړ نه دي.

محمود او تسنیم په حیرانو سترګو ټلوېزیون ته کتل، په څېرو کې یې ناهیلي پرته وه.

خبریال بیا ترې وپوښتل:

- ایا ماشومان ګناه نه لري؟

یهودي عالم د خبریال په سترګو کې سترګې خښې کړې. د ټندې ګونځې یې ژورې شوې، مېز یې په سوک وواهه، له خولې یې ناره پورته شوه:

- نه، هېڅ کله نه!

وریسې یې وویل:

- د نن ورځې ماشومان، د سبا ورځې خوانان دي. موږ ته د تورات دریځ مهم دی، چې په زاړه او ماشوم رحم ونشي؛ ټول باید تر تېغ تېر کړو.

تسنیم د فرحان په سر لاس کش کړ، له سپین مخ یې سترګې نه لرې کېدې، داسې یې ورته کتل لکه په لومړي ځل چې ماشوم ویني.

د بل یهودي څېره ښکاره شوه، خبریال ته یې په کړس ـ کړس خندل:

- د غزې له نویو وبجاړیو پرته د شپې خوب نه راځي!

محمود سترګې پټې کړې، سر یې وځړېد، بیا یې ټلوېزیون ته وکتل. یوه سپین ږیری یهودي په دېوال ټېده لګولې وه، تر څنګ یې یو ځوان ولاړ و، پنډ کتاب یې تر کوت نیولی و.

یوه چا ترې وپوښتل:

- یهودیان څوک دي؟

سړي له دېوال ټېده لرې کړه، څو ګامه مخکې لاړ، د پړسېدلو سترګو سپین یې سره وو:

ـ يهوديان؟

ـ هو، يهوديان؟

ـ يهوديان اصيل خلک دي. نور خره دي، زموږ خدمت ته پيدا شوي.

محمود سر وخوځاوه، د ريموټ په بټن يې ګوته کېښوده. د ټلوېزيون په سکرين توره پرده راغله. اوږد وغځېد.

محيا له کتاب سر پورته کړ:

ـ مورې! نن مو د صلاح الدين ايوبي په اړه درس درلود.

تسنيم سترګې ور واړولې:

ـ لورې که نن صلاح الدين ژوندی وی، په همځولو به دې خاورې ته انبارېدې. هغه په توره قدس ازاد کړ، خو په مهربانۍ او حکمت يې زړونه وګټل.

شېبه په کوټه کې چوپتيا خوره شوه، ورپسې يې وويل:

ـ دښمنانو يې غوښتل چې نوم يې ورک کړي، خو نوم يې په زړونو کې تلپاتې شو. داسې عدالت غوښتونکی و، چې د دښمنانو خولې يې په ستاينه سترې وې. د مصر، سورېې، حجاز او يمن پاشل شوي مسلمانان يې له سره په يوه تغر کېنول.

تسنيم له پيالې غوړپ وکړ، په ستوني کې يې د نعناع يخ خوند حس کړ، ورپسې يې وويل:

ـ د دنيا سرو او سپينو ته يې سر ټيټ نه کړ. ساده ژوند يې درلود، په ۱۱۹۳ کال کې ومړ، له مرګ وروسته شخصي پانګه نه وه ترې پاتې.

تسنيم خبرې ته خوله جوړوله، چې محيا وويل:

ـ کاش نه وی مړ.

تسنیم فکر په مخه کړه، له ځان سره یې وویل: آه! د تورې او حکمت اتله، لا دې تشه ډکه نه شوه.

فرحان د محیا کتاب ته وکتل، یوه سرې توره په لاس کې نیولې وه، په سپین آس سپور و، د بیت المقدس ګنبدې ته یې کتل.

سترګې یې له کتاب واړولې:

ـ پلاره توره راته جوړه کړه، غواړم صلاح الدین شم.

محمود کېناست، څېره یې وغوړېده، نږدې وځنېد، د فرحان په سر یې لاس کش کړ:

ـ سهار یې درته جوړوم.

محیا وویل:

ـ آس به له کومه کړې؟

فرحان وویل:

ـ نه یې غواړم، له آس وېرېږم.

محمود زړې راډیو ته لاس ور اوږد کړ، بټن یې وښوروله، خبریال په وېرېدلي غږ وویل: د اسراییلو لومړي وزیر ویلي، چې دا ځل ټوله غزه په کنډواله بدلوم.

راډیو یې بنده کړه، ژوره خاموشي په کوټه کې خوره شوه.

د فرحان څېره خوبولې وه، ورو یې وویل:

ـ خوب راځي.

شپه وروسته د څوارلسم سپوږمۍ رڼا د غالۍ په ځنډو ولوېده. چوپه چوپتیا وه، یوازې د جرس غږ په انګړ کې انګازې کولې.

❊❊❊

محیا د توت سیورې ته ناسته وه، څنګ ته یې وچه میوه ایښې وه، له پیالې یې اوږده تاوونه پورته کېدل. د کتابچې پاڼه یې واړوله، پنسل یې را واخیست، د رسم په کاږلو یې پیل وکړ.

فرحان د لرګي توره په لاس کې نیولې وه، په کوڅه کې یې له هلکانو سره لوبې کولې. یوه هلک پوقانه ډډوله، فرحان د تورې څوکه پوقانې ته سیخه کړه، پوقانه وچاودېده، ژېړ پلاستیک د هلک په شونډو وخړېد.

فرحان په بېړه انګړ ته منډه کړه، په زوره یې وویل:

ـ صلاح الدین یم.

محیا وخندل:

ـ د صلاح الدین توره کره نه وه.

فرحان غاښونه وچیچل:

تاته خو زور درکوي!

محیا رسم شوې پیشو ته وکتل، لکۍ یې تر تنې اوږده وه. پنسل پاک یې د پیشو په لکۍ تېر کړ، ورو یې له ځان سره وویل:

ـ پیشو او دومره اوږده لکۍ!

دروازه خلاصه شوه. یوې نجلۍ د محیا خواته واړه ـ واړه ګامونه اخیستل، غلې ودرېده، له شا یې د محیا په سترګو لاسونه کېښودل.

محیا په غوسه وویل:

ـ فرحانه رسم ته مې پرېږده!

فرحان د توت له شا غږ وکړ:

ـ زه نه یم.

نجلۍ د محیا له سترګو لاسونه لرې کړل، محیا ور وکتل، ټینګه یې په غېږ کې ونیوه:

ـ لیان ته!

لیان د محیا تر څنګ کېناسته. د کتابچې پاڼه یې واړوله، اوږدې شنې لیکې یې تر سترګو شوې:

ـ دا څه دي؟

ـ د اوبو شړشړه.

لیان وخندل، بیا یې کرښو ته وکتل:

ـ خان یونس کې کله شړشړه شته.

محیا موسکه شوه، سپینو غاښونو یې خلا وکړه:

ـ یوه ورخ به پیدا شي!

فرحان د لرګي په توره د توت ډډه ووهله. محیا کتابچه وتړله، له لیان یې وپوښتل:

ـ خپه یې؟

لیان ټنډه وګروله:

مور مې ویل چې له دې ځایه خو.

ـ ولې؟

ـ ځکه ټول ځایونه ورانېږي.

لیان فکرونو په مخه کړه، محیا یې پر اوږه لاس کېښود:

ـ په مور څه نه کېږي.

ـ که لاړ شو په تولګیوالو پسې خپه کېږم.

محیا او لیان خبرې کولې، چې محمود له کړکۍ سر بهر کړ:

ـ اوو لیان لورې.

د لیان څېره وغوړېده:

ـ محمود کاکا څه وخت راغلی؟

ـ دوې ورځې مخکې.

جوړه کوټې ته لاړې. فرحان د لرګي کوچنۍ توره په اوږه کېښوده، په بېړه په دوی پسې ورغی. محمود له ځایه را پورته شو، لیان یې ټینګه په غېږ کې ونیوه. په یوه او بل خوا یې ښکل کړه.

غږ یې وکړ:

ـ تسنیم هغه کتاب.

تسنیم په وړه کې ودرېده، د لیان په سر یې لاس کش کړ.

محمود کتاب ورته ونیو:

ـ لورې دا هم ستا ډالۍ!

لیان د کتاب سرلیک ته وکتل، لاسونه یې خولې ته ونیول، په موسکو شونډو یې وویل:

ـ د هیلو او اختر کیسه.

***

بربښنا پرې وه. د سپوږمۍ رڼا ته کتار خلک ښکارېدل، نامعلوم ځای ته تلل. محمود له کړکۍ ورکتل، فکرونو په مخه کړی و.

ناڅاپه درز شو، انګړ ولړزېد. ښيښې له وسپنيز چوکاټه بېلې شوې. يوه ټوټه د محمود سر ته سيخه شوه، اخ يې کړل. نورې ټوټې په غالۍ ولوېدې.

محمود سر ته لاس يووړ، په وينو سور شو. تودې وينې يې په مخ وبهېدې. لاسونه يې په دېوال تکيه کړل، چيغه يې کړه:

- ژر ووځئ!

تسنيم او فرحان له کوټې ووتل. محيا د ټومبل شوي مخ په څېر ناسته وه، سترګې يې د پلار له وينې لړلي مخ نه لرې کولې.

محمود له پردې جنده پرې کړه، په لړزېدلو لاسونو يې سر وتاړه، په شبېه کې جنده تر نيمايي په وينو سره شوه. مخکې لاړ، د مېز له سر يې دستمال ور پورته کړ، په اوږه يې واچاوه.

محيا ته يې اشاره وکړه:

ـ هله ژر کوه.

محيا لاسي څراغ ته په بېړه رنګې ټولې کړې، په پلاستيکي کڅوړه کې يې واچولې. کتابچه يې په لاس کې ونيوه، په پلار پسې يې روانه شوه.

ټول له انګړه ووتل. په کوڅه کې خلکو منډې وهلې. الوتکې په کړسنده غږ دوره وکړه. وړاندې يوه ودانۍ چپه شوه، د خاورو او ښښتو غږ په توره شپه کې شور جوړ کړ.

خلک ځای په ځای ودرېدل، زړونه يې په سينو کې درېدل. د ماشومانو چيغې د دېوالونو له رالوېدو سره ګډې وې. فرحان ژړل، تسنيم يې سترګو ته لاس ونيو، ورغوی

یې د فرحان په اوښکو لوند شو. محیا یوازې محمود ته کتل، لړزېدلي گامونه یې پسې اخیستل.

سیمه کې د باردو بوی خور شو. ټول مخ کښته روان شول، څه یې نه ویل. محمود شاته وکتل، سترگو ته یې د څراغ تته رڼا نبغه شوه. شپېه ودرېده، بیا یې حرکت وکړ.

تسنیم وویل:

ـ چېرته ځو؟

ـ پنډغالي ته.

فرحان یې د مور لاس وخوځاوه:

ـ ستړی شوم.

محمود نږدې ورغی، غېږ کې یې ونیو. گام په گام مخکې روان و. فرحان یې پر اوږه سر ایښی و، د کور خواته یې کتل، خو نه پوهېده چې کوم یو یې کور دی، له سیمې تور لوگي چاپېر وو.

فرحان وویل:

ـ کورته ځو؟

محمود سینې ته ټینگ ونیو، په غریو کې یې وویل:

ـ نوي کور ته ځو.

د فرحان له خولې ساه ووته، نرمه تودخه د محمود په غوږ ولگېده:

ـ څه وخت رسېږو؟

ـ نږدې یو.

***

د لرګي په ستنه څراغ را ځوړند و. يوه سپين ږيري په تور دېګ کې ځمڅه وهله. محيا د ګنو ماشومانو کتار تر سترګو تېر کړ، سپين ږيري ته يې لوښي خوځول. وړاندې لاړه، د رسم کتابچه يې ټينګه په سينه پورې ونيوه، په بل لاس کې يې کڅوړه لړزېده.

دربيو واړو د دېوال رالوېدلې ټوټې ته ډډه ووهله. تسنيم له محيا او فرحان داسې لاسونه تاو کړل، لکه مرغۍ چې په خپلو بچونو د مهربانۍ وزر غوړلی وي.

شپه وروسته محمود راغی. لاسونه يې لړزېدل، له سر يې سپينه جنډه تاو وه.

تسنيم له خايه را پورته شوه:

- وينه يې ودرېده؟

- هو!

فرحان په وچو شونډو ژبه تېره کړه:

- تږی يم!

محمود يوې او بلې خواته وکتل، وړاندې د رالوېدلي دېوال په سينه کوچنۍ بوشکه پرته وه. يوه سپين ږيري د لاس په اشاره د اوبو ذخيره ور وښوده.

محمود مخکې لاړ. د پلاستکي ذخيرې سر يې پورته کړ، د موبايل څراغ يې ولګاوه، اوبه نه وې. بلې ذخيرې ته ورغی، سرپوښ يې لرې کړ، بوشکه يې ور ټيټه کړه، تر نيمايي ډکه شوه.

فرحان د محمود په ليدو ګړندي ګامونه پورته کړل. بوشکه يې د پلار له مړو ګوتو بېله کړه، په سر يې واړوله، ټتر يې په اوبو لوند شو.

يو موټر په تېزۍ د محمود له څنګ تېر شو، له ټايرو يې سپېرې دوړې پورته شوې،

وړاندې ودرېد.

یو ځوان له موټره را کښته شو، د دستمال ځنډه یې په مخ تېره کړه:

ـ هله راشئ!

محمود په بېړه ورغی. د موټر په ډاله یې سترګې ولګېدې، څو ماشومان پکې پراته وو.

زړه یې ولړزېد. د یوې نجلۍ تر وینې لړلي سر یې لاس لاندې کړ، ورو یې غېږې ته پورته کړه.

مخ ته یې وکتل، لیان وه.

رنګ یې سور شو. شونډې یې وچیچلې، ساه یې بنده کړه، په زړه یې داسې څیرکې راغلې لکه ستنې چې پرې ټومبل شوې وي.

سر یې اسمان ته پورته کړ:

ـ اوو خدایه!

ورو له موټره لرې شو. لیان یې ټینګه په سینه پورې ونیوه، یوازې خپلې سلګۍ یې اورېدې.

څلور کسه په چټکۍ تېر شول، د ماشومانو جسدونه یې په ځمکه کېښودل.

محمود هماسې ولاړ و. د موټر د څراغونو ژېړه رڼا د لیان په مخ لګېده. ټیټ شو، په ټنډه یې ښکل کړه، تروش او وسپنیز خوند یې په خوله ننوت.

له ځان سره یې وویل: نور یې هغه پخوانی خوند نشته.

لاسونه یې درانه شول، مخکې لاړ. د لیان جسد یې ځمکې ته ټیټ کړ، بېرته یې په لړزانده لاسونو را پورته کړ. ښه یې ورته وکتل، اوښکې یې له سترګو ولغړېدې، د نجلۍ په سوي ټټر کې ورکې شوې.

***

هوا خړه وه. د سپکو او درنو وسلو ډزې اورېدل کېدې. ماشومان په خاورو کې اړخ په اړخ اوښتل، خوب یې له سترګو تښتېدلی و.

یوازې فرحان ویده و، لنډه ـ لنډه ساه یې اخیسته. تر څنګ یې یوه هلک وتوخل، محیا سر جګ کړ، هلک ته یې وکتل، بېرته په خپل ځای اوږده وغځېده. کڅوړه یې په تټر پورې ټینګه ونیوه.

محمود په خړو خاورو کې ناست و، ختیځ ته یې کتل، رڼا ورو ـ ورو د تیارې پردې څیرلې.

په فکرونو کې ډوب و، چې د اذان غږ یې تر غوږ شو. موذن په ژړغوني غږ اذان کاوه.

وړاندې لاړ. سترګې یې د پنډغالي په کوچنۍ کوټه ولګېدې، دروازه یې نیم کښه وه. یوه سپین ږیري د قرانکریم تلاوت کاوه، څنګ ته یې ماشومان ویده وو. سترګې یې لمدې وې، د قرانکریم توري تت ورته ښکارېدل.

***

د ماشومانو په تنډو مړه خوله راماته وه، لاس کې یې لوښي وو، د دېګ خواته یې منډې وهلې.

محیا رنګې شمېرلې، په څېره یې غوسه پرېوته، د فرحان خواته ورغله، په څنګل یې وچیچ:

ـ زما دوې رنګې څه شوې؟

فرحان په ژړغوني غږ ځواب ورکړ:

ـ ما نه دي لیدلې.

د محیا تنده تروه شوه:

ـ مخکې دې هم په غاښونو تومبلې وې.

فرحان په منډه تسنیم ته ورغی، له لرې یې محیا ته گوته ونیوه. شپبه وروسته د محیا له سترگو د دواړو خبرې ورکې شوې. خلکو هرې خواته منډې وهلې.

یوازې یوه خبره خوله په خوله کېده:

ـ په پنډغالي بمبار کېږي!

محمود په بېړه محیا ته راغی، په لړزانده غږ یې وپوښتل:

ـ مور او ورور دې؟

محیا مخامخ گوته ونیوه. دواړه لاړل، تسنیم او فرحان په خپلو ځایونو ناست وو.

سیمې ته ځو موټر په تېزۍ ننوتل. محمود د یوه سړي څنگ ته ورغی، لکه ژبون یې چې وهل شوی وي:

ـ څه، څه دي؟

سړي په بېړه وویل:

ـ ژر باید ماشومان له پنډغالي وباسو.

محمود په ساه نیولي غږ وویل:

ـ زه خپل ماشوم یوازې نه پرېږدم.

د سړي تنده تروه شوه:

ـ اوس د دې خبرو ځای نه دی.

محیا او فرحان یې د پلار لاسونه ټینگ نیولي ول. یوه خوان، محیا له مټ ونیوه، په

سختي يې د پلار ګوتې خوشې کړې.

بل ځوان فرحان غبرګې ته پورته کړ، له پلار يې لاس بېل شو. د محمود ګوتې په هوا کې وازې پاتې شوې. زړه يې داسې څيرکه وکړه، لکه په قيچي چې غوښې ترې پرې کوي.

فرحان د سړي اوږې ته سوک نيولی و، ژړا يې په ګنه ـ ګوڼه کې نه اورېدل کېده.

موټر روان شو. فرحان د موټر ښيښې ته څېرې نيولې وې. محيا يې مور او پلار ته کتل. موټر کږندی شو، له شا سپېرې دوړې وريسې پورته شوې.

د ډزو غږونه سيمې ته نږدې شول. محمود شېبه ودرېد، بيا يې حرکت وکړ. لوږه ونه يې د خلکو په منځ کې له ورايه ښکارېده، خو اوږې يې کړوپې وې، لکه د زمانې ټول بار چې وړي.

موټرو د خاورو او دوړو په منځ کې ګړندی مزل کاوه. د محمود او تسنیم خبرې د محیا له سترګو په پناه کېدو وې، لکه د لمر وروستی وړانګې چې د وربځو تر شا پټېږي. د ماشومانو چیغې او ژړا نه کرارېده، مور او پلار یې غوښتل.

محیا له کڅوړې کتابچه را وویسته، پاڼې یې واړولې، په یوه پاڼه څلور کسه رسم شوي وو. د دوو په څېرو یې ګوتې کش کړې. ژوره ساه یې واخیسته، داسې ښکارېده لکه ټولې هیلې یې چې په همدو څېرو تړلې وي.

موټر ودرېد، دوړې کېناستې. ډله ماشومان د بې خالو مرغانو په څېر له موټرو کښته شول. د پنډغالي خنډو ته لاړل، په کتار کېږدیو کې ورک شول.

***

محیا د لمر سترګې ته کتل، له دښتې هسکه ولاړه وه. څنګ ته یې فرحان ناست و. د دواړو په لاسونو کې وچه ډوډۍ وه، څېرې یې په دوړو سپېرې وې.

يو سړی راغی، محيا له ځايه را پورته شوه.

سړي وويل:

ـ خپلې کېږدۍ ته لاړه شه.

محيا په کرکه ورته وکتل:

ـ پرته له مور او پلار نه ځو.

سړی چوپه خوله لاړ.

❁❁❁

د کېږديو ځراغونه ولګېدل. د محيا زړه کې د ويرې ځپې تېرې شوې. له فرحان يې لاس تاو کړ.

د کېږدۍ په خوله کې غلي کېناستل. فرحان يې پر اوږه سر کېښود، وړه ساه يې د محيا په زړه د غبشي په څېر لګېده. ټول بدن يې له وېرې لړزې کولې.

فرحان په وچه خوله وويل:

ـ مور او پلار به کله راځي؟

محيا د فرحان په مخ لاس تېر کړ:

ـ راځي.

فرحان د محيا له اوږې سر پورته کړ:

ـ که رانشي؟

محيا غريو واخيسته، رڼې اوښکې يې په سپېره مخ ولغړېدې. ژړا يې زور واخيست.

شپه وروسته د ځنګ له کېږدۍ د ماشومانو ژړا لوړه شوه؛ د غمجنې موسيقۍ په څېر

په غوږونو ترخه لګېده.

شپه تر نیمایي تېره وه. د کبږدیو څراغونه مړه وو. د ماشومان ژړا نه اورېدل کېده. یوازې محیا سلګۍ کولې، د خوب درانه ټال زنګوله.

***

د لمر ژېړې وړانګې په سپینو او خړو کبږدیو ولګېدې. انګړ کې د اوبو خالي بوشکې پرتې وې. محیا د فرحان په غږ راویښه شوه، د سترګو سپین یې سره ځلېدل.

له ځایه سمه نه وه را پورته شوې، چې فرحان د ګنو خلکو خواته منډه کړه. محیا په فرحان پسې وکتل، له هر ګام سره یې د زړه درزا تېزېده.

ناڅاپه یوه ښځه کبږدۍ ته ننوته. د محیا مخې ته یې وچه ډوډۍ کېښوده. محیا په حیرانو سترګو د ډوډۍ سویو خالو ته کتل، لکه په هر خال چې د زمانې توره خوله ښنبه وي.

ډوډۍ یې ور واخیسته، په فرحان پسې ورغله. د لویانو په خبرو کې یې سترګې ښنې کړې، پلار او مور یې نه وو.

دواړه په پروني ځای کېناستل. محیا د کتابچې پاڼه واړوله، د پلار او مور رسم شوې څېرې ته یې وکتل. سترګې یې پټې کړې، پاڼه یې جوخته په سینه پورې ونیوه.

له لرې دوړه ښکاره شوه. ورو ـ ورو نږدې کېده. فرحان، محیا وښوروله، د دوړې خواته ته یې ګوته ونیوه. د محیا څېره وغوړېده، فرحان یې له لاس ونیو، په سختۍ یې د ماشومانو په ګڼه ـ ګوڼه کې لار وایسته. له موټره څو کسه کښته شول، مخونه یې په دوړو سپېره وو.

محیا د هر یوه څېره تر سترګو تېره کړه. د فرحان په اوږه یې لاس کېښود، ناهیلې د کبږدۍ خواته روانه شوه.

***

سیمه د خاموشۍ غېږې ته ورلوېدلې وه. یو سړی او ښځه په کېږدیو گرځېدل، د محیا نوم یې اخیست.

محیا غوږونه څک کړل، خپل نوم یې واورېد، بېرته یې سر وخوږېد، لکه خوب چې ویني. د ښځې او سړي سیوري د کېږدۍ شاته ښکاره شول، ورو - ورو غځېدل. محیا له فرحان لاسونه تاو کړل، دواړه له وېرې د مني د پاڼې په څېر لړزې اخیستي وو.

سړی د کېږدۍ مخې ته نږدې شو، بیا یې نوم واخیست:

- محیا!

غږ د برېښنا په څېر د محیا په زړه ننوت.

د څراغ رڼا ته یې سړی ولید، د کېږدۍ په خوله کې حیران ودرېد. څنگ ته یې یوه ښځه ولاړه وه. د دواړو څېرې په دوړو سپېرې وې، یوازې د سترگو سپین یې ښکارېدل.

محیا د فرحان تر مخ ودرېده. شېبه وروسته یې د زړه له تله کوکه ووته:

- پلاره، مورې!

محیا او فرحان جوړه ورمنډې کړل، زړونه یې په سینو کې د بندي مرغۍ په څېر درېبدل. د پلار غېږې ته یې ورغلل، واړه لاسونه یې ټینگ ترې چاپېر ول.

شېبه وروسته یې د مور لړزانده لاسونه له بدنونو تاو شول. د مور غېږې یې د خاورین زاړه دېوال په څېر بوی ورکاوه، خو له دې بوی یې خوند اخیست.

تسنیم، محیا او فرحان ته وکتل، د لمر وهلي گل په څېر مړاوي ښکارېدل. بیا یې غېږې ته جوخت ونیول.

***

د سهار لمر د نابللي مېلمه په څېر کېږدۍ ته سر ننکاره کړ. د محيا په مخ ولګېد. سترګې يې نيم کنبې کړې، لکه ژېړو وړانګو يې چې نيم خوب تښتولی وي.

موسکه شوه، په زړه کې يې د سکون څپې تېرې شوې. لاس يې په څمکه تکيه کړ، نېغه کېناسته. ببر وېښتان يې په سترګو را وخړېدل.

د محمود غږ د کېږدۍ له څنډې لوړ شو:

- وېښ شوې؟

محيا سترګې ور واړولې، د محمود په شونډو موسکا پرته وه. شپه ناسته وه، خوب زنګوله. نرمه ووته، سهارني باد د کېږديو جنډې رپولې.

****

فرحان د وچې ډوډۍ يوه ټوټه په لاس کې وڅرخوله، ورو يې خولې ته کړه، وړه ژامه يې په سختۍ خوځېده. د محمود په شونډو د ناهيلۍ موسکا پرېوته. د وچې ډوډۍ خپله برخه يې نيمه کړه، د فرحان مخې ته يې کېښوده. بله برخه يې محيا ته ورکړه.

محمود له کېږدۍ ووت. وړاندې لاړ، څو تنه سپين ږيري په خبرو لګيا وو، د يوه سړي خبره يې تر غوږ شوه:

- په مرستندويو ټولنو يې بنديز لګولی، مرستې نه راپرېږدي.

محمود ځای په ځای ودرېد. د خپلې کورنۍ څېرې يې په ذهن کې تېرې شوې. رنګ يې سور واوښت، ټول بدن يې ګرم شو، نرۍ خوله په تنده راماته شوه.

له ځان سره يې وويل: له جګرې دلته راغلو، له لوږې به چېرته ځو؟

يوه سپين ږيري غږ وکړ:

ـ ای وړونو! ماشومان او ښځې د لورې زور نه لري. پنډغالي کې وچه ډوډۍ په خلاصېدو ده. نن به وي، سبا به نه وي.

سپین ږیري څو گامه واخیستل، په ټنډه یې لاس تېر کړ:

ـ بل پنډغالي ته مرسته راغلې. دلته موټر بند دي، څو کسه باید ورشي.

دوو ځوانانو په یوه خوله وویل:

ـ موږ ځو.

سپین ږیري وویل:

ـ د دوو کسو کار نه دی. لاره اوږده او له خطره ډکه ده.

شپه وروسته لس تنه د سپین ږیري مخې ته ودرېدل، په منځ کې یې محمود و. د پنډغالي په څنډه کې درې موټر ولاړ وو، ټول ورغلل، یوازې محمود د کېږدۍ خواته واړه ـ واړه گامونه اخیستل.

د کېږدۍ په خوله کې یې تسنیم ولیده، ناهیلې ښکارېده، فکرونو په مخه کړې وه.

د محمود په غږ یې جټکه وخوړه:

ـ زه ځم.

تسنیم په حیرانو سترگو ور وکتل:

ـ چېرته؟

ـ له بل پنډغالي مرسته راوړو.

ـ نور خي، تاته اړتیا نشته.

محمود سوړ اسویلی واېست:

ـ دې پنډغالي کې تاسو هم یاست. یوه اوونۍ تېره شوه، ونه توانېدم چې کور ته لاړ شم. که د کور خواته ولاړ و، یو څه به را واخلم.

د تسنیم تنده ګونځې شوه:

ـ فکر کوې دې بمباریو کې به کور روغ پاتې وي؟

شبه د دواړو په منځ کې ژوره چوپتیا خوره شوه، ورپسې محمود وویل:

ـ د فرحان او محیا لوړې څبرې نورې نشم لیدی.

ـ محموده! محیا او فرحان یې چې دلته راوستل، هغه شبه په یاد کړه. ګولۍ مو له سر تېرې شوې. بمونه په څمکه ولوېدل. معجزه وه، چې ژوندي را ورګرځېدو او بېرته مو پیدا کړل.

ـ اوس چېرته؟

تسنیم یوې لویې کېږدۍ ته اشاره وکړه. محیا او فرحان د پټ پټوني لوبه کوله.

محمود موسک شو:

ـ څه نه کېږي، په دوی پام کوه!

❁❁❁

موټر ګرېندی روان و. د ډرېور څنګ ته محمود ناست و. دواړو څه نه ویل، سترګې یې د لارې په کړلېچونو کې ګنډلې وې. محمود ته لاره اوږده شوه، هر شبېه یې د کورنۍ څېرې سترګو ته درېدې.

موټر ودرېد. دواړه کښته شول. د ودانۍ په رالوېدلو خاورو یې مخونه سپېره کړل.

محمود کتار خلکو ته وکتل، په خاورو کې یې جنډې هوارې کړې وې. څلورو خواو ته د ودانیو ټوټې پرتې وې، په منځ کې یې د جومات هسکه مناره ښکارېده.

محمود منارې ته وکتل، سترګې یې پټې کړې، له ځان سره یې وویل: لا د یهودو سرکشۍ ته په ځمکه نه ده پرېوتې!

یو سړی له نورو مخکې شو، غبرګ لاسونه یې غوږونو ته اوچت کړل:

ـ الله اکبر!

شپېه وروسته یې ښي او کیڼ لوري ته مخونه وګرځول. یو سړی د کتار خلکو په منځ کې ودرېد، غاړه یې تازه کړه:

ـ زبرخواکونو د اسراییلو ملا تړلې، خو اسلامي هېوادونو په رڼه میدان یهودو ته خوشې کړي یوو. هو، یهودو ته! چې د لبوانو په څېر یې ژامې د ماشومانو، ښځو او سپین ږیرو په وینو او هډوکو سرې دي.

سړي مخکې قدمونه واخیستل. امام خپل ځای پرېښود، څنګ ته ودرېد. سړي د امام په ځای لړزانده ګامونه کېښودل:

ـ نړۍ ړنده شوې، د اسراییلو وحشت نه ویني، لا هم مظلومان ورته برېښي.

وریښې یې په کنډواله کې هسکې منارې ته ګوته ونیوه:

ـ د قیامت په ورځ به همدا مناره زموږ د مظلومیت او د یهودو د وحشت شاهده وي... د هغو اسلامي خاورو واکمنان، چې د مرستې تمه ترې کېږي او مرسته نه کوي، مخونه به یې داسې تور وي لکه د دېوال هغه را لوېدلې ټوټه چې په باردو توره ده.

د خلکو کتارونه ړنګ شول، هري خواته ولاړل. محمود او ډرېور جوړه موټر ته وختل. موټر حرکت وکړ. ډرېور خوله خلاصه کړه:

ـ نوم دې؟

ـ محمود.

ـ د کومې سیمې یې؟

ـ د خان یونس.

ـ څه دنده لرې؟

د محمود څېره موسکا وغوړوله:

ـ اوس خو یوه دنده لرو، باید مرسته راوړو.

ډربور وخندل:

ـ نه، نه، مخکې دې څه دنده وه؟

د محمود تنده گونځې شوه:

ـ د راډیو انجنیر وم.

***

موټر یوې سیمې ته ورسېد. یو سړی په خاورو او لوټو کې ولاړ و، په ژړغوني غږ یې سپېرو خاورو ته خبرې کولې:

ـ ولې مو یوازې پرېښودم، بې تاسو ژوند، نه ژوند.

محمود ډربور ته وویل:

ـ موټر ودروه.

محمود نږدې ورغی، د سړي په لاندیني شونډه وینه پیکه ښکارېده. انبار لوټې یې په لاسونو یوې او بلې خواته اړولې، په مخ پرته خاوره یې اوښکو لمده کړې وه.

محمود وپوښتل:

ـ څوک لټوې؟

سرې په ژړغونې غږ ځواب ورکړ:

ـ خپل څلور زامن.

محمود ځای پر ځای ودرېد، پښو یې نوره یاري نه ورسره کوله. سرې به چې هر ځل خاورې اړولې، د ده په زړه به داسې ځېړکه راغله، لکه په لپه کې چې اغزي ټولوي.

د سرې ژړا لوړه شوه. محمود جټکه وخوړه، په خاورو یې سترګې ولګېدې، کوچنی لاس ترې راوتلی و.

***

د موټر ټایرونه کړندې څرخېدل. هر لوټه به چې تر ټایر لاندې شوه، غږ یې د مات زړه په څېر د محمود په بدن لړزه راوسته.

شېبه وروسته موټر بلې سیمې ته ورسېد، محمود نمناکې سترګې ډربور ته ور واړولې:

ـ لږ تم شه، دا زموږ سیمه ده.

پنډ ـ پنډ وربځې د خان یونس په اسمان کې باد ځغلولې. محمود سیمې ته په ځیر وکتل، یوازې د ودانیو انبار ټوټې پرتې وې. د یوې نیمه وېجاړې ودانۍ بام ته پورته شو، سترګې یې په یوه بله ودانۍ ولګېدې، تر نیمایي وېجاړه وه. یوازې یوه وسپنیزه ستنه یې سترګو ته نېغه ـ نېغه کېده.

په خواشیني غږ یې وویل:

ـ آه، راډیو!

بل اړخ ته یې وکتل، سیمه د نړۍ پای ورته ښکاره شوه. په مغزو یې فشار راوړ، خپل کور یې د کنډوالو په منځ کې پیدا نه کړ. په زړه کې یې وویل: هرڅه دومره ژر!

باد ولګېد، محمود سترګې پټې کړې. د سویې خاورې بوی تېرې زمانې ته یووړ؛ له

پسرلني باران وروسته سهار. فرحان په لوڅو پښو په مخیا پسې منډې وهلې، د پښو خاپونه یې چمن په خپله غېږه کې نغاړل. د تازه چمن او نمجنې خاورې بوی په هوا کې خور و. د ماشومانو خندا ګډه وه. لر د ودانیو ښیښې خلولې، سپین او ژېړ یاسمني ګلان پسرلني باد ته نڅېدل. تسنیم د کتیبې پارک په څنډه کې ناسته وه، د قطایف[1] یوه ټوټه یې خولې ته کړه، د مدیترانې د سیند مستو څپو ته یې کتل.

محمود سترګې وغړولې، له خان سره یې وویل: تېر خواږه یادونه هم د زهرو په څېر په زړه لګېږي.

لاندې کندوالې ته بیا ځیر شو. د سړک په سر مازدا موټر روان و، درې د اوبو ذخیرې پکې بار وې، یوې او بلې خواته زنګېدې.

یوه هلک په موټر پسې منډې وهلې، بوشکه یې په لاس کې وه. د ذخیرې له پیپ نرۍ اوبه څڅېدې، هلک منډه تېزه کړه، په سختۍ یې د اوبو پیپ بوشکې ته ټیټ کړ، اوبه نه وې، پیپ یې خوشې کړ، خالي بوشکه یې له ګوتو ولوېده.

***

خلک د مرستو وېش ته ولاړ وو. محمود د موټر څوکۍ ته تکیه کړې وه، دواړه لاس یې تر سر لاندې نیولي وو. یوې نجلۍ ته یې کتل، په ډبره ناسته وه، بلې یې تر څنګ ګونډې وهلې وې، همځولې ښکارېدې. د نجلۍ په لاس کې وړه ډوډۍ وه، منځ کې یې مربا پرته وه. د ډوډۍ څنډه یې پرې کړه، څټ ـ مخ یې په مربا کش کړه، خپلې همځولې ته یې ونیوه. دواړو وخندل، داسې ښکارېدې لکه له وچې ډوډۍ او مربا چې د خوندورو خوړو په څېر خوند اخلي.

ډېرو ځلور بوتله غوړي، دوې بوجۍ اوړه او یوه بوجۍ نخود د موټر په ډاله کې واچول. موټر ته پورته شو، محمود ته یې وویل:

---

۱. یوه ډول عربي خوږې کولچې دي.

ـ خو، د پنډغالي ملګرو مخکې مرسته اخیستې.

ـ اوس چېرته؟

ـ تللي.

موټر مخ پورته روان شو، په ښیښه یې د لمر ژېړه رڼا پرته وه. محمود جېب ته لاس کړ، موبایل یې را وویست، ګل و.

ډرېور ته یې وویل:

ـ موبایل دې چارج لري؟

ډرېور حیرانه څېره ونیوه:

ـ هو، ولې؟

محمود وویل:

ـ دندې عادت کړی یم، خبرونه ګورم.

شېبه وروسته یې د ډرېور په موبایل کې یو صحنه سترګو ته ودرېده: دوې جنګي جېټ د مسافر وړونکې الوتکې څنګ ته جوخت روانې وې، بله مخکې وه، تېره څوکه یې هوا ته نېغه کړې وه. خبریال وویل:

ـ د سعودي اتل پیلوټان د دې هېواد له سټراټېژیک ملګري، ډونالډ ټرمپ هرکلی کوي.

د محمود څېره ګونځې شوه:

ـ وګوره، زموږ عرب وړونه جنګي الوتکې د داسې چا ساتنې ته پورته کوي، چې څو ورځې مخکې یې اسراییلو ته د ملاتړ ټهر ډباوه.

ډرېور څه و نه ویل، یوازې ټنډه یې تروه شوه. محمود د موبایل په سکرین ګوته کش کړه، بله وډیو راغله: ډونالډ ټرمپ د امارتو له یوه شیخ سره روان و. دواړو خواو ته یې

کتار نجونې ولاړې وې، تر ملا به کړوپې شوې، اوږده وېښتان به یې یوې او بلې خواته تخول. شاته یې ځوانان ولاړ وو، په هوا کې یې تورې خوځولې، خینو له چمبې سره سندره ویله.

موټر هارن وکړ، په بېړه ودرېد. د محمود له لاس موبایل ولوېد. د پاخه انګړ په منځ کې له کوچنیانو سپینې توتې تاو وې. یوه سړي د یوه کوچني تر سر لاس لاندې کړ، په سینه یې د ګلاب لښته پرته وه، په حیرانو سترګو یې ورته کتل.

د ماشومانو شمېر نه کېده، هرې خواته بې شمېره په سپینو جنډو کې پراته ول، له لرې داسې ښکارېدل لکه واوره چې اورېدلې وي.

***

موټر ګړندی روان و، په سیمه کې وبجاړي نه تر سترګو کېده. خلک په کوځو کې ګرځېدل. د محمود ټنډه وغوړېده، ژوره ساه یې واخیسته. یوې تنګې کوځې ته ورسېدل، د لمر وړانګو د جومات ګنبده ژېړه ځلوله.

اذان یې واورېد، تر نمایي نه و رسېدلی چې کړس شو. ژېړه ګنبده په تور دود کې پټه شوه. خلکو منډه کړه. له یوې ښځې د خوړو ډکه کڅوړه ولوېده.

د موټر له نیم کښې ښیښې دود ننوت، محمود لاسونه پوزې ته ونیول، په ستوني کې یې تریخ خوند حس کړ.

موټر په تېزۍ له سیمې ووت، خامه سړک ته واوښت، له سینې یې مړه دوړه پورته کېده.

لمر ډوب شو، تیارې ورو- ورو په سیمه پنجې خښې کړې. د ودانیو ټوټې د ډله کارغانو په څېر تورې ښکارېدې.

د موټر څراغونه ولګېدل، وړاندې ښځینه جامې پرتې وې، باد هرې خواته وړلې. د محمود بدن لړزې واخیست، په مخ یې خولې بهېدې، ژامې یې داسې کړېدې لکه

یخ چې وهلی وي.

زورور غږ یې تر غوږ شو، لکه تندر چې را لوېدلی وي. سمیټي لوېدلي دېوال لمبه وکړه، د محمود غاښونه وبرېښېدل.

په زوره یې له ډرېور وپوښتل:

ـ څه دي؟

د ډرېور په ستوني کې لاړې بندې شوې:

ـ ته، تغوندی.

ځنګ ته یې بل درز شو. د محمود په غوږونو شرنګا ګډه شوه. موټر کوږ شو، ټایرونه یې د سیمټي دېوال سینې ته سیخ شول، په یوه اړخ ولوېد. د اوږو له بوجې سپېره دوړه پورته شوه.

❁❁❁

د پنډغالي څراغونو ته رڼا کوله. ژوره خاموشي د کېږدیو مېلمنه وه. فرحان د تسنیم لمن ونیوه:

ـ مورې ډوډۍ.

تسنیم په بېړه ووته. کېږدۍ په کېږدۍ ګرځېده، وچه ډوډۍ یې غوښته. یوه کېږدۍ کې ښځې په پټه خوله ژړل، ځنګ ته یې ماشوم پروت و، د پښو بټې ګوتې یې په توره جنده تړلې وې. د هلک ګرد مخ د څراغ سپینې رڼا ته ژېړ ځلېد.

تسنیم لړزې واخیسته، د ښځې ځنګ ته نږدې کېناسته. د کېږدۍ په کونج کې یې وچه ډوډۍ ولیده. یو ځل به یې ماشوم ته کتل، بیا به یې سترګې په ډوډۍ کې خښې کړې.

سر یې گرم شو، مغزو یې داسې سوی وکړ لکه اور چې پرې بل وي. څه یې نه ویل، د دواړو په مخ رڼې اوښکې بهېدې.

تسنیم له ډوډۍ سترگې نه اړولې، زړه ته یې د لړم په څېر نېشونه ورکول.

خبرې یې په خوله کې وچې وې. د فرحان څېره یې سترگو ته ودرېده، په زړه یې زور راوست، ډوډۍ ته یې اشاره وکړه.

ښځه له ځایه را پورته شوه. وچه ډوډۍ یې تسنیم ته ورکړه. تسنیم په ورغوي کې ونیوه، شبېه یې ورته وکتل، اوښکې یې د ډوډۍ په څنډه وڅڅېدې.

چوپه خوله لاړه. د ټکري په پیڅکه یې سترگې پاکې کړې. کېږدۍ ته ننوته، ډوډۍ یې فرحان ته ونیوه.

فرحان له ډوډۍ یوه ټوټه بېله کړه، ډکه ژامه یې وخوځېده:

ـ دا خو تروشه ده.

د تسنیم په زړه د زهرو په څېر ترخې اوبه واوښتې، چوپه خوله ناسته وه.

شبېه وروسته فرحان شوخي پیل کړه، د محیا څنگ ته نږدې ورغی. ژبه یې له خولې وابسته:

ـ ما رسم کړه.

محیا د کتابچې پاڼه واړوله، فرحان ته یې وکتل، موسکۍ شوه. د پنسل څوکه یې د پاڼې په منځ گرده کش کړه، دواړو خواو ته یې غوږونه رسم کړل، په منځ کې یې سترگې او پوزه وکاږل؛ خو ژبه له رسم شوې څېرې اوږده ښکارېده.

***

پنډغالي کې شور جوړ شو. خوانانو او سپين ږيرو هرې خواته منډې وهلې. تسنيم له کېږدۍ ووته، له يوې ښځې يې وپوښتل:

ـ څه شوي؟

د ښځې وچې شونډې ولړزېدې:

ـ دوه موټر راغلي، په وروستي حمله شوې.

تسنيم د کېږدۍ مخې ته بې موخې گرځېده. هره شېبه د کال په څېر پرې تېرده. له لرې د موټرو ژېړ څراغونه ښکاره شول، په زړه يې د هيلې څپه راغله، خو لنډه وه. بيا په سوچونو که ډوب شوه: که محمود مړ وي؟

زړه يې غوښتل موټرو ته ورمنډه کړي، خو پښې يې سستې وې. د موټرو څراغونه لا لرې ښکارېدل، په زړه کې يې له موټر چلوونکو کرکه وشوه: داسې روان دي، لکه ناوې چې وړي.

خپل فکر ته يې وخندل، خندا يې زور واخيست، مخ ته يې څپېړې ونيوې: په ما څه شوي؟

موټرو لنډه دوره وکړه. د پنډغالي په منځ کې ودرېدل. خلکو ورمنډه کړل. تسنيم هماسې ولاړه وه. پښې يې لړزېدې، له زړه يې سبکه ختلې وه، له ډاره مخکې نشواى تللى.

دوې ښځې د تسنيم له څنگ تېرې شوې، يوې وويل:

ـ موټرو کې يې شهيدان راوړي.

شېبه وروسته ولاړو خلکو په وينو لړلي کسان له موټرو کښته کړل، څنگ په څنگ يې په خمکه کېښودل.

تسنیم د خلکو منځ ته په سختۍ ورغله. داسې ښکارېده لکه څو ګامه مزل چې له پښو غورځولې وي. وچه ژبه یې په خوله کې وڅرخوله. د محمود نوم یې اخیست، غږ یې په ګنه ـ ګونه کې ورو لګېد. په زړه یې زور راوست، محمود پسې چیغې وهلې، ځواب یې نه اورېد.

کتار مړي یې تر سترګو تېر کړل. د هر مړي څېره به چې تابلده ورته ښکاره شوه، په زړه به یې د شکرونو باران اورېد، چې محمود یې منځ کې نه دی. خو دې حس خوند نه ورکاوه، ځان یې په ګناه کې لیده.

حیرانه ودرېده. لاسونه یې بې باکه لړزېدل. ناڅاپه پلاستیکي کڅوړه باد پورته کړه، تسنیم ورته کتل. کڅوړه بېرته په ځمکه ولوېده، په لغړېدو ـ لغړېدو د یوه کس په مخ ولګېده.

تسنیم نږدې ورغله. شېبه ورته خیر شوه. د سړي په مخ وینې کلکې وې، له خولې یې وېرونکې کوکه ووته:

ـ نه!

د خلکو سرونه ځړېدلي ول. د ګلنګونو تبرې څوکې یې وچې ځمکې ته نیولې وې، له ټنډو یې سرې خولې بهېدې. کله به د بېلچې څوکه شګو او ډبرو ته سیخه شوه، غږ یې د خلکو په مغزو د غومبسې په څېر نېش ښخاوه.

په یوه څنډه کې مړي په سپینو کفنونو کې پراته ول. ځینې کفنونه په اوبو لامده وو. د یوه مړي سترګې نه وې پټې، نیم مخ یې تور او شین اوښتی و، د مخ سرې غوښې یې په زوړ ټپ کې پیکه ښکارېدې. سر ته یې تسنیم او محیا ولاړې وې.

د تسنیم له سترګو رنې اوښکې روانې وې. محیا نه ژړل، یوازې د مړي څېرې ته یې کتل.

د باد نرمه څپه پورته شوه، کفنونه ولړزېدل. د مړو په څېرو سپېره دوړه پرېوته.

محیا د ټکري پیڅکه ټیټه کړه، د مړي په څېره یې تېروله. تسنیم یې لاس ونیو، بېرته نېغه په خپل ځای ودرېده.

شبه وروسته يې د قبرونو په خولو خاورې وشيندلې، د پاشلو غږ يې زړونه داسې ماتول لکه ډېره چې ښيښې ته سيخه شي. د خلکو لاسونه لړزېدل، د ځينو په سپېرو مخونو اوښکې روانې وې.

د يوه مړي د کفن څنډه د قبر له خولې ښکارېده، باد ښوروله؛ لکه په وروستي ځل چې تسنيم ته لاس ښوروي.

***

مور او لور کېږدۍ ته لاړې. تسنيم د محمود په ځای کېناسته، له سترګو يې اوښکې نه بهېدې، يوازې ترخې سلګۍ يې په غوږونو لګېدې. فرحان يې په غېږ راويښ شو، يوې او بلې ته يې حيرانې سترګې نيولې وې.

له ژورې چوپتيا وروسته فرحان خوله خلاصه کړه:

ـ مورې ولې ژاړې؟

ځواب يې وانه ورېد.

بيا يې وپوښتل:

ـ پلار به کله راځي؟

محيا ژړا واخيسته:

ـ پلار نور نه راځي.

د تسنيم له خولې کوکه ووته:

ـ بس کړه محيا، بس کړه!

محيا غبرګې پښې د کېږدۍ په زاړه فرش وخوځولې. پوندې يې په شېبه کې سرې واوښتې، ټکرى يې له سره ولوېد، په يوه خوله يې ويل:

- ولې دې پلار پرېښود؟ ولې دې اجازه ورکړه؟

د تسنیم په سترګو کې بیا اوښکې ډنډ شوې. کوکې یې له خولې ووتې. د فرحان ژړا هم ورسره ګډه شوه، نرۍ غږ یې د محیا او تسنیم په چیغو کې تېره لګېده.

شپه وروسته یې کوکې په مړو سلګیو بدلې شوې، له زړونو یې سبکه ختلې وه، یوازې په لمدو سترګو یې یوه او بل ته کتل. محیا له ځمکې تکری ور واخیست، په سر یې کش کړ.

تسنیم ته یې په کرکه وکتل:

- د پلار قاتلې، ته د پلار قاتله یې!

د تسنیم په زړه ژوره څپېړکه راغله، د پښو تلې یې تودې شوې، ورغویو یې نرۍ خوله وکړه. ساه یې بنده ـ بنده شوه. د سترګو لید یې په شپه کې کمزوری شو. د محیا او فرحان سپېرې څېرې تتې ورته ښکارېدې. په غوږونو یې شړنګا راغله، د فرحان سلګۍ یې نورې نه اورېدې. ځنګ ته کړه شوه، په کیڼ اړخ ولوېده، له سینې یې خرهاری خوت.

فرحان په چیغو شو:

- مورې، مورې!

محیا نږدې ورغله، سر یې سوی کاوه، په دواړو لاسونو یې د تسنیم مټ غوځوله:

- پورته شه مورې، خیر دی پورته شه!

اوښکې یې په مخ روانې وې، خینې ځاځکې یې په خوله ننوتل، تریو او تروش خوند یې حس کړ. له ځایه را پورته شوه، په تېزۍ بلې کېږدۍ ته ننوته. خبره یې په خوله کې وچه وه، لکه ګونګۍ چې وي. په سختۍ یې یوې ښځې ته وویل:

- مو، مور!

ښځې منډه واخیسته، د څنګ کېږدۍ ته ننوته. بیا ځلې را ووته، یوې او بلې خواته ته یې وکتل، په یوه کاسه کې اوبه پرتې وې، خاورو خړې کړې وې. کاسه یې په لاس کې پورته کړه، د تسنیم مخ ته یې خړې اوبه وشیندلې. د ټکري پیڅکه یې په ټنډه ورتېره کړه.

شېبه وروسته د تسنیم لاس ولړزېد، له خولې یې ژوره ساه ووته. زړه یې تېزه درزا کوله، سترګې یې رڼې کړې، په سینه کې یې وچ درد حس کړ.

نرمه له ځایه را پورته شوه. محیا یې غېږې ته ورغله، په اوږه یې سر ورکېښود، په سلګیو کې یې وویل:

- خوږکې بیا و نه لوېږې. بیا داسې نه وایم.

***

د ماښام خړه په پنډغالي خوره وه. د کېږدۍ په کونج کې تور دېګ پروت و. تسنیم دېګ را پورته کړ، ناهیلې له کېږدۍ ووته.

د پنډغالي په څنډه کې ګڼ خلک ولاړ وو، ډکو څمڅو ته یې دېګونه نیولي وو. تسنیم نږدې لاړه، په سختۍ یې یوه څمڅه خواړه په دېګ کې ولوېدل. لنډه راتاو شوه، یوه کس وچه ډوډۍ ورته ونیوه.

د کېږدۍ خواته لاړه، سرې سترګې یې د پنډغالي کړلېچونو ته نیولې وې. محیا یې مخې ته را ووته، له لاس یې دېګ واخیست، جوړه کېږدۍ ته ننوتې.

محیا د فرحان مخې ته دېګ کېښود، څنګ ته یې غلې کېناسته. وچه ډوډۍ یې درې برخې کړه. تسنیم شاته ناسته وه. محیا ورغله، له لاس یې ونیوه:

ـ که ډوډۍ نه خورې، زه یې هم نه خورم.

درېیو واړو د ډوډۍ په خوړلو پیل وکړ. تسنیم وړه ګوله پورته کوله، په سختۍ یې له

ستوني ټيټېده. فرحان په خوند ژامه غوځوله، له هرې ګولې وروسته يې ګوتې څټلې.

شپه وروسته محيا شاته وځښېده، غلې کېناسته، سر يې وځړېد. باد د کېږدۍ له څنډو په غوړونو تريخ لګېد. د سويو لړګيو بوی سينه سوځوله، د پنډغالي په انګړ کې د ځينو د ټوخي وچ غږ پورته کېد.

محيا په سوچونو کې ډوب شوه، ذهن يې تېرې زمانې ته لاړ:

تسنيم په پخنلځي کې اوړه خپشتول. محيا يې څنګ ته نږدې ناسته وه. محمود له شا واړه ـ واړه ګامونه واخيستل، د محيا لاس يې په اوړو کې د ننه کړ. د محيا مړوند سپېره شو، لاس يې د محمود په مخ کش کړ، برېتونه يې سپين شول. دواړو وخندل، خندا يې د جوش اوبو په غږ کې ورکه شوه.

تسنيم سر پورته کړ، د محمود په سپېرو برېتو يې سترګې ولګېدې، له زړه يې وخندل. لمر د کړکۍ له څنډو په اوړو لګېده، سپين بخري يې په هوا کې تاووېدل.

محيا د تسنيم په لړزېدلي غږ جتکه وخوړه، تېر يادونه يې په ذهن کې ړنګ شول:

ـ لورې ډوډۍ وخوره.

محيا په ژړغوني غږ يې ووېل:

ـ نه يې خورم، بس مې ده.

فرحان د محيا سر ته ځير شو، له ټکري راوتلي ببر وېښتان يې په چپه سترګه ځړېدل.

د فرحان خندا لوړه شوه:

ـ که پلار راشي، ببرو وېښتانو ته به دې ډېر وخاندي.

د محيا سر وځړېد، په لمن يې ځاځکي ـ ځاځکي اوښکې وڅڅېدې.

***

د سهار په خړه کې د چاودنې دروند غږ ولګېد. تسنیم او محیا را پورته شوې. د پنډغالي انګړ ته لاړې، یوې او بلې خوا ته یې وکتل، څه یې تر سترګو نه شول.

دواړه مخکې لاړې، تیتې شوې، لاسونه یې په خاورو سپېره کړل.شپېه وروسته بېرته کېږدۍ ته ننوتې، څنګ په څنګ ودرېدې، لاسونه یې اوړو ته اوچت کړل.

شپېه وروسته د لمر وړانګې د کېږدۍ له سوریو د ننه شوې. د تسنیم سترګو ته نېغې ودرېدې، په زړه کې یې وویل: لمر په نړۍ ولګېد، ته ډوب یې، ستا په نشتون کې رڼا ورځ راباندې تیاره ده.

نرمه له ځایه را پورته شوه، د خاورې او کېږدۍ نمناک بوی یې په پوزه ننوت. اوښکې یې په مخ وچې شوې وې، سترګې یې په سختۍ پورته کش کړې. د کېږدۍ په خوله کې ودرېده، خلک هرې خواته تلل، د ځینو په څېرو موسکا پرته وه.

بېرته را وګرځېده، د کېږدۍ له څنډې یې د محمود دستمال پورته کړ، خولې ته یې ونیو، د عطرو خوږ بوی یې په پوزه ننوت. ژور ساه یې واخیسته: څه وکړم؟ نن به څه کوم؟ سبا به څه کېږي؟

سړه ساه یې واېسته. محیا ته یې لاس وروغځاوه. دواړو د پنډغالي په انګړ کې درانه ګامونه اخیستل، لکه ستړې ـ ستومانه چې وي. سهارنۍ باد یې پر مخونو لګېد. د محیا په مخ پرته خاوره باد نه وړله.

له ډېر مزل وروسته کنار قبرونو ته ودرېدې. پنډ خاورې د لمر وړانګو ژېړې برېښولې. محیا په یوه قبر ور پرېوته، لاسونه یې له خاورو چاپېر کړل، په سلګیو کې یې وویل:

ـ ولې لاړې پلاره؟ ولې دې یوازې پرېښودو؟

تسنیم تیته شوه، د محیا څنګ ته کېناسته، اوښلنې سترګې یې سرې ځلېدې. د قبر په

زړو خاورو يې لاس تېر کړ، بدن يې لړزې واخيست، ژامې يې وکړپېدې.

محيا يې له مټ ونيوه، ورو يې له پنډ خاورو را پورته کړه:

ـ پلار دې خواشينی کېږي، داسې مکوه.

محيا په کړيغو کې ووېل:

ـ دا خاورې د پلار بوی ورکوي.

محيا له قبر يو موټی خاورې ټولې کړې، د ټکري پيڅکه يې ترې تاو کړه، کلکې گنډې يې ور واچولې.

شپېه وروسته تسنيم سرې سترگې ور واړولې:

ـ راځه فرحان به اوس وېښ شوی وي.

دواړه را پورته شوې. د کتار قبرونو تر څنگ جوختې روانې وې. محيا غوټه شوې خاوره پوزې ته نيولې وه، ببر وېښتان يې له ټکري راوتلي ول.

***

جوړه کېږدۍ ته ننوتې، په فرحان يې سترگې ولگېدې، تازه له خوبه را پاڅېدلی و، يوې او بلې خواته يې حيران ـ حيران کتل.

انگړ کې د موټر هارن ولگېد. فرحان په تېزۍ منډه ور واخيسته:

ـ پلار راغی.

محيا ورپسې ورغله. فرحان په تېزۍ منډې وهلې، د محيا پښې سستې وې، کله به په منډو شوه، کله به ودرېده. په سختۍ موټر ته نږدې شوه، فرحان ناهيلې سترگې ډرېور ته نيولې وې.

محيا يې لاس ونيو:

ـ راځه، پلار راځي.

دواړه د کېږدۍ خواته روان شول. محیا د فرحان لاس ټینګ نیولی و. د کېږدۍ ډډ ته د ودانۍ ټوټې پرتې وې. محیا ودرېده، فرحان ته یې وویل:

ـ راځه له دې ټوټو کور جوړ کړو.

ـ ته خو یوازې رسمونه کوې، کور کله جوړوی شې؟

ـ یوځای به یې جوړ کړو.

وړې ټوټې یې را ټولې کړې. څلور کونجه یې کېښودې، په سر یې یوه بله ټوټه ورکېښوده، په منځ کې یې ولوېده. محیا په انبار ټوټو کې سترګې خښې کړې، هواره ټوټه یې سترګو ته نبغه شوه. وړاندې لاړه، ټوټه یې په لاسونو کې ونیوه، د نورو ټوټو د پاسه یې کېښوده.

فرحان جوړې شوې کوټې ته وکتل، سوري یې لوی ښکارېدل. محیا ته یې وویل:

ـ سوري به یې څنګه کړې؟

ـ هغه په خاورو پټوم.

د کېږدۍ له څنډې یې کاسه واخیسته، د کتار دېګونو خواته ورغله، شنه لوګي ترې پورته کېدل.

یوه سړي د محیا په لاس کې کاسه ولیده، په خاورو لړلې وه، رڼې سترګې یې ورته ونیوې:

ـ په دې کاسه کې خواړه غواړې؟

ـ نه، نه! اوبه غواړم.

ـ په دې کاسه کې اوبه مه څښه، راشه ګیلاس در واخله.

ـ اوبه نه څښم.

د سړي تنده تروه شوه:

ـ په کاسه کې اوبه د څه لپاره غواړې؟

ـ کور جوړوم، خاوروه خېشتوم.

د سړي په شونډو موسکا راغله. يوه سر لوڅي دېګ کې د مينځل شويو لوښو اوبه پرتې وې، کاسه يې ور ټيټه کړه، تر څنډو ډکه شوه.

ورو يې کاسه محيا ته ونيوه:

ـ لورې که بس نه شوې، بيا راشه.

محيا کاسه ور واخيسته. ورو ـ ورو د فرحان خواته ورغله، د کاسې له څنډو اوبه چړېپېدې، لمن يې لمده شوه. کاسه يې د جوړې شوې کوټې څنګ ته کېښوده.

خاورې يې په لپه کې ټولې کړې، په کاسه کې يې واچولې. سپېرې خاورې په اوبو کې خړې واوښتې. فرحان هم يوه لپه خاوره ور واچوله. محيا لمده خاوره په لاس کې يوې او بلې خواته واړوله، سرېښ يې پيدا کړ.

شپه وروسته يې د جوړې شوې کوټې سوري په خټه پټ کړل. تسنيم ورکتل، د کبرږدۍ خاموشي يې زړه ته درنه لوېده.

***

محیا کتابچه را واخیسته، په منځ کې یې پنسل و، توره څوکه یې نه وه. پنسل یې ور پورته کړ، له کېږدۍ ووته. د پنډغالي په انګړ کې خلک یوې او بلې خواته ګرځېدل، له خینو کېږدیو د ماشومانو ژړا راوته.

د دېګونو خواته ورغله، مور یې ولیده، تور دېګ یې په لاس کې و، نوبت ته ولاړه وه.

سترګې یوې او بلې خواته واړولې، یو سړی یې ولید، جامې یې په دود تورې وې. موسکه شوه. وړاندې ورغله، د سړي مخې ته ودرېده.

سړی موسک شو، د محیا په سر یې لاس کش کړ:

ـ کور دې جوړ شو؟

ـ هو.

ـ نورې اوبه غواړې؟

ـ نه!

محیا سړي ته پنسل ورکړ، ورو یې وویل:

ـ څوکه یې خلاصه شوې.

سړي د بوشکې له سر چاړه پورته کړه. پنسل یې ورو ـ ورو وتراشه، توره څوکه یې وخلېده.

محیا ته یې سترګې ور واړولې:

ـ لورې، څه لیکې؟

ـ کم لیکل کوم، ډېر رسمونه.

سړي وخندل:

ـ که داسې وي، یو څه راته رسم کړه.

محیا حیرانه څېره ونیوه:

ـ کتابچه رانه پاتې ده.

ـ د دې کېږدۍ په ډډ یې رسم کړه.

محیا په ناهیلۍ ځواب ورکړ:

ـ خو پنسل مې خرابېږي.

سړي مخکې لاړ، د یوه نغري لاندې مړه سکاره پراته ول. یو سکور یې را واخیست، محیا ته یې ونیو:

ـ هه، په دې یې رسم کړه.

محیا د کېږدۍ په ډډ مرغۍ رسم کړه. سړي خواشینې سترګې رسم ته نیولې وې، ډنډ اوښکې یې په سترګو کې وځلېدې. مخ یې بلې خواته کړ، اوښکې یې په ورغوي پاکې کړې.

محیا وویل:

ـ خوښ دې نه شو؟

د سړي په شونډو مصنوعي موسکا راغله، ټیټ شو، محیا یې ټینګه په غېږ کې ونیوه:

ـ ډېر مې خوښ شو، پنسل دې واخله لورې.

محیا د سړي له لاس پنسل واخیست، مخکې لاړه، بېرته یې شاته وکتل:

ـ رسم شوې مرغۍ توتکۍ ده کاکا.

***

تسنیم په دېګ کې ګوتې وهلې. محیا او فرحان به چې درې ـ څلور ګولې تېرې کړې، دې به یوه وړه ګوله خولې ته کړه. د تسنیم مخ رنګ بایللی و، سپېره او ژېړ ښکارېد.

محیا پلاستکي کوزه را واخیسته، ټولو په نوبت یو ـ یو غوړپ اوبه وڅښلې. د تسنیم سترګې د محیا او فرحان په جامو ولګېدې، خال ـ خال شلېدلې وې، زړه یې خېرکه وکړه.

د محیا د جامو شنه او سره ګلان په خاورو سپېره ول. د فرحان چپه ګونډه لوڅه وه، د مور پر لمن پرتې نیمې ډوډۍ ته یې په رډو سترګو کتل.

تسنیم ډوډۍ درې برخه کړه. لویه برخه یې فرحان ته ورکړه، بله یې د محیا څنګ ته کېښوده او وړه ټوټه یې خپله واخیسته. محیا خپله برخه بېرته ورکړه:

ـ خورکې ته ډېره اړتیا ورته لرې، تاروغه یې.

تسنیم اوښکې پټې نشوای کړې، په مخ یې کږې ـ وږې ولغړېدې. لاسونه یې له محیا او فرحان تاو کړل، وړې غېږې یې یوازینی ځای و، چې د امن ساه یې پکې اخیسته.

***

د کېږدۍ څراغ سپین ځلېد. محیا رسمونه کاږل، په توره شپه کې یې شین اسمان رسم کړ، لمر یې د رسم شوي اسمان په نمایي لمنه وکاږه. د پاڼې په څنډه یې درې مرغان رسم کړل، د منځ مرغه لوی و، د ښي او کیڼ لوري کوچني مرغان یې په وزرونو کې پټ ول.

د تسنیم خوله وازه شوه:

ـ لورې ویده به شو.

محیا پورته شوه، د محمود د غاړې دستمال یې را واخیست، اوږده وغځېده. دستمال

يې په مخ کش کړ، ژوره ساه يې اخيسته، د دستمال بوی خوند ورکاوه.

تسنيم څراغ مړ کړ. کېږدۍ تپه تياره شوه، يوازې د سپوږمۍ پيکه رڼا په زاړه فرش لوېدلې وه. فرحان يې د مور څنګ ته نږدې پروت و، سترګې يې نه پټېدې، د سپوږمۍ را لوېدلې رڼا ته يې شخې نيولې وې.

تسنيم د فرحان په اوږه ډنګر لاس کېښود، ورو ـ ورو يې ټپاوه. له خولې يې نرمه زمزمه پورته شوه، د محيا په غوږونو خوږه لګېده:

ـ اللو ـ للو ـ للو، خوبه راشه په بچو

د بيرون مرغۍ ويدې دي، په للو ـ للو ـ للو

اللو ـ للو ـ للو، باد راغلی په نخرو

د ګل بوی يې دی راوړی په للو، للو ـ للو

د تسنيم غږ لړزانده، خو نرم و. کله ـ کله به يې فرحان ته ويل:

ـ ويده شه زويه، ويده شه. يوه ورځ به د چنار په څېر هسکه ونه لرې، هېڅ طوفان به دې نه لړزوي، د ستورې په څېر به ځلېږې.

د فرحان سترګې ورو ـ ورو پټېدې. تسنيم بيا وويل:

ـ کبان په اوبو کې ويده دي، ته هم ويده شه ګلالیه!

د تسنيم په څېره کې ستړيا له ورايه ښکارېده، خو فرحان ته يې په مينه کتل. هر خل به چې فرحان سترګې نيم کښې کړې، تسنيم به غږ ورو کړ.

شېبه وروسته د فرحان سترګې درنې او پټې شوې. تسنيم څنګل تر سر لاندې کړه، په يوه اړخ کړه شوه. بل اړخ ته يې محيا ويده وه، ورو ـ ورو سغېده.

محيا په خوب کې محمود وليد. پاکې جامې يې اغوستې وې، وېښتان يې باد يوې

خوانه اړولي ول، د لمر ژېړو وړانګو ته سپین ځلېدل. د سره موټر ځنګ ته ولاړ و، محیا ته یې لاس خوځاوه.

محیا نږدې ورغله، دواړه په موټر کې سپاره شول. موټر د کتار ونو او ګلانو په منځ کې کږندۍ روان و. محیا له ښیښې سر بهر کړ، تېز باد یې په څېره ولګېد.

کرسنده غږ خور شو. محیا له خوبه را پاڅېده، خای په ځای کېناسته. سترګې یې وموښلې، د کېږدۍ خولې ته یې وکتل، پیشو لکۍ هسکه درولې وه.

بېرته په خپل ځای اوږده وغځېده، لېټ په لېټ اوښته، خوب نه ورته. لا یې هم غوږونو شرنګا کوله، له ذهن یې کرسنده غږ نه وت.

د تسنیم لاس یې په اوږه ولګېد، اړخ یې بدل کړ، د مور سترګې یې ولیدې، نه وې پټې.

ورو یې تسنیم ته وویل:

- پلار خوب ته راغی.

تسنیم یې په سر لاس کش کړ:

- بختوره یې لورې.

ورپسې یې وویل:

- ویده شه لورې، څه نه کېږي.

شېبه وروسته په محیا د خوب درنه څپه راغله، سترګې یې پټې کړې، له ځان سره یې وویل: پلاره بیا خوب ته راشه!

٭٭٭

هوا خړه وه، له لرې ښد ـ ښد لوګي هوا ته ختل. د سپکو او درنو وسلو ډزو په ښدغالي کې وېره خوره کړې وه. دروند غږ ولګېد، سيمه ولړزېده، محيا ځای په ځای ودرېده، ټنده يې تروشه شوه:

ـ نه بېرېږم.

خړ اسمان ته يې وکتل، يوې مرغۍ وزرونه رپول. محيا له ځان سره وويل: پلار هم د دې مرغۍ په څېر لاړ.

د ماشومانو ژړا شور جوړ کړی و. يو کوچنی د کبردۍ په خوله کې ناست و، محيا نږدې ورغله. د هلک اوښکې يې د ټکري په پيڅکه پاکې کړې.

ورو يې ترې وپوښتل:

ـ ولې ژاړې؟

ـ وږی يم.

محيا لاره کړه کړه. سيده د کتار خلکو خواته ورغله، په ښدغالي کې ګڼه ـ ګونه له مخکې ډېره شوې وه. سترګې يې وغړولې، مور يې تر سترګو نه شوه.

سترګې يې د کتار ولاړو خلکو په ليدو سرګردانه وې، څېره يې وغوړېده، د يوه سړي لمن يې کش کړه:

ـ کاکا ډوډۍ.

سړي د وچې ډوډۍ يوه ټوټه د غوړ ډېګ په څنډه کش کړه، محيا ته يې ونيوه. محيا په بېړه ډوډۍ را واخيسته، د کبرديو خواته روانه شوه. سترګې يې په هلک پسې وګرځولې، پيدا يې نه کړ.

سر یې وخوړېد، په غوړو لړلې ډوډۍ یې په لاس کې درنه شوه. خپلې کېږدۍ ته لاړه، فرحان نه و.

بېرته را ووته، وړاندې لاړه. فرحان د کوټې د پاسه وړې ډبرې اېښودې. سترګې یې په محیا ولګېدې، لاسونه یې په کمیس کش کړل. غوړه ډوډۍ یې په خوند وخوړه.

محیا لوږه نه حس کوله، داسې ښکارېده لکه د پلار غم چې د نړۍ له نعمتو مړه کړې وي. د مخ سپین رنګ یې ژېړ اوښتی و.

***

د موټر ځراغونه د کېږدیو په ډډ ولګېدل، د اوبو ذخیره پکې بار وه. خلک ور ووتل، کتار ودرېدل، بوشکې یې په لاس کې وې، په نوبت یې ډکې کړې. تسنیم په دمه ـ دمه یوه بوشکه د کېږدۍ خولې ته را ورسوله.

محیا او فرحان ته یې غږ وکړ، دواړه ورغلل. تسنیم بوشکه کړه کړه، لپه اوبه یې په لاس کې ولوېدې، سړې وې، په زړه یې خوږې ولګېدې. دو خله یې ډکې لپې د فرحان مخ ته ور وشیندلې، ورغوی یې پرې تېر کړ. د فرحان سترګې یخې شوې.

شپه وروسته د فرحان څېره د ځراغ رڼا ته سپینه ځلېده، سپېرې خاورې ترې پاکې وې. شونډې یې ورو وخوځېدې:

ـ مورې کیسه راته وکړه.

تسنیم غاړه تازه کړه:

ـ د نارنجو د باغ او زرینو خیالنو کیسه؟

محیا او فرحان په یوه غږ وویل:

ـ هو!

تسنيم وويل:

ـ د مديترانې سيند ته نږدې يو هلک اوسېږ، احمد نومېږه. احمد د نارنجو له باغ سره مينه لرله. د نارنجو څانګو په کلي سيورى غوړلى و. نيکه يې د ونې ډډې ته تکيه کړې وه، احمد ته يې کيسې کولې.

نيکه احمد ته وويل: د سيند په زړه کې، چېرته چې لمر ډوبېږي، يو جادويي ښار دی؛ د زرينو خيالونو ښار. هغه ښار کې چې هره هيله ولرې، پوره کېږې، خو شرط يې دا دی چې زړور وې. دې ښار ته تللې لاره، له ازمونو ډکه ده.

فرحان يې د مور خبرې پرې کړې:

احمد هغه ښار ته لاړ؟

ـ هو، يوه ورځ احمد د سيند څنډې ته ګرځېږ، په شګو کې يې ځلېدونکی بوتی وليد. بوتی يې په لاس کې را واخيست، تېز باد ولګېږ، بوتی سيند ته ولوېږ. احمد چې نه غوښتل ځلېدونکی بوتی له لاسه ورکړي، سيند ته يې ټوپ کړل. ناڅاپه نوراني تونل ته ولوېږ، په شېبه کې د سيند زړه ته ننبته شو، لوی ښار يې سترګو ته ودرېږ.

هلته له يوې زړې ښځې سره، چې فلسطيني جامې يې اغوستې وې، مخامخ شو. بوډۍ د شنو او سپينو ملغلرو په څوکۍ ناسته وه، بې غاښو خوله يې خلاصه کړه: هلکه، د خيالونو نړۍ ته ښه راغلې. که غواړې خپلې هيلې ته ورسېږې، له درېيو ازمونو بايد تېر شې.

لومړی؛ د زيتونو په څانګو چې باد لګېږي، څنګه غږ لري؟

احمد سترګې پټې کړې، د نيکه د زيتونو باغ يې ور په زړه شو، هڅه يې وکړه، د باد غږ يې زمزمه کړ.

بوډۍ وخندل: افرين، څوک چې د خپل کور او ريښو غږ نه هېروي، زړور کېږي.

دویم ازمون: سیند د هېرو شویو غمونو کور دی، د سیند یو څاڅکی اوښکه پیدا کړه، بیا یې په خندا بدله کړه.

احمد د سیند په زړه کې لامبو پیل کړه، یو کوچنی کب یې تر سترګو شو، غمجن ښکارېد. د کور لاره ترې ورکه وه. احمد په مینه د کب سره مرسته وکړه، د مرجانو په منځ کې یې کور ورته پیدا کړ. کب له ډېرې خوښۍ خندا پیل کړه، غږ یې په اوبو کې د اوښ د شړنګووني په څېر لګېد.

د درېیم ازمون لپاره بوډۍ د احمد لاس ونیو. د اوبو لاندې یوه باغ ته لاړل، چې د انار وچه ونه یې لرله. بوډۍ احمد ته وویل: دغه ونه د غزې د امید نښه ده، هڅه وکړه چې له ثمر ډکه شي.

احمد د انار وچه ونه په غېږ کې ونیوه، له زړه یې هیله وکړه چې د غزې باغونه شنه او له ثمره ډک شي او ماشومان یې تر سیوري لاندې لوبې وکړي.

د احمد د سینې تودخه د ونې په تنه ننوته. ناڅاپه ونه زرغونه شوه، په څانګو یې سره انار وځړېدل.

فرحان چوپه خوله ناست و، کوچنی سیوری یې د کېږدۍ په پرده زنګېده. خال ـ خال ډزو د تسنیم له خولې خبرې هېرې کړې.

شېبه وروسته یې د فرحان په غږ جټکه وخوړه:

ـ بیا څه وشول؟

ـ د بوډۍ بې غاښو خوله له خندا ډکه وه، احمد ته یې وویل: ته کامیاب شوې، خکه ودې ښوده چې مینه، مهرباني او هڅه د نړۍ تر ټولو ځواکمن جادو دی. وروسته یې احمد بېرته نوراني تونل ته تېل واهه، په شېبه کې د سیند نمجنې څنډې ته را ورسېد.

کله چې احمد خپل ښار ته را ستون شو، په جېب کې یې څه وخوځېدل. هماغه ځلېدونکې بوټی و. هغه وپوهېد چې رېښتینې خزانه مینه، هیله او هڅه ده، چې دی

يې په زړه کې لري. احمد دا خزانه په خپلو همځولو باندې وويشله.

فرحان د خوب ټال زنګاوه. تسنيم نږدې ورغله، تر سر يې لاس لاندې کړ، نرم يې په ځای کې څملاوه. د کېږدۍ څراغ يې مړ کړ، له لرې د چاودنو غږونه ختل، هر غږ به دوه ځلې انګازې کولې.

***

محيا له کېږدۍ ووته، ورو ـ ورو تلله، لکه په غلا چې روانه وي. د لارې په اوږدو کې چټکه شوه، خو په سختۍ يې ګامونه اخيستل، د بوټ تله يې سورې شوې وه. قبرونو ته ورسېده، حيرانه ودرېده، قبرونه ډېر ورته ښکاره شول، د ځينو خاوره تازه برېښېده.

ښي اړخ ته وګرځېده، د محمود دستمال يې تر غاړه تاو کړی و. قبرونه يې په ګوته وشمېرل.

شپېه وروسته يې وويل:

ـ سل قبره، مخکې خو شل وو.

يوازې خپل غږ يې واورېد. ځای په ځای ودرېده، قبرونو ته ځير شوه. سهارني باد له ښنډ ـ پنډ خاورو سپېره دوړه پورته کوله. د پلار قبر يې تر سترګو نشو. د ښي اړخ لومړي قبر ته لاړه، بيا يې حرکت وکړ، له هرو درېيو ـ څلورو ګامو وروسته يې يو ـ يو قبر شماره. پينځلسم قبر ته ودرېده، تر ډېره يې شونډې خوځېدې.

ټيټه شوه، د قبر په ډبره يې د ښي لاس ورغوی تېر کړ. ولاړه ډبره توره برېښېده، د ټکري پيڅکه يې د ډبرې په سر کېښوده، بله وړه ډبره يې را واخيسته، د ټکري پيڅکه يې درې ځلې ووهله. د هديرې په ژوره چوپتيا کې د دوو ډبرو غږ تېز لګېد.

د ټکري پيڅکه سورې شوه، په سوري کې يې ګوتې واچولې، زور يې وکړ، کږ شو، ټکری تر نمايي وشکېد. نرۍ شنه جنډه يې د تورې ډبرې په سر وتړله، کلکې ګنډې يې ور واچولې، لنډه څوکه يې باد نځوله.

له ځان سره يې وويل:

ـ اوس نه ورکېږي.

شېبه وروسته زړه نا زړه را پورته شوه. حرکت يې وکړ، له هر ګام وروسته يې شاته کتل، لکه څه چې ترې پاتې وي. سترګې يې وسوځېدې، ګرمې اوښکې يې په مخ روانې شوې.

د کېږدۍ په خوله کې يې مور وليده، حيرانه ولاړه وه. محيا ژر په دستمال اوښکې پاکې کړې، له زړه يې هڅه وکړه، په غمجنه څېره يې مصنوعي موسکا وغوړېده.

***

تسنيم ډوډۍ په نمايي کې پرېښوده، شاته وځنډېده، په بدن يې نرمې تبې پنجه ښخه کړه. سبکه يې له زړه وخته، اوږده وغځېده. شېبه په شېبه يې تبې زور اخيست، وېښتان يې د ټکري لاندې په خولو کې خېشته شول.

تبې داسې لړزوله لکه په بدن يې چې اور بل وي. د شېبې لپاره يې سترګې پټې کړې، د محمود له خندا ډکه څېره يې سترګو ته ودرېده؛ هغه ګرمه خندا چې نوره يې نه اورېده. په فکرونو کې ډوب شوه، د محمود وينې لړلی مخ يې سترګو ته نيغ شو.

داسې درد يې حس کړ، لکه لويه ډبره يې چې په سينه پرته وه. ساه يې بنده ـ بنده کېده. هر ځل به چې د محمود تېر يادونه ورپه زړه شول، په زړه به يې داسې څېرکه راغله لکه زوړ ټپ چې په چاړه وتراشل شي.

د محيا او فرحان وړې څېرې يې سترګو ته ودرېدې. ټوخې واخيسته، له هر ټوخي سره يې مرګ سترګو ته دربد، په زړه کې يې وويل: که مړه شم، دوی به څنګه کېږي؟

له ځان يې کرکه وشوه، چې ولې ناروغه شوې. د محيا خبرې ورپه زړه شوې: د پلار قاتلې، ته د پلار قاتله يې.

ځان يې په ګناه کې ډوب ليده، د محمود وژنه او د محيا او فرحان لوړه يې خپله ګناه بلله.

فکرونو ارام ته نه پرېښوده، تېر يادونه يې د ګولۍ په څېر په زړه ښخېدل. ژوره ساه يې واخيسته، په زړه کې يې را تېره شوه چې يوه ورځ به له دې پنډغالي وځي، له محيا او فرحان سره په نوی ژوند پيلوي.

شبېه وروسته يې دوه تور څناور سترګو ته ودرېدل، خولې يې تر ژامو خلاصې کړې وې؛ فقر او جګړې. هر شبېه يې د دې ځناورو داړې په خپلو هډوکو کې ښخې ليدې. ټوخي واخيسته، خولې ته يې لاس ونيو، په لاړو کې سره ځاځکي ښکارېدل.

❀❀❀

د محيا په لاس کې دېګ و، ترمه کېږدۍ ته ننوته، دېګ يې کېښود. وچه ډوډۍ يې را واخيسته، په لاس کې يې کړپا خته. ډوډۍ يې دېګ ته ور ټوټه کړه. ټوټې يې د تودو اوبو په سر تاوېدې، يوه ـ يوه د دېګ تل ته کښته کېده.

د تسنيم ډنګر لاس لړزې اخيستی و، مازې په دېګ يې ګوتې وهلې. د مخ هډوکي يې راوتلي ول، سترګې يې ژورې ښکارېدې.

فرحان د دېګ په څنډه ګوته توره کړه، د پاسنۍ شونډې په سر يې وموښله. محيا او تسنيم ته يې نبغ ـ نبغ کتل. دواړو څه و نه ويل.

فرحان د محيا مټ ونښوروله:

ـ برېتو مې خوند درنه کړ؟

محيا لنډ ځواب ورکړ:

ـ نه!

فرحان بيا ګوته په دېګ توره کړه، د شونډې په سر توره ليکه يې ډبله او اوږده کړه:

ـ اوس څنګه؟

د تسنيم په څېره نرۍ موسکا پربوته:

ـ د پلار په شان دې شوې.

د فرحان څېره وغوړېده، له ځايه را پورته شو، لاسونه يې تر شا ونيول، په ښي لاس يې چپ مړوند ونيو، د محيا څنګ ته ودرېد، نرۍ غږ يې ډډ کړ:

ـ محيا لورې، نوی رسم دې کړی؟

تسنيم په کړس ـ کړس وخندل:

ـ لوی شې زويه، ډېره موده پس مې له زړه وخندل.

❋❋❋

شپه وه، د کېږدۍ په بام يو ـ يو څاڅکی لوېد. له هر څاڅکي سره د تسنيم د زړه درزا تېزده. تالنده بربښنا له ډزو سره ګډه وه. د باران څاڅکي تېز شول، د کېږديو له بامو وچه ترپا خته.

د فرحان بدن زبېږ شو، په وېرېدلي غږ يې وويل:

ـ څه دي؟

تسنيم نږدې ورغله، فرحان يې په غېږ کې ونيو:

ـ باران وريږي.

ـ کور کې خو يې داسې غږ نه و.

د کېږدۍ له يوه کونج څاڅکي وڅڅېدل. محيا لاس ورته ونيو، په ورغوي يې تېره لګېدل.

تسنیم وړاندې لاړه، خالي دېگ یې څاڅکو ته کېښود. له دېگ داسې غږ پورته کېده لکه شګې چې پرې ورېږي.

محیا د کېږدۍ په خاموشۍ کې غلې ناسته وه. د څاڅکو غږ ته یې زړه سپارلی و. هر څاڅکی یې په مغزو د ډبرې په څېر لګېده. شېبه وروسته د دېگ په تل کې اوبه ډېرې شوې، د څاڅکو وچ غږ په چړپا بدل شو.

***

د لمر وړانګې په تمجنه خاوره ولګېدې، سوړ بوی ترې پورته شو. تسنیم د کېږدۍ خوله کې ناسته وه، ژېړې وړانګې یې په سترګو کې پرتې وې. تورې ورېځې باد خغلولې، له دواړو خواو به داسې یوځای شوې لکه خپه یاران چې کلونه وروسته غاړه غړۍ شي.

هوا خړه وه، خو د لمر سترګه رڼه ځلېده. تسنیم په زړه کې وویل: باران سیمه ومینځله. نړۍ کې داسې څوک شته، چې د غزې وینې ومینځي!؟

پنډ ورېځې د لمر مخې ته ودرېدې، وړانګو په شېبه کې له ځمکې لمن ټوله کړه. تسنیم سترګې چوغې کړې: له نړۍ مخکې رڼا تللې! د لمر په شتون کې تیاره راته برېښي. رېښتینې ځلا عدل او پاکي ده، چې په حاکم نړۍوال نظم کې یې څرک نه لیدل کېږي.

آه! د خلکو خولې د حاکم نظم په ازادیو ستړې دي، خو نه پوهېږي چې په اوږو یې د غلامۍ معاصر یوغ پروت دی. د نړۍ لوی ښارونه په ظاهر کې له پاکۍ برېښي، خو د شته ارزښتونو بد بویي یې تر اسمانه ورسېده. څوک دي چې بوی یې حس کړي؟ څوک شته چې نړۍ کې د عدل کره تله، راسته کړي؟

یوه عمر خوړلې ښځه د تسنیم مخې ته ودرېده:

- لورې غمجنه ښکارې.

تسنیم سر پورته کړ، د ښځې په ګونځې مخ یې سترګې ولګېدې:

- ترورې څوک خوښ دي، چې زه خوښه وم.

- همداسې ده لورې، تور سر مې غمو سپین کړ.

ښځه د تسنیم تر څنګ کېناسته:

- کورنۍ مې ټوله تباه وبوله، د دوو زامنو مړي او ژوندي مې ورک دي.

- یوازې اوسېږې؟

ښځې سوړ اسویلی وایست:

- خاوند مې څو کاله مخکې په ګولیو ولګېد. د اقصی جومات ته تللی و، د جمعې له لمانځه راستنېده چې یهودي عسکرو وویشت. یو ګاونډی د پېښې شاهد و. غم مو چې یو څه سپک شو، کیسه یې راته وکړه. ګاونډي ویل چې خلیل کاکا په لاره روان و، مخې ته یې یهودي عسکر ودرېدل. عسکرو ملنډې پرې وهلې. یوه عسکر یې سر ته ګوته نېغه کړه، ویل یې چې د شلغمې په څېر دی. بل عسکر یې سپینې ږیرې ته ګوته نیولې وه، په کړسنده غږ یې ویل چې جارو ته اړتیا نه لري، په زنه یې بېره جارو را څرېدلې، مازې د غزې له کوڅو دې سپېرې دوړې پورته کړي.

ګاونډي ویل چې خلیل کاکا ته غوسه ورغله، یهودي عسکرو ته یې ورغبرګه کړه، چې له خدایه وډار شئ، څمکه مو غصب کړه، اوس مو په ارزښتونو ملنډې وهئ. بیا مو چېرته د غزې خاوره سپېره پرې اېښې، ټوله په وینو سره ده.

ګاونډي ویل چې خلیل کاکا څو ګامه واخیستل، د یوه عسکر مخې ته ودرېد، ږیره یې په لاس کې ونیوه، ویې ویل: کومې وینې مو چې تویې کړې، کاشکې زما په دې سپینه ږیره پاکېدای شوای، زړه به مې سپک شوی و. خو ستاسو د مشرانو په زنه تر ما اوږده جارو را څرېدلې. لاړ دې شي په اروپا کې خپلې تېرې چټلۍ پرې پاکې کړي، دلته څه کوي؟

ګاونډي ویل چې دې خبرې یهودي عسکرو ته خوند ورنه کړ، درې ډزه یې په سر

وویشت.

تسنیم په غمجن غږ وویل:

ـ وبښه ترورې، غم مې دې تازه کړ.

ـ نه، نه لورې، د کیسې په کړلو مې زړه سپکېږي.

ـ څو تنه وې؟

ـ له خاوند وروسته مې پینځه تنه وو؛ زه، یوه مې لمسۍ او درې مې زامن.

ـ د دوو زامنو په اړه دې راته وویل چې مړي او ژوندي یې ورک دي. دریم یې څه شو؟

ـ لورې! هغه مې دویم زوی و. کوژدې ته ورپسې ګرځېدو. د پلار له شهادت وروسته یې قسم وکړ، چې د یهودي عسکرو سره به د ژوند تر پایه جنګېږي. د کوژدې په نمایي پیسو یې په سختۍ وسله واخیسته. په دریو میاشتو کې به یو ځل کور ته راتله، بیا به ولاړ. یوه ورځ خبر راغی چې په روغتون کې دی، ټپي و. په بېړه ورغلم، دوې پښې یې ترې پرې کړې وې. کله چې له روغتونه رخصت شو، ویل یې چې بیا جګړې ته ستنېږم. زارۍ مې ورته وکړې، ویې نه منله. د کوژدې په پاتو پیسو یې د ګوډانو بایسکل واخیست. راته ویل یې چې مچنوغزه راته جوړه کړه. تر ډېره ژوندی و، یهودي عسکر یې په ډېرو ویشتل. یوه ورځ هغه هم شهید شو.

تسنیم ژوره ساه واېسته:

ـ نږور او لمسۍ دې؟

ـ لورې، نږور مې په زېږون مړه شوه. لمسۍ مې په خوارۍ ستره کړه. اوس له ماسره ده.

ـ د زړه صبر درته غواړم ترورې.

زړې ښځې وویل:

- د ځان په اړه دې راته ووایه.

تسنیم غمجنه څېره ونیوه:

- موده کېږي چې خاوند مې له لاسه ورکړی. یوه لور او یو زوی لرم.

ښځې وویل:

- یو څه ډېر راته ووایه.

تسنیم وخندل:

- ترورې! عمر د خوب په څېر را باندې تېر شو. د پلار یوه لور وم، خو د خدای کارو ته گوره، خاوند مې هم له پلاره یو و. ژوند او روزگار ښه چلېد، پلار مې سوداگر و. تاریخ او نړۍوال سیاست کې مې زدهکړې وکړې. وروسته مې د محمود سره واده وکړ. کوچنۍ کورنۍ مې وه. د ژوند خوږې شېبې مې دا وې، چې فرحان او محیا لورکۍ ته یو څه ور زده کړم. ډېرې هیلې مې په زړه کې وې، خو په اوبو یې لاهو وگڼه.

تسنیم توخي واخیسته، زړه ښځه له ځایه پورته شوه.

تسنیم ورته وویل:

- ترورې! کله کله سر راښکاره کوه.

***

ډزې نږدې اوربدل کېدې. د چاودنو درنو غږونو د پښو لاندې ځمکه لړزوله. تپه تیاره وه، د پنډغالي برېښنا پرې وه. تسنیم، محیا او فرحان شپه په رڼو سترگو سبا کړه.

د سهار په خړه کې ډزې او د الوتکو کړسنده غږ ورک شو. فرحان خوب یووړ. تسنیم او محیا لمنځونه وکړل. خوب یې له سترگو تښتېدلی و.

تسنیم غاړه کړه کړه:

- لورې! له دې خدایه خو.

د محیا ټنده تروه شوه:

- د پلار قبر یوازې نه پرېږدم.

شبه چوپتیا خوره شوه، ورپسې تسنیم وویل:

- که لاړ نشو، په موږ به هم خاورې واوړي.

محیا سترګې ور واړولې:

- مخکې خاورې راباندې اوښتې.

تسنیم حیرانه څېره ونیوه، سوچونو کې ډوب شوه. نږدې لاړه، محیا یې ټینګه په غېږ کې ونیوه، په سلګیو کې یې وویل:

- ته رېښتیا وایې لورې، نه څو.

***

تسنیم د کېږدۍ په خوله کې غلې ناسته وه. محیا ته یې حیران - حیران کتل. محیا ډبره را پورته کړه، کرښې کرښې یې په سپېرو خاورو رسم کړې.

ګوته یې په کرښو کش کړه:

- مورې! یوې ښځې نارې وهلې، چې په رټل شوې خاوره ژوند کوو. خو ښوونکې مو ویل، چې غزه د منځنۍ ختیځ زانګو ده.

تسنیم ژوره ساه واېسته:

- ښایې دواړه رېښتیا وايي.

ـ ځنګه؟

ـ لورې! کېږدیو ته وګوره. فکر وکړه، یوه ورځ دلته روغې ودانۍ وې، اوس یې ټوټې پرتې دي. هغه درسونه در په زړه کړه، چې د تمدنونو په اړه مې درته ویل. تمدنونه هم د انسانانو په څېر دي؛ لوړېږي... ټیټېږي او په پایله کې مري. خو رټل د انسانانو کار دی، نه د ځمکې.

د ځنګ له کېږدۍ د ژړا غږ پورته شو. محیا غوږونه څک کړل، سر یې کښته کړ:

ـ ولې څوک مرستې ته نه راځي؟ هغه ټولنه... ټولنه...

تسنیم یې خبره پرې کړه:

ـ نړۍواله ټولنه؟

ـ هو، هماغه.

ـ لورې! زده‌کړې مې همدې برخه کې وکړې. د قوانینو یوه نړۍواله شبکه، چې ګڼې ادارې لري، څو د همداسې غمیزو مخه ونیسي. خو اوس یې ګورو چې څه روان دي.

د دواړو په منځ کې ژوره چوپتیا خوره شوه، شېبه وروسته تسنیم وویل:

ـ راځه لورې، اوبه به راوړو.

بوشکې یې را پورته کړې. د خلکو خواته یې ګامونه پورته کړل. کتار کې ودرېدې. ناڅاپه د یوه سپین موټر ټایرونه وڅرخېدل، په دروازه یې د نړۍوالې خبري شبکې لوګو وه. دوړې کېناستې. یوه ښځه او سړی را کښته شول.

خبریالې چټک ګامونه پورته کړل، د کتار خلکو په مخ کې ودرېده. سړي کمره سیخه کړه. خبریاله یوې ښځې ته نږدې ورغله، غږ کې یې کوچنی و.

خبریالې غاړه تازه کړه:

ـ د څو کوچنيانو مور يې؟ احساس دې څه دی؟

ښځه چوپه خوله ولاړه وه.

خبريالې بيا وپوښتل:

ـ له نړۍوالې ټولنې څه غواړې؟

د ښځې په مخ اوښکې را ماتې شوې. سږي د کمرې په بټن گوته کېښوده، د ښځې ويرجنه څېره د کمرې په ټوله پرده پرېوته.

تسنيم د محيا لاس ټينگ ونيو. نرم غږ يې له خولې پورته شو، يوازې محيا اورېد:

ـ وگوره لورې! راپور جوړوي. نن شپه به د شبکې رييس په جامو کې نه ځايېږي. خوښ به وي، چې ښکلی راپور يې راوړی. سرټکی يې سر له اوسه راته معلوم دی.

د محيا په مخ موسکا پرېوته:

ـ مورې! اوس دې وړاندوينو ته مخه کړه؟

د تسنيم څېره وغوړېده:

ـ سر ټکی به يې دا وي: غزه کې خاموش فريادونه!

خبرياله يوه زاړه سړي ته نږدې شوه. سړي د لرگي په لکړه تکيه کړې وه.

خبريالې وپوښتل:

ـ څه فکر کوې، نړۍ تاسو هېر کړي ياست؟

د تسنيم غږ لوړ شو، په گنه ـ گونه کې يوازې محيا اورېد:

ـ څنگه به مو هېر کړي؟ موږ يې د معادلاتو يوه برخه يوو. راپورنو کې د بشرپالنې يوه غميزه. کله چې مرستې راځي، کمرې هم ورسره راځي. کله چې مرستې نه وي،

کمرې هم نه وي. موږ د نړۍوالې ټولنې لپاره یوه موضوع یو، نه هغه انسانان چې تاریخ او هیلې لري.

د کمرې سترګه څو کوچنیانو ته سیخه شوه. خبریالې حرکت وکړ، سترګې یې په تسنیم ولګېدې. شېبه ودرېده، بیا یې چټک ګامونه پورته کړل. موټر کې سپره شوه، ټندې ته یې لاس ونیو.

محیا وویل: مورې! له تا یې ولې پوښتنه ونه کړه؟

ـ لورکې! سترګو کې مې وپوهوله، چې خپله کیسه په داسې راپور نه پلورم، چې مخکې جوړ شوی وي.

***

د شپې په خاموشۍ کې تسنیم د تېر تاریخ کیسې کولې. ناڅاپه وحشیانه غږ پورته شو. تسنیم سترګې پټې کړې، لکه د تغوندي غږ چې د مرګ زیری راوړی وي. غږ نږدې شو. محیا او فرحان له تسنیم لاسونه تاو کړل.

دروند غږ ولګېد. پنډغالي ته دومره نږدې و، چې کېږدۍ یې ولړزولې. شېبه وروسته مرګوني خاموشي خوره شوه.

د محیا ژامې ولړزېدې:

ـ مورې دلته هم امن نشته... چېرته امن دی؟ تا ویل چې نړۍوالو قوانینو په پنډغالي بمبار بند کړی.

تسنیم سړه ساه واېسته:

ـ لورې! هغه قوانین داسې چا لیکلي، چې همدا تغوندی یې جوړ کړی.

بل کړسنده غږ ولګېد. تسنیم د محیا او فرحان لاسونه ټینګ ونیول. د محیا لاس لړزېده.

د تسنیم غمجن غږ پورته شو:

ـ لورې! ډار مو حق دی. باید وډار شو. خو په دې غمیزه پوهېدل، زموږ دنده ده. زموږ تاریخ له همدې پنډغالي پیل کېږي. ته باید دا هر څه ووینې.

✲✲✲

د پنډغالي په څنډه کې یو سپین ږیری د ودانۍ په لویه ټوټه ناست و. سوځېدلی بوټ یې په لاس کې و، څنګ ته یې ایینه پرته وه.

سپین ږیري غاړه تازه کړه، لکه رسمي مجلس ته چې خبرې کوي:

ـ ښاغلی بوټه! تاسو له اصلي چرم جوړ یاست. ښایي ډېر مزل مو کړی وي، خو اوس د زمانې په اور کې غونج یې. دا راته ووایه، د انسان پښې د سولې په لور تګ ته جوړې شوې؟ یا د ډله‌ییزو قبرو لپاره، چې هره ګړۍ منډه ور واخلي؟

تسنیم او محیا د سپین ږیري دې خبرې ځای په ځای ودرولې.

محیا حیرانه څېره ونیوه:

ـ مورې! دا سړی لېونی شوی؟

تسنیم د سپین ږیري ارامې څېرې ته په ځیر وکتل:

ـ نه! ښایي یوازینی کس وي، چې له دې شیانو سره خبرې کوي.

ـ ولې؟

ـ ځکه پوهېدلی، چې ژوندي انسانان په عقل ډکو خبرو غوږ نه ګروي. ورته وګوره، اوس یې ایینه را پورته کړه.

سپین ږیري ماته ایینه په لاس کې وڅرخوله:

ـ اغلې ایینې! یو وخت دې ښکلې څېرې مېلمنې وې. اوس راته ووایه، چې ستا

ماتول، د ښکلو څېرو ماتول و، که نه؟

د سپین ږیري تر څنګ زړه ښځه ناسته وه. زړې ښځې ټنډه ګونځې کړه، لړزېدلی غږ یې پورته شو:

- خوانۍ کې دې یوه خبره په زاریو له خولې نه راوته. اوس بوټ او ایینې ته خبرې کوې. ها! زما خبره دې نه منله، چې سپین ږیری شوی یې. پرون دې د بوټ سره مشوره کوله، چې ولې دې ږیره او وېښتان سپین شوي. څه یې درته وویل؟

- ښاغلي بوټ ویل، چې د ښځې له لاسه دې سپین ږیری شوی یې.

ښېبه په کنډواله کې چوپتیا خوره شوه. ورپسې سپین ږیري وویل:

- تا هم پرون شپه له ستورو سره د مرګ په اړه خبرې کولې، ځواب یې څه و؟

- ستوري ویل، چې مرګ ته ډېر خلک انتظار باسي، ته هم انتظار کوه. ورته ومې ویل، چې یوه ننبه راته ووایه. ستوري سترګګ وواهه، چې کله نوې میاشت له دښتې سر ښکاره کړي، مرګ به دې په غېږ کې ونیسي.

- اوس خو وربځې دي. نوې میاشت نه ښکاري، تر هغه به زما دوه تاره تور وېښتان هم سپین کړې.

سړي او ښځې وخندل. خندا یې وچه او بې روحه وه.

محیا وویل:

- څنګه خندا ورځي؟

تسنیم وویل:

- ژړا یې ختمه شوې. خندا د انسان وروستۍ وسله ده. د داسې انسان، چې پرته له مرګ هېڅ نه وي ور پاتې. دوی اوس په مرګ ملنډې وهي.

***

د پنډغالي په هواره خنده کې یوه هلک د ودانیو له ورو ټوټو څه جوړول. شېبه وروسته یې ډېره په خمکه کش کړه.

نرۍ غږ یې له وچې خولې پورته شو:

- دا یې سړک. دلته مکتب دی. دلته هم روغتون... هه، یو څه پاتې دي، پارک.

ناڅاپه ولاړې ټوټې رنګې شوې، د یوه لاروي پښه ورسره ولګېده. هلک په سرې پسې وکتل، بېرته یې یوه ـ یوه ټوټه وچیندله.

تسنیم وویل:

- لورې! دې هلک ته ښه وګوره. کوچنی دی، خو د هیلې او صبر تمرین کوي. غزه چې هر څومره ونړېږي، دی یې پوره نقشه په ذهن کې لري. دا تر ټولو پیاوړی ذهن دی؛ د ښکلا ذهن.

***

ګردجن سهار د پنډغالي په څنډو خور و. تسنیم او محیا تازه له هدیرې را ګرځېدلې وې. د ودانیو د ټوټو په منځ کې یې یوه په عمر پخه ښځه ولیده، ګڼ کوچنیان ترې تاو وو. نږدې ورغلې. ښځې دوې مړې مرغۍ څنګ په څنګ اېښې وې، خیرنه جنده یې په سرو بټکو پرته وه.

ښځې په ویرجن غږ نارې وهلې:

- د شنو باغونو په لور مو پرواز مبارک شه! تاسو خو الوتی شوی، زموږ په خبر خو بې وزرو نه وئ. ولې پاتې شوئ؟

یوه هلک وپوښتل:

ـ تروږې! د مرغيو جنت چېرته؟

تسنيم په نمانځو سترګو ښځې ته ځير وه. لاس يې په سينه کېښود، سره ساه يې وايسته.

محيا وويل:

ـ خورکې! ولې داسې کوې؟

ـ د دې لپاره چې ژوند ته درناوی وکړې.

ـ مرغۍ خو مړې دي.

ـ ژوند ته درناوی، د مرګ له درناوي را تو کېږي. دا ښځه ماشومانو ته ښيي، چې د مرغيو مرګ هم وير دی. دې نړۍ کې د انسانانو مرګ عادي شوی. د مرغيو مرګ يې لوی کړ، څو وښيي چې د غزې غميزه لويه ده.

***

يو سړی د پنډغالي د سړک په منځ کې ناست و. تاو ـ تاو ږيره يې په خاورو سپېره وه. د سړي مخې ته ګڼ کتابونه چيندل شوي وو، ځينې په وينو سره و.

محيا وويل:

مورې! دا يې له کومه کړي؟

تسنيم لا خبره نه وه کړې، چې سړي وويل:

ـ له کنډوالو مې را ټول کړي. دا د فزيک کتاب دی. دغه کتابچه د يوې نجلۍ ده، مريم نومېده. همدا نيمه برخه يې ګوتو ته راغله. وګوره، دلته يې خپله خاطره ليکلې: «نن مې د پلار سره د مديترانې سيند ته په چکر تللې وم. پلار مې ويل، چې د سيند څپې د ځمکې ساه ده.»

سړي کتابچه بېرته کېښوده:

ـ لا يې هم د عطرو بوی لګېږي.

تسنيم وويل:

ـ وروره، يو ځل يې راکړه.

تسنيم د کتابچې پاڼې پوزې ته ونيوې. د سنځلو د عطرو خوږ بوی يې حس کړ. سړه ساه يې واېسته:

ـ وروره، له ځان سره يې وړی شم؟

ـ نه! دا کتابچه او کتابونه مې د وجود يوه برخه ګرځېدلي.

تسنيم او محيا ګامونه پورته کړل. د لارې په نمايي کې تسنيم د محيا لاس ټينګ ونيو، ورو يې وويل:

ـ لورې! هغه سړی په خاموشۍ کې جنګېد.

ـ ما خو يې وسله ونه ليده.

ـ لورې! هغه تر ټوله پياوړې وسله درلوده؛ ټوليزه حافظه.

***

تسنيم د کېږدۍ څنډې ته پرته وه، لړزې اخيستې وه. کله به چې د محيا او فرحان سترګې پرې ولګېدې، څېره به يې وغوړېده. خو په مخ يې غم او لوږه نځېده. له غټو سترګو يې تورې حلقې تاو وې. غومبورې يې ژور ښکارېدل، په مخ نرۍ پوست يې ژېړ بربېښېده.

زړه يې تنګ شو، دنګر ځان يې په نمجنه کېږدۍ کې نه ځاييده. په مغزو يې تبې خوله ښېښه کړې وه. لاسونه يې تکيه کړل، نرمه را پاڅېده. له کېږدۍ ووته، وړاندې د

اوبو ذخيرې ته ودرېده. سرپوښ يې لرې کړ، د اوبو له پاسه په ګرده دايره کې يې مخ ښکاره شو. شاته يې ګامونه واخيستل، ساه يې بنده ـ بنده شوه. داسې ښکارېده لکه له خپلې څېرې چې وېرېدلې وي.

ځای په ځای ودرېده. سترګو ته يې تېره زمانه نبغه شوه:

د سپينو او سرو ګلانو ګېډۍ د مېز په سر پرته وه. د محمود بدن په محفلي جامو کې هډورو ښکارېد. تسنيم د واده سپينې جامې اغوستې وې، غوښلن ګرد مخ يې سپين ځلېد. تسنيم او محمود د قرانکريم څو ايتونه تلاوت کړل.

ورپسې يوه سپين ږيري درې ځلې وپوښتل: محموده زويه قبوله دې ده؟ د محمود شونډې موسکا وغوړولې: هو قبوله مې ده. سپين ږيري غوږ کوږ کړ: څه؟ سم مې وانه ورېدل. محمود بيا وويل: قبوله مې ده. سپين ږيري غاړه تازه کړه: زويه يو څه ژوندی شه، داسې ښکاري لکه سر له اوسه يې چې د کور واک درڅخه اخيستی وي.

ټولو وخندل. محمود په خندا کې غږ لوړ کړ: قبوله مې ده.

سپين ږيري تسنيم ته وکتل، سر يې ځړېدلی و. سپين ږيري وويل: لورې لکه چې محمود لوړ غږ ووېرولې؟

سپين ږيري هماغه پوښتنه درې ځلې له تسنيم وپوښتله. تسنيم دوه ځلې د هو ځواب ورکړ، په درېيم ځل يې حياناکې سترګې د محمود لوري ته کږې کړې، د محمود په تنده مړه خوله پرته وه. تسنيم وويل: هو قبول مې دی.

سپين ږيري له نکاح وروسته اوږده دعا وکړه. محمود ته يې وويل: زويه د رسول الله وروستۍ وصيت د ښځو په اړه و. له خدايه وېره پکار ده، له خپلې ښځې سره ښه کوه.

بيا يې تسنيم ته وويل: لورې! که له خدايه وروسته سجده بل چاته روا وی، ښځې به خپلو مېړو ته په سجده مکلفې وې. د اولادونو پالنه او روزنه کې ښځه او نر ګډه ونډه لري.

خلک چوپه خوله ناست وو، سپین ږیري په لوړ غږ وویل: ای خلکو! خپل اولادونه د اسلام په ارزښتونو لوی کړئ. ژوند لنډ دی، ځواني نه پاتېږي، خو د ځوانی نبک اعمال تل شنه او زرغون وي.

دوو هلکانو یو په بل پسې منډې وهلې. د یوه پښه له خالي بوشکې سره ولګېده، د تسنیم څنګ ته ولوېده. د تېرو یادونو ډېوه یې په ذهن کې مړه شوه.

***

پنډغالي کې د ماشومانو ژړا شور جوړ کړی و. ډېری خلک خالي لاس خپلو کېږدیو ته را ستنېدل. د ماشومانو خېټې یې په اوبو ډکولې. پاخه خواړه د خلکو په هیله بدل و. دوه وخته وچه ډوډۍ، یو وخت شوې وه.

محیا په تیاره کې له کېږدۍ ووته. وړاندې لاسي څراغ سپین ځلېد. ګنو خلکو سپورې ډوډۍ ته لاسونه اوږده کړي ول.

محیا لاره کړه کړه. سترګې یې یوې او بلې خواته وڅرخولې. د خلکو په ګڼه ـ ګوڼه کې د ډوډۍ تر لاسه کول سخت ورته وبرېښېدل. شپېه ودرېده، د پنډغالي هغه سړی وریه زړه شو، چې مرغۍ یې ورته رسم کړې وه.

هڅه یې وکړه، پیدا یې نه کړ. بیا یې په خلکو سترګې ولګېدې، د سپورې ډوډۍ له وېشونکو داسې چاپېر وو، لکه غومبسې چې په څاله پنډ وي.

د یوه سړي لمن یې کش کړه:

ـ هغه کاکا چېرته چې مرغۍ مې ورته رسم کړه؟

د سړي غږ لوړ شو:

ـ څه وایې؟ کوم کاکا؟

ـ مخکې یې چې ډوډۍ وېشله؟

- زه يې نه پېژنم.

د محيا سر وګرځېد. د پنډغالي په ګڼه - ګونه کې يې ځان يوازې وليده. ببرته يې سترګې وغړولې، د ډوډۍ وېشونکو خولې تندې د څراغ تتې رڼا ته ګونځې ښکارېدې.

هره ډوډۍ به يې چې له لوښي پورته کړه، شپږ - اووه لاسه به په لنډه فاصله کې ور اوږده شول.

محيا په زړه کې وويل: بختور هغه لاس دی، چې ډوډۍ ور لوېږي.

شپېه وروسته د سړي غږ لوړ شو:

- لا هم ولاړه يې؟ لاړ شه کتار کې ودرېږه.

محيا بېروسه څېره ونيوه. د سړي په زړه يې لړزې راوستې. سړي هډورې اوږې د خلکو له اوږو سره وجنګولې. وچه ډوډۍ يې را واخيسته، د محيا مخې ته ودرېد:

- واخله.

محيا لنډه ورغبرګه کړه:

- ستا برخه نه غواړم.

سړي سترګې پټې کړې. لاندينۍ شونډه يې په غاښونو وچيچله. تور رنګ يې لا تور واوښت:

- زه له ډوډۍ وېشونکو سره يم.

محيا پټه خوله ډوډۍ ور واخيسته. فکرونو په مخه کړې وه، لړزانده ګامونه يې اخيستل. وړاندې په تياره کې ورکه شوه. شپبه به لا نه وه وتې، چې د موټر ژېړو څراغو ته يې ببر سر ښکاره شو.

موټر هارن وکړ. محيا چيغه وکړه، له لاسه يې ډوډۍ ولوېده. منډې يې کړل، ببرته را

وګرځېده، دوډۍ يې له ځمکې پورته کړه.

ساه نيولې په کېږدۍ ننوته. ډېوه بله وه، رڼا يې تته ښکارېده. د تسنيم غېږې ته ورغله، په يوه خوله يې ويل:

ـ له موټره کرکه لرم، له هارن يې کرکه لرم.

تسنيم په غېږ کې ونيوه. د اوږو هډوکي يې راوتلي ول. وچې شونډې يې د محيا په سر کېښودې.

محيا په سلګيو کې ويل:

ـ د موټر له هارن کرکه لرم، کرکه.

سلګۍ يې چې ودرېدې، په بله ډېوه يې سترګې ولګېدې:

ـ دا له کومه شوه؟

تسنيم په لړزانده غږ ځواب ورکړ:

ـ د جنراتور تېل خلاص و، ډېوې يې وېشلې.

***

محيا د تسنيم په ټوخي راويښه شوه، داسې ټوخېده لکه دوې ډبرې چې وهل کېږي. ساه نيولې وه، ټټر يې په سوک واهه. محيا پلاستکي کوزه ورته ونيوه. تسنيم يې ښنکورى کوږ کړ، يو غوړپ اوبه يې د ژبې لاندې ولوېدې. لا يې ستوني ته نه وې تيتې، چې له خولې يې داره وکړه؛ درنه وټوخېده. فرهان يې په غږ راويښ شو.

محيا لاس ورکړ، له ځايه يې را پورته کړه. له کېږدۍ ووتې. فرحان هم ورپسې منډه کړه.

محيا يې لاس ټينګ نيولى و. د تسنيم په زړه يې د ورغوي تودخه خوره لګېده.

تسنیم په زړه کې وویل: لورې! لا دې د لوبو وخت و، خو دروند پېټی دې په اوږو ولوېد.

د پېڅغالي څخه درې واړه ووتل. د پېڅ خاورو خواته ورغلل. د قبرونو شمار نه کېد. کوچني قبرونه ډېر ښکارېدل. د یوه قبر په ډبره نرۍ شنه جنډه رپېده. تسنیم او محیا ورغللې. د تسنیم شونډې نه رپېدې، په زړه کې یې څه ویل.

د محیا کمیس باد ورپاوه، داسې ښکارېده لکه د بل چا جامې یې چې اغوستې وي. فرحان د محیا څنګ ته را ورسېد، د هغې ډنګر لاس یې ونیو:

ـ دلته څه کوو؟

محیا وویل:

ـ هسې راغلو، اوس ځو.

شېبه وروسته له پېڅ خاورو را وګرځېدې. فرحان به کله ترې مخکې شو، کله شاته. څو ګامه چې مخکې لاړې، په شنه او سپین کمیس یې سترګې ولګېدې، په خاورو کې پروت و.

تسنیم ټیټه شوه، په ویتو لړلی کمیس یې ور واخیست، وینې یې کلکې وې.

محیا حیرانې سترګې ونیوې:

ـ په دې څه کوې؟

ـ په کېږدۍ کې درته وایم.

تسنیم زانګې ـ وانګې مخکې تلله. یوه ښځه یې تر سترګو شوه، هلک یې په غېږه کې نیولی و، څلور تېوتې هډوکی ښکارېد. د تسنیم زړه تېزه درزا پیل کړه، له ځان سره یې وویل: که د لوږې او فقر ځېره وای، همدا یې ځېره وه.

***

تسنیم د کېږدۍ په خوله کې وینې لړلی کمیس مینځه. کلکې وینې یې نرمې شوې، سرې اوبه په خړو خاورو وځغېدې. کمیس یې په ډبره هوار کړ. نرۍ بخار ترې پورته شو.

شپه وروسته یې کمیس را واخیست، لا یې هم د وینو سوړ بوی لګېد.

تسنیم په کېږدۍ کې یوې او بلې خواته وګرځېده. څه یې پیدا نه کړل. له کېږدۍ ووته. د رالوېدلي دېوال په سینه تېره وسپنه ولاړه وه.

د کمیس منځ یې د وسپنې په څوکه کېښود، زور یې وکړ، وسپنه د نېزې په څېر د کمیس له زړه وختله. سوری یې لوی شو، کمیس یې څو ځایه پرې کړ.

بېرته کېږدۍ ته ننوته. څو پرې شوې ټوټې یې ګردې تاو کړې. نورې ټوټې یې اوږدې پسې ګنډه کړې. یوه نرۍ جنډه یې له اوږدو ټوټو تاو ـ تاو کړه، کلکه غوټه یې ورواچوله.

شپه وروسته یې محیا ته وویل:

ـ لورې! په دې نانځکه (ګوډۍ) لوبې کوه.

***

د محیا او فرحان سیوري د کېږدۍ په پرده پراته ول. د بلې ډېوې له سره نري غوړي ځځېدل، ډډې ته به یې چې راکښته شول، وبه پړسېدل، په شپه کې به ګنګل واوښتل.

تسنیم د ډېوې ننداري ته خیر وه، په ډېوه کې یې د خپل ژوند تصویر ولیده، چې یوه ورځ ښکلې وه. د جنګ او فقر لمبو یې ژوند وېلې کړ. هیلو یې د ډېوې د غوړو په څېر تېښته ترې وکړه. اوس پنډغالي کې ژوند ګنګل ورته ښکارېده.

تسنیم بیا ډېوې ته ځیر شوه. سترګو ته یې لویې او خونخوارې امپراتورۍ ودرېدې، چې همداسې مړې ـ مړې سوځېدې، څو د قدرت او ځان غوښتنې لمبه بله وساتي. خو سرونو یې اور واخیست، د ډېوې په څېر یې ملاوې کړې شوې. یوې زوروړې څپې یې ملاوې ور ماتې کړې.

فرحان چیغه وکړه: مورې، ډېوه.

تسنیم سترګې رډې کړې، د ډېوې ژېړه لمبه باد یوې او بلې خواته نځوله. وړاندې لاړه، د ډېوې له لمبې یې لاسونه چاپېر کړل، نرمه تودخه یې په ورغویو ولګېده.

فرحان وویل: مورې که ډېوه مړه شي، پلار به مو څنګه پیدا کړي؟

ـ نه مړه کېږي زویه!

شپه وروسته محیا او فرحان درانه خوب یووړل. تسنیم هماسې لاسونه د ډېوې له لمبې چاپېر کړي وو.

د پنډغالي په انګړ کې تیز باد لګېد، د دوو کبردیو په منځ کې به چې تېر شو، اوږد او ویرونکی غږ به ترې پورته کېده.

نیمه شپه شوه، خو لا هم د تسنیم سترګې خوب پټې نه کړې. ډېوه د غچې ګوټې په څېر پاتې وه، مړه ـ مړه سوځېده.

تسنیم په سینه کې ځیرکه حس کړه، چپه اوږه یې درنه شوه، سر یې سوی وکړ، ځیرکه په وچ درد واوښته. ساه یې بنده شوه. یوه اړخ ته ړنګه شوه. له خولې یې خرهاری خوت. خرهای په سلګیو بدل شو.

له درییمې سلګۍ سره د ډېوې تته رڼا، تورې تیارې وخوړه.

د الله اکبر ناري د باد په وېرونکو څپو کې خورې لګېدې. د اذان په نمايي کې محيا راوېښه شوه. غوږونه يې څک کړل، باد په انګړ کې کاسه لغړوله. لاسونه يې پورته وغځول، وازې خولې ته يې ورغوی ونيو. سترګې يې په تسنيم ولګېدې، چپ اړخ ته کږه پرته وه. له ځايه را پورته شوه، د تسنيم سر ته ودرېده:

ـ مورې! د لمانځه وخت دی.

د کېږدۍ له کونج يې کوزه را واخيسته، سيده ووته. بړبوکۍ يې مخ ته سيخه شوه، سترګې يې پټې کړې، د خاورې بخرې يې په ټنډه او غومبوريو تېره لګېدل. سترګې يې لوڅې کړې، د اوبو ذخيرې ته ودرېده، کوزه يې ور ټيټه کړه. په لاس کې يې درنه شوه، نمايي اوبه يې بېرته تشې کړې.

شېبه وروسته کېږدۍ ته ننوته. لاس يې وتپاوه، د محمود دستمال يې را پورته کړ، مخامخ يې هوار کړ. له لمانځه وروسته ناسته وه، بڼه ګوته يې د غچې په بند درې ځلې

تېره کړه. درې ـ درې خله يې په نورو گوتو کش کړه. لاسونه يې لپه کړل، تر دېره يې شونډې خوځېدې.

رڼا ورو ـ ورو په خورېدو وه. محيا بيا وويل:

مورې! لمونځ په قضا کېدو دی.

باد په څلور کونجه کېږدۍ ولگېد، داسې غږ ترې پورته شو، لکه څوک چې دروازه ټکوي. محيا له ځايه را پورته شوه، د تسنيم څنگ ته ورغله، سترگې يې وازې پاتې وې.

محيا وويل:

ـ مورې په لوڅو سترگو لمونځ په خان قضا کوې؟

خواب يې وانه ورېد.

ـ په ځان دې لورېږې؟

شېبه چوپه خوله وه، بيا يې وويل:

ـ خورکې خپه يې؟ ولې غږ نه کوې!؟

د محيا له زړه سکون تېښته وکړه، ځای يې وېرې ونيو. لاس يې اوږد کړ، د تسنيم په سره څنگل يې کېښود. ورو ـ ورو يې وخوځوله، خو نه خوځېده، د لرگي په څېر شخه وه.

پښې يې ولړزېدې، زنگنونه يې په ځمکه ولگېدل، غريو واخيسته:

ـ څه درباندې شوي، خواب راکړه.

غريو يې په شېبه کې په چيغو بدل شو:

ـ مورې! وی مورې!

فرحان خای په ځای کېناست. سترګې یې وموښلې، محیا د تسنیم په څنګل تنده لګولې وه، له خولې یې کوکې وتې.

فرحان په لړزانده غږ وویل:

ـ څه دي؟ څه شوي؟

محیا هماسې ژړل. فرحان یې تر څنګ کېناست. لاس یې اوږد کړ، تسنیم یې وښوروله:

ـ مورې پورته شه محیا ژاړي!

د فرحان ژړا د محیا له کوکو سره ګډه شوه:

ـ ولې خواب نه راکوئ؟

کېږدی ته یو ښځه را ننوته، په منځ کې یې ودرېده:

ـ ولې ژاړئ؟

وړاندې لاړه، محیا یې له مټ ونیوه، ښغه یې را پورته کړه. سترګې یې د تسنیم په څېره ولګېدې.

سړه ساه یې واېسته:

ـ الله!

تسنیم یې شا په تخته کړه. څو ګامه مخکې لاړه، د محمود دستمال یې را واخیست، په څېره یې ور وغوړاوه. پوزه یې له نمجن دستماله هسکه ښکارېده.

د محیا کړیغې د فرحان په کوکو کې لوړې وې:

ـ مورې، خورکې!

د دواړو چیغې د باد له زوړ سره ګډې وې. څېرې یې داسې ویرجنې وې، لکه د ټولې غزې غم چې پکې پروت وي.

***

د کېږدۍ له څنډې سره ښځې ولاړې وې. څلور کسه په بېړه راغلل، دوه اوږده لرګي یې په ځمکه کېښودل، خاورینه ټوټه ترې تاو وه. جنازه یې د لرګیو په منځ کې کېښوده. د لرګیو څوکې یې اوږو ته پورته کړې، زانګې ـ وانګې روان شول. شاته محیا او فرحان ورپسې وو. وېرجنو څېرو کې یې ټکی وینه نه ښکارېده.

فرحان خوله خلاصه کړه:

ـ روغتون ته یې وړي؟

محیا څه و نه ویل، شونډې یې ورپېدې، د سترګو کونجونه یې سره برېښندل.

جنازه یې هوار انګړ ته یوړه. څو کتاره خلک ودرېدل. یو سړی مخکې شو، لاسونه یې غوږونو ته اوچت کړل، بل غږ وکړ:

ـ صبر! نورې جنازې را روانې دي.

شېبه وروسته یې شل جنازې څنګ په څنګ کېښودې. یوویشتمه امام ته نږدې وه. محیا او فرحان په ړډو سترګو ورته کتل. د جنازې له لمانځه وروسته د خلکو کتارونه ورو ـ ورو رنګ شول. جنازې یې پورته کړې، نرۍ دوړه یې له پښو پورته کېده.

***

جنازې یې د قبرونو تر څنګ کېښودې. دوو کسانو یوویشتمه جنازه قبر ته ټیټه کړه. د محیا په مخ اوښکې روانې وې، لاسونه یې لړزېدل، ژامې یې کړپا کوله.

خاورې یې په قبر وشیندلې، د دوړو تېز بوی د ولاړو کسانو په خوله ننوت.

فرحان منډه کړه، د سړي شاته يې سوک ونيو، په کړيغو شو:

- په مور مې خاورې مه اچوه.

د لمر وړانګې د سرو لمبو په څېر په قبرونو لوېدې. محيا ورمنډه کړه، فرحان يې ټينګ په غېږ کې ونيو. ورو - ورو شاته لاړل، فرحان مخې ته زورونه وهل. اوښلنې سترګې يې قبر ته نيولې وې.

شپېه وروسته پنډ خاورې په قبر ودرېدې. دوو کسانو بېلچې اوږو ته کړې، د محيا او فرحان له څنګ تېر شول. فرحان ډبره را واخيسته، لاس يې شاته کش کړ، ډبره د سړي له پښو سره ولګېده. سړی شپېه ودرېد، شاته يې وکتل، سر يې وخوځېد، چوپه خوله روان شو.

محيا د فرحان لاس ټينګ نيولی و، د پنډ خاورو ډډ ته ودرېدل، لا سپېرې دوړې ترې پورته کېدې.

***

خلک ورو - ورو له هديرې ووتل. محيا او فرحان هماسې ولاړ ول، سيورې يې د قبر په څنډه لګېدل. هديره کې چوپتيا خوره شوه. محيا يوې او بلې خواته وکتل، يوازې پنډ - پنډ خاورې يې تر سترګو شوې. د قبر څنګ ته کېناسته، له پښو يې سېکه ختلې وه.

فرحان وويل:

- مور يې په خاورو کې ولې پټه کړه؟

محيا سترګې ور واړولې:

- مور بلې نړۍ ته لاړه.

- دا خو خاورې دي.

ـ د خاورو لاندې بله نړۍ ده.

فرحان لنډ له قبر راتاو شو:

ـ خاورې به ترې لرې کړو، زه او ته به هم ورشو.

د محیا لړزانده لاسونه له فرحان تاو شول.

فرحان وویل:

ـ پلار هم ورک دی، ولې نه راځي؟

ـ هغه هم بلې نړۍ ته تللی.

ـ هلته څه کوي؟

محیا څه و نه ویل، په ذهن کې یې خواب لټاوه. شېبه وروسته یې وویل:

ـ ما او تاته ګلان راوړي.

***

د لمر سترګه د اسمان په نمایي لمنه کې رڼه ځلېده. محیا او فرحان د قبر سره ناست وو، فرحان غږ پورته کړ:

ـ اوس به یې ګلان راوړي وي.

محیا په سوچونو که ډوبه وه، په لړزانده غږ یې ځټکه وخوړه:

ـ لورې ډېره درپسې وګرځېدم.

د محیا سترګې د ښځې په ګونځې مخ ولګېدې، لیکه ـ لیکه اوښکې یې په مخ روانې وې. لړزې واخیسته، جامې یې ورټولې کړې، له ګونډو یې لاسونه تاو کړل.

ښځې لاس ور اوږد کړ، محیا بلې خواته مخ واړاوه، د ښځې لاس بېرته وځړېد.

ښځه نږدې ورغله، تر څنګ يې کېناسته.

د محيا له خولې کوکه ووته:

ـ يوازې مې پرېږده.

د ښځې بله خبره په خوله کې وچه شوه. لړزانده لاس يې د محيا سپېره مخ ته ور اوږد کړ. محيا يې لاس ټېل واهه.

زړې ښځې وويل:

ـ لورې!

محيا غږ لوړ کړ:

ـ څه دې؟

د زړې ښځې شونډې ونښتې، ورو يې وويل:

ـ زما سره لاړه شه.

ـ زه تا نه پېژنم.

زړې ښځې سوړ اسويلی وایست:

ـ د مور ملګرې دې وم.

محيا په کرکه ور وکتل:

ـ په لومړي ځل دې وينم.

د زړې ښځې سر وځړېد. د قبر له خاورو يې د لرګي خلی ور واخيست، کږې ـ وږې کرښې يې د قبر په ډډ رسم کړې.

سر يې را پورته کړ:

ـ تا لوبې کولې، زه او مور دې ملګرې شوو.

محيا لنډه ورغبرګه کړه:

ـ د يوې ورځې به څه ملګري وي.

شبېه د دواړو په منځ کې ژوره چوپتيا خوره وه. ورپسې محيا وويل:

ـ زما يوه ټولګيواله ليان نومېږي، دوه کاله وروسته پخې ملګرې شوو.

ـ اوس چېرته؟

ـ نه پوهېږم.

ـ زما لمسی هم ښه تجلي ده، ساعت به دې ورسره تېر شي.

محيا سرې سترګې ور واړولې:

ـ نه ځم.

زړه ښځه را پاڅېده، څو ګامه مخکې لاړه. بېرته شاته را وګرځېده، د تنډې ګونځې يې ژورې وې:

ـ که زما سره لاړه نشې، د يتيمانو موسسه دې وړي. ولاکه بيا د خپلې مور قبر په سترګو ووينې.

زړې ښځې حرکت وکړ. محيا په سوچونو کې ډوب شوه، د ښځې له هر ګام سره يې د زړه درزا تېزېده. شبېه وروسته يې کوکه وکړه:

ـ ودرېږه.

زړه ښځه ودرېده. محيا ورمنډه کړه. د ښځې له ملا يې لاسونه تاو کړل، په غريو کې يې وويل:

- خیر دی موسسې ته مې مه سپاره، خیر دی.

***

د زړې ښځې ملا کږوپه وه. څنګ ته يې محيا او فرحان روان ول. يوې کېږدۍ ته نږدې شول، محيا په کېږدۍ ننوته. يوې او بلې خواته يې سترګې وګرځولې. د مور ټکرۍ، نانځکه او د محمود دستمال يې را واخيستل. ورو - ورو له زړې ښځې سره روانه شوه. د لارې په نمايي کې يې بېرته کېږدۍ ته منډه وکړه.

ښځې ملا نېغه کړه، لړزانده غږ يې له خولې پورته شو:

- چېرته؟

محيا له شا غږ وکړ:

- راګرځم.

شېبه وروسته له کېږدۍ را ووته. يوه پلاستيکي کڅوړه يې په لاس کې وه، ساه نيولې د زړې ښځې تر څنګ ودرېده. اوښکې يې په سترګو کې رڼې ځلېدې.

زړې ښځې وپوښتل:

- دا څه دي؟

- د رسم کتابچه او رنګې.

***

محیا له ښځې سره کېږدۍ ته ننوته، شاته فرحان ورپسې و. د محیا په سترګو تیاره راغله. ورو - ورو یې سترګې وغړولې، غولی یې تر مخکینۍ کېږدۍ کوچنی و. د خړې ګلداره پردې په منځ عکس را ځړېدلی و، له تور چوکاټه یې ژېړ تارونه تاو ول.

محیا عکس ته خیر شوه، یو سپین ږیری د دربیو ځوانانو په منځ کې ولاړ و. د ټولو خولې له خندا ډکې وې.

د محیا په سترګو کې تیاره وځغلېده. شکېدلی بوټ یې له ښي پښې را وویست. بوټ یې کش کړ، کړس شو، د عکس ښیښې په غولي ولوېدې.

زړې ښځې د محیا مټ وخوځوله:

- ولې لورې، ولې؟

محیا په ژړغوني غږ وویل:

- مورې غمجن یوو، دوی خاندي.

یوه نجلۍ د کېږدۍ له کونج را پورته شوه. سترګې یې د عکس په چوکاټ ولګېدې، یوې خواته کوږ و. لاسونه یې اوږده کړل، محیا یې له ګرېوان ونیوه:

- ولې دې زما د بابا عکس وویشت؟ ولې دې زما پلار او ترونه وویشتل؟

ښځې په سختۍ د نجلۍ منګولې د محیا له ګرېوان لرې کړې. نجلۍ یې په ټېلو - ټېلو له کېږدۍ وویسته. شپېه وروسته ښځه وراندې لاړه، ښیښې یې را ټولې کړې، بیرون یې یوې خنډې ته واچولې. د لمر وړانګې پرې خورې شوې. له لرې داسې برېښېدې، لکه له خاورو چې کوچنې ستورې را پورته شوې وې.

***

زړه ښخه د کېږدۍ په خوله کې ناسته وه. د مخ ګونځې يې ژورې ښکارېدې. محيا په زړه زور راوست، غلې يې تر څنګ کېناسته. ښځې بلې خواته مخ وګرځاوه.

محيا غريو واخيسته، سر يې وځړېد. لاس اوږد کړ، د ښځې په کړوپو اوږو يې کېښود.

په غريو کې يې وويل:

- انا بيا داسې نه کوم.

د انا کلمه د زړې ښځې په زړه خوږه ولګېده. لړزانده لاسونه يې له محيا چاپېر کړل، ټينګه يې په غېږ کې ونيوه.

محيا په سلګيو کې وويل:

- انا ما وبښه.

د ښځې سپېرې شونډې د محيا په سر ولګېدې:

- ما بښلې يې لورې.

محيا سر را پورته کړ، د زړې ښځې لمدې سترګې يې وليدې. په لومړي ځل يې له اوښکو خوند واخيست. موسکا يې په اوښلنه څېره وغوړېده.

د ښځې له سترګو اوښکې را ماتې شوې، د سپينو ملغلرو غونډې يې په مخ روانې شوې.

محيا داسې ښکارېده لکه د زړې ښځې اوښکو يې چې ټول غم له زړه مينځلی وي.

سر يې د ښځې په سينه کېښود:

- انا د ښېښې اوښکې وې؟

د زړې ښځې زړه ولړزېد:

ـ هو لورې! د ښښنې اوښکې وې.

ـ ډېرې خوږې وې.

شپبه وروسته د زړې ښځې غږ لوړ شو:

ـ حسنات دلته راشه.

حسنات له کېږدی را ووته، په تنده يې دوه ليکې ګونځه ښکارېده.

زړې ښځې وويل:

ـ تجلی ته غېږه ورکړه.

حسنات هماسې ولاړه وه.

د زړې ښځې غږ لوړ شو:

غېږه ورکړه.

حسنات مخکې لاړه، د محيا مخې ته ودرېده. محيا ټينګ لاسونه ترې چاپېر کړل، د حسنات په غېږ کې لړزې اخيستې وه. د حسنات لاس ځړېدلي ول، د تندې په دوه ليکه ګونځو يې د لمر ژېړې وړانګې پرتې وې.

***

محيا د کتابچې پاڼه واړوله، پنسل يې را واخيست، عکس ته يې وکتل. شېبه وروسته يې خلور څېرې رسم کړې، لاندې يې ترې وليکل:

ـ د حسنات بابا، پلار او ترونه.

شېبه سوچونو يوړه، وروسته يې د پاڼې په څنډه وليکل:

- ښېنه غواړم حسنات.

پاڼه يې له کتابچې پرې کړه، زړې ښځې ته يې ونيوه:

- انا دا حسنات ته ورکړه.

فرحان يې له لاس ونيو. جوړه له کېږدۍ ووتل. دلمر سترګې ته يې وکتل، نيمه ډوبه شوې وه. فرحان په وچو شونډو ژبه تېره کړه:

- خپلې کېږدۍ ته به ولاړ شو، پلار او مور به ګلان راوړي وي.

محيا غريو واخيسته:

- ژر نه راځې، زه او ته يې انا ته سپارلي يو.

د کېږدۍ ډډې ته غلې کېناستل، د پنډغالي له وروستۍ څنډې شين دود پورته کېد، ژوره چوپتيا يې په منځ کې خوره شوه. محيا د ګامونو غږ واورېد، سر يې وځړېد. شېبه وروسته يې په اوږه لاس ولګېد. څنګ يې بدل کړ، سترګې يې په حسنات ولګېدې. لړزېدلې راپورته شوه، ژامې يې وکړپېدې. حسنات ټينګه غېږه ترې تاو کړه، د محيا د زړه درزا نرمه شوه. درې واړه بې څه ويلو په کېږدۍ ننوتل.

***

د زړې ښځې مخ ژېړ ځلېد. ژوره ساه يې واخيسته، ورو يې شونډې ورپېدې:

- حسنات د پخو خوړو بوی دی.

د کېږدۍ په کونج کې کړپا وخته، حسنات غوری را واخيست، د باندې ووته. شېبه به لا نه وه وتې، چې محيا ورپسې ورغله. د حسنات تر څنګ ودرېده، په لړزانده غږ يې وويل:

- يوځای خو.

د پنډغالي په نمايي کې محيا منډه واخيسته، حسنات غږ لوړ کړ:

ـ چېرته؟

همدلته ودرېږه.

محيا کېږدۍ تر سترګو تېرې کړې، ساه نيولې په بله ننوته. سترګې يې يوې او بلې خواته وګرځولې. وړاندې لاړه، تور دېګ يې را پورته کړ. شببه ودرېده. د تسنيم څېره يې سترګو ته ننبغه شوه، چې له ډېوې يې لاسونه چاپېر کړي وو. سر يې څو ځله يوې او بلې خواته وخوځاوه، اوښلنې سترګې يې د کېږدۍ خولې ته ور واړولې، په ذهن کې يې د تسنيم څېره رڼګه شوه.

منډه يې کړه، د حسنات تر څنګ ودرېده. جوړه روانې شوې، په کتار کې ودرېدې. شببه وروسته يې په لوښيو کې يوه ـ يوه څمڅه خواړه ولوېدل، تاوجن بخار ترې پورته کېد. محيا سوړ اسويلی واېست، ډېره موده پس يې د پخو خوړو بوی په پوزه ننوت.

❁❁❁

د کېږدۍ څراغ سپين ځلېد. د ټولو ژامې خوځېدې. محيا له ډوډۍ دومره خوند نه اخيست، لکه د فرحان له غټو ګولو. فرحان د وروستۍ مړۍ سره سر را پورته کړ. سترګې يې د ښځې په ګونځې مخ ولګېدې، په ډکه خوله يې وويل:

ـ مخ دې اوتو کړه، ګونځې به يې ورکې شي.

محيا رډې سترګې فرحان ته ور واړولې:

ـ مشرانو ته څوک داسې نه وايي.

فرحان حيرانه څېره ونيوه:

ـ جامې به مې چې مور اوتو کړې، ګونځې به يې ورکې شوې.

د زړې ښځې په شونډو موسکا پرېوته:

ـ مکوه لورې! ماشوم دی.

وریسې یې وویل:

ـ لورې! پل مو بختور دی. یو دېگ مو دوه دېگه شول. موده پس مو پاخه خواړه وخوړل. برېښنا هم راغله.

د محیا سر وخوځېد، غریو واخیسته، په سختۍ یې اوښکې کابو کړې. حسنات لوښي ټول کړل. شبېه وروسته د زړې ښځې تر څنګ کېناسته.

د زړې ښځې غږ لوړ شو:

ـ حسنات! د زخمي زړونو سکون ووایه.

ـ کوم سورت انا؟

زړه ښځه سوچونو یوړه، شبېه وروسته یې وویل:

ـ تر ټول کلام مې جار کړې، خو د یوسف سورت مې په زړه ښه لګېږي.

حسنات یو غوړپ اوبه وڅښلې، سترګې یې پټې کړې، له حنجرې یې خوږ غږ پورته شو. محیا حیرانې سترګې د حسنات په لورې وڅرخولې. له هر ایت سره یې زړه سپکېده.

حسنات به چې غږ لوړ کړ، د کېږدۍ په څلور کونجه کې به یې انګازې کولې. محیا لړزې واخیسته، سترګې یې ومونښلې، لکه خوب چېویني.

زړه ښځه زنګېده، ورو ـ ورو یې شونډې رېږدې.

د سورت په پای کې د حسنات غږ ټیټ شو. په کېږدۍ کې ژوره خاموشي خوره شوه. زړه ښځه څنګ ته کږه شوه، اوږده وغځېده. شبېه وروسته یې خرهارۍ خوت.

محیا د حسنات څنګ ته نږدې شوه، ورو یې ترې وپوښتل:

ـ قرانکریم دې ټول یاد دی؟

ـ نه!

ـ خو د یوسف سورت دې ټول یاد و؟

ـ انا دومره راباندې ویلی، چې یاد شوی مې دی.

ـ ولې؟

ـ کله چې زما پلار او تره وریه زړه شي، د یوسف سورت راباندې وایي.

ـ څنګه پوهېږې؟

ـ اوس د انا په خوی بلده یم.

ـ پلار او تره دې چېرته؟

ـ ورک دي.

محیا سوچونو یوړه، د حسنات په خبره کې یې سترګې خنبې کړې. ذهن کې یې لا هم د هغې غږ لګېد. شېبه وروسته یې وویل:

ـ ښایسته غږ لرې.

ـ مننه.

ـ قرانکریم دې له چا زده کړ؟

ـ تره مې قاري و، په تلاوت کې یې د مصر له قاریانو وړې وه. هغه را زده کړ.

***

زړه ښځه د کېږدۍ په خوله کې ناسته وه. دوې لوېې ستنې یې په لاس کې وې، څوکې یې د لمر ژېړو وړانگو ته سپینې ځلېدې. شین تار یې له یوې او بلې ستنې کاږه.

شببه وروسته یې محیا ته غږ وکړ:

ـ لورې! دلته راشه.

محیا یې مخې ته ودرېده. زړې ښځې یې ښی لاس ور ونیو، شین لاسبند یې ور واچاوه. د محیا څېره وغوړېده، لاسبند ته یې په ځیر وکتل. کلکه غېږه یې له ښځې تاو کړه.

د فرحان سترگې د محیا په لاس ولگېدې. را پورته شو، د ښځې اوږه یې وخوځوله:

ـ ما ته څه جوړوې؟

زړې ښځې لا خبره نه وه کړې، چې حسنات وویل:

ـ تاته یې زه جوړوم.

فرحان د حسنات تر څنگ غلی کېناست.

حسنات وویل:

ـ محیا یوه پاڼه راکړه.

ـ خپله یې له کتابچې پرې کړه، خو سپینه.

شببه وروسته یې د فرحان سترگو ته کاغذي بېړۍ ونیوه. فرحان د موټر په څېر په څمکه کشوله.

د حسنات غاښونه وځلېدل:

ـ دا خو موټر نه دی.

فرحان حیرانه څېره ونیوه:

ـ خی څنګه چلېږي؟

ـ په ما پسې راځه.

د کېږدۍ مخې ته یوه پلاستیکي کاسه ایښې وه، په منځ کې یې خړې اوبه وې. کاغذي بېړۍ یې د اوبو منځ کې خوشې کړه، باد یوې او بلې خواته زنګوله.

***

محیا د قبر څنګ ته ناسته وه، سپېرې خاورې یې یوې او بلې خواته اړولې. نښتې شونډې یې ورو وریېدې:

ـ مورې! انا ستا په څېر مهربانه ده. نه پوهېږم څه وخت درسره ملګرې شوې، خو په زړه مې خوږه لګېږي. یوه لمسۍ لري، هغه هم خوږه ده. نه، لیان ډېره خوږه ده. نه، د لیان مخ ښایسته دی، د حسنات غوږ.

شېبه وروسته بل قبر ته لاړه. د ډبرې په سر شنه جنډه باد یوې او بلې خواته اړوله. د قبر ډډ ته غلې کېناسته، سپېرو خاورو ته یې خبرې پیل کړې:

ـ پلاره! مور هم درغلې. قول درکوم چې له فرحان به ساتنه کوم. خیر دی، کله ـ کله خوب ته راځه. وېرېږم چې څېره دې راڅخه هېره شي.

***

فرحان په ساه نیولي غږ وویل:

ـ هغه د اوبو موټرک، اوبو وخوړ.

د حسنات او محیا په شونډو نرۍ موسکا وغوړېده.

حسنات وویل:

ـ هغه څنګه؟

ـ د اوبو موټرک په یوه اړخ په اوبو کې ولوېد. راپورته مې کړ، سوری شو.

ـ بیا دې څه کړ؟

ـ لر ته مې کېښود.

ـ اوس چېرته؟

ـ ببرته مې اوبو ته خوشې کړ، ډوب شو. لږ وروسته یې ټوټې د اوبو سر ته راغلې.

محیا کېږدۍ ته ننوته. ببرته را ووته، کتابچه یې حسنات ته ونیوه. حسنات یوه خالي پاڼه پرې کړه. د پاڼې دوې څنډې یې د مثلث په څېر کږې کړې. دواړې خاوې یې په منځ قات کړې، اوږده څوکه ترې جوړه شوه. په څوکه یې څو ځله دوې ګوتې کش کړې، نرۍ شوه. ولاړې خواوې یې په مخالف لوري کږې کړې.

فرحان وویل:

ـ دا څه دي؟

ـ الوتکه.

ـ دا هم په اوبو کې چلېږي؟

ـ نه! په هوا کې.

حسنات د کاغذي الوتکې څوکه د دوو ګوتو په منځ کې ونیوه، زور یې وکړ، هوا ته یې خوشې کړه. الوتکه لوړه لاړه، ورو کړه شوه، په تېښتدو وه، درې غوټې یې په هوا کې ووهلې، له څلورمې سره په ځمکه ولوېده.

فرحان منډه کړه، له شا یې غږ لوړ شو:

ـ اوو! الوتکه د اوبو تر موټرک ښه ده.

***

د کېږدۍ په خړه پرده د محیا او فرحان سیورې پراته ول. حسنات د زړې ښځې پښې موښلې. محیا د فرحان خولې ته غوږ کوږ کړی و. زړه ښځه له ځایه را پورته شوه، نېغه کېناسته.

ـ څه وایي لورې؟

ـ کیسې غواړي.

ـ زه به کیسې ورته وکړم.

د فرحان غږ لوړ شو:

ـ ستا په خوله به خوند و نه کړي.

د زړې ښځې خندا لوړه شوه:

ـ یو خل غوږ شه، ښایي خوښ دې شي.

د فرحان تنده تروه شوه:

ـ ستا غږ ډډ، د مور مې نرم دی.

محیا د فرحان اوږه وخوځوله:

ـ غوږ شه.

فرحان محیا ته سترګې ور واړولې:

ـ خو...

محیا د فرحان په خوله لاس کېښود، بله خبره یې په خوله کې وچه شوه.

زړې ښځې له اوبو غوړپ وکړ، غاړه یې تازه کړه:

ـ په یوه شنه ځنګل کې یو کوچنی مرغه اوسېد، قاقا نومېده. قاقا خیرک او مهربانه مرغه و. یوه ورځ په ژمي کې درنه واوره اورېده. ټولې ویالې او سیندونه یخ وهلي وو، خواړه نه پیدا کېدل.

قاقا له ډېرې یخنۍ او لوږې خپله مښوکه په وزرونو موښله. له ځان سره یې فیصله وکړه، چې خواړه پیدا کړي. پرواز یې وکړ، وزرونه یې اوږده نیولي ول، د واورې بخري پرې لوېدل. په شېبه کې یې تورې وزرې سپینې او درنې واوښتې.

قاقا په هوا کې وزرې ورپولې، واوره ترې ولوېده، په لوېدلې واوره پسې یې کتل، چې سترګې یې په یوه ټپي مرغۍ ولګېدې. قاقا ټیټ شو، قو- قو یې کړل.

فرحان د زړې ښځې خبرې پرې کړې:

ـ قو ـ قو څه شی؟

زړې ښځې وویل:

ـ قو ـ قو یې د دې لپاره وکړ، چې له ټپي مرغۍ وپوښتي چې ولې داسې شوې؟

ـ مرغۍ څه وویل:

ـ مرغۍ وچوڼېده، چې یو وزر مې د ښکاري په ګولۍ ولګېد. اوس ټپي یم، نشم الوتی،

که همدلته پاتې شم، لېوان به مې وخوري. قاقا تیټ شو، وزر یې په ټپي مرغۍ وغوړاوه. مرغۍ چې توده شوه، قاقا ورو په خپلو پنجو کې را پورته کړه، ډېر مزل یې وکړ، د لرګیو په یوه خاله کې یې کېښوده.

قاقا ورته وویل، چې زه اوس راځم، خواړه درته راوړم

مرغۍ په چونېدو شوه: د یوې ونې لاندې د جوارو دانې شیندل شوې. خو پام کوه، چې دز ته وزر ورنه کړې؛ ډېر درد لري.

قاقا والوت، د پلنې ونې تر څنګ یې پنجې خښې کړې. دانې یې په بېړه ټولولې. بېرته د لرګیو خالې ته را ورسېد، دانې یې د ټپي مرغۍ څنګ ته واچولې.

د ونې لاندې یې یوه سویه ولیده، لړزې اخیستې وه. ورې سترګې یې په سپین مخ کې تورې برېښېدې.

فرحان حیرانه څېره ونیوه:

- محیا هم کله - کله د سویې په څېر لړزېږي.

د زړې ښځې په ګونځې څېره موسکا وغوړېده:

- سویې ژړل، ښېتې یې ډبا کوله، وږې وه. قاقا یوه پټي ته لاړ، واوره ډېره وه. یوې او بلې خواته یې وکتل، د یوې ونې لاندې واوره کمه وه. هلته لاړ، پنجې یې په واوره کې خښې کړې. واوره یې چې پاکه کړه، لمده خاوره یې په پنجو وکیندله. دوه ګازر یې را وویستل، په پنجو کې یې ونیول او سویې ته یې په بېړه ځان را ورساوه.

د سویې دوه غاښونه راوتلي وو. د ګازرو په لیدو یې غوږونه څک شول. په یوه ګازر یې خوله ټینګه کړه، وړه ژامه یې ډکه - ډکه کېده. په شېبه کې یې دوه ګازر تر ستوني تېر کړل. سویه په واورو کې ولغړېده، سره پوزه یې لا سره واوښته.

فرحان وویل:

ـ ولې په واورو کې لغړېده؟

ـ خکه چې له قاقا مننه وکړي.

ـ قاقا څه وکړل؟

ـ قاقا د سويې په سر وزر کش کړ. ناڅاپه يې له وزر رڼا را ووته، په ټوله ځمکه خوره شوه. دا جادويي رڼا وه. د ځنګل هر ځناور به چې د قاقا د وزر رڼا لمس کړه، يخني به يې نه کېده او زړونه به يې له خوښي ډک شول.

زړې ښځې وويل:

ـ له دې کيسې مو څه زده کړل؟

محيا وار ړومبی کړ:

ـ چېرته چې مهرباني وي، سوړ ژمی ګرمېږي.

حسنات وويل:

ـ څوک چې له نورو سره مرسته کوي، يوه ورځ به معجزه ويني.

زړې ښځې لاسونه خلاص کړل، محيا او حسنات يې غېږې ته ورغلې. فرحان هماسې په خپل ځای ناست و، خوب يې څېره بې هوښه کړې وه، سترګې يې ورو ـ ورو پټېدې.

زړې ښځې دواړه ښکل کړې:

ـ له يوې او بلې سره مينه او مهرباني وکړئ، د ژوند ژمی به مو ګرم شي.

***

کېږدی تپه تیاره وه. زړه بنخه سغېده. د محیا له سترګو خوب تښتېدلی و. د کیسې په اړه یې فکر کاوه. له ځان سره یې وویل: که مهرباني بنه ده، بیا مو ولې بې کوره کوي؟ ولې مو وژني؟ ظلم یې د څه لپاره دی؟

د فرحان غږ لوړ شو: مورې، پلاره! مه ځئ، مه ځئ.

محیا لاس ور اوږد کړ، فرحان یې وخوځاوه. شېبه وروسته د فرحان غږ ولګېد:

ـ د پلار او مور په لاسونو کې ګلان وو.

ـ سمه ده اوس ویده شه.

ـ راځه خپل مخکیني ځای ته لاړ شو، ګلان به یې راوړي وي.

***

د وچې ونې د بناخونو سیوري په ځمکه اوږده پراته ول. دوې پاڼې یې په لاندیني بناخ ځړېدې، نرمې ـ نرمې باد ته نڅېدې. محیا او حسنات په یوه سپېره ډګر کې ګرځېدې. فرحان کاغذي الوتکه الوځوله.

محیا او حسنات له ځمکې په لنو کې څه ټولول. شېبه وروسته حسنات د یوې ډبرې تېره څوکه په خاورو کش کړه، خوند یې ور نه کړ، بېرته یې لیکې په پښه پاکې کړې.

غږ یې وکړ:

ـ شګې بس دي، راشه زړه رسم کړه.

محیا ډبره ور واخیسته. درې لوی زړونه یې ځنګ په ځنګ رسم کړل. حسنات څو شګې پورته کړې، د یوه زړه په منځ کې یې لندې او اوږدې کېښودې. دوه نومونه ترې جوړ شول: ابراهیم او عبدالله.

محیا نورې شګې حسنات ته ورکړې. حسنات د بل زړه په منځ کې ودرېده، له محیا یې وپوښتل:

ـ د چا نوم جوړ کړم؟

ـ د مور او پلار مې.

ـ څه نومېږي؟

ـ تسنیم او محمود.

شېبه وروسته د زړه په منځ کې له شګو جوړ دوه نومونه د لمر وړانګو ته وبرښېدل.

حسنات درېیم زړه ته لاړه، یوه شګه یې کېښوده، بېرته د محیا په غږ نېغه ودرېده:

ـ صبر! په دې زړه زه نوم لیکم.

محیا مخکې لاړه، یوه ـ یوه شګه یې په لړزانده لاس چیندله. شېبه وروسته د حسنات له مخې لرې شوه.

د حسنات سترګې په چیندل شویو شوګو ولګېدې: انا

څېره یې وغوړېده:

ـ کومه انا؟

ـ د کېږدۍ انا.

حسنات په خندا کې وویل:

ـ هغه فاطمه نومېږي.

***

فرحان په کڅوړه کې څه لټول، کتابچه یې ترې را وویسته. د یوې سپینې پاڼې څنډه یې کش کړه، کږ شو، پاڼه تر نمایي پرې شوه. د بلې خوا پاڼه یې را پورته کړه، له پرې پاڼې سره یې ودروله، زور وکړ، دوې پاڼې له کتابچې بېلې شوې.

په بېړه له کېږدۍ را ووت. پاڼې یې حسنات ته ونیوې:

ـ الوتکه راته جوړه کړه.

د محیا په سترګو تیاره راغله، شونډې یې وچیچلې، لاس یې کش کړ، کږس شو، د فرحان مخ بلې خواته کوږ شو.

فرحان وژړل، په ژړا کې د حسنات تر څنګ ودرېد. په کړیغو کې یې وویل:

ـ مور او پلار به ګلان راوړي، ولاکه یو درکړم.

د محیا زړه ودرېد، اوښکې یې په سترګو کې ډنډ شوې، په شبېه که پښېمانه شوه. د فرحان څنګ ته ورغله، ټینګ یې په غېږ کې ونیو.

غریو واخیسته:

ـ ټوله کتابچه تر ستا جار.

د لمر وړانګې یې پر اوږو پرتې وې، سیوري یې په خاورو کې اوږده ښکارېدل. شبېه وروسته یې له خمکې سیوري وکوچېدل. د لمر ژېړه سترګه ډوبه شوه. د دښتې له سر وربخې لوړې ولاړې وې، داسې ښکارېدې لکه په وینو چې سرې وي.

❊❊❊

د الوتکې کړسنده غږ ولګېد. وړاندې د چاودنې دروند غږ خور شو، اوږدې انګازې یې کولې. فرحان لاسونه غوږونو ته اوچت کړل. الوتکه بېرته د پنډغالي په اسمان کې ځغلنده تېره شوه. د پنډغالي له بر سر د چاودنې غږ پورته شو. سیمه یې ولړزوله.

فاطمه او حسنات له کېږدۍ ووتې. یوې او بلې خواته یې وکتل، څه یې تر سترګو نشول. حیرانې څېرې یې ونیوې، په لړزېدلو ګامونو کېږدۍ ته ننوتې.

محیا له فرحان لاس چاپېر کړی و، زنه یې د فرحان په سر اېښې وه. شونډې یې تېزې، تېزې رپېدې:

ـ څه نه کېږي، څه نه کېږي.

فاطمه او حسنات څنګ په څنګ کېناستې. ژوره خاموشۍ یې بلې چاودنې ماته کړه.

د فرحان غږ لوړ شو:

ـ مورې!

فاطمې د حسنات څنګل وخوځوله.

د حسنات لړزانده غږ پورته شو، د قرانکریم ایتونه یې په خواږه غږ تلاوت کړل.

شېبه وروسته د الوتکو غږ ورک شو.

فاطمې غبړه خلاصه کړه. فرحان ورمنډه کړل، په غېږ کې یې کېناست. له وېرې یې زړه تېزه ـ تېزه درزا کوله. محیا په لړزېدلو ګامونو د فاطمې ښي اړخ ته کېناسته. حسنات په ځنبېدو ـ ځنبېدو ور نږدې شوه.

فاطمې لاسونه ترې تاو کړل. دواړو څنګو ته یې جوختې ونیوې. محیا یې په اوږه سر کېښود. سترګې یې انګړ ته شخې نیولې وې، د کېږدیو ځراغونه ژېړ او سپین ځلېدل.

محیا له کېږدۍ ووته، شېبه به لا نه وه وتې، چې بېرته را وګرځېده. سترګې یې یوې او بلې خواته وغړولې، وړاندې لاړه، کڅوړه یې را واخیسته. ټیټه شوه، فرحان یې په ټنډه ښکل کړ.

له کتابچې یې پاڼه پرې کړه، حسنات ته یې ونیوه:

- چې ویښ شو، یو څه ورته جوړ کړه.

- څېرته ځې؟

- هدیرې ته.

- څومره لاره ده؟

- نه پوهېږم.

حسنات حیرانه څېره ونیوه، لاس یې پورته کړ، تور ساعت یې ترې خلاص کړ. د محیا

ډنګر مړوند يې ونيو، ساعت يې ور وتاړه:

ـ اوس پوهېږې چې څومره لاره ده.

محيا ساعت ته وکتل، ٦:٥ دقيقې وې. حسنات ته يې غېږه ورکړه، دواړه له کېږدۍ ووتې. د محيا په څېره ژېړې وړانګې ولګېدې، ببر وېښتان يې له ټکري راوتلي ول. له شا يې غږ وکړ:

ـ زما برخه ډوډۍ هم فرحان ته ورکړه.

***

يوه هلک د قبر په ډډ سينه لګولې وه، ژړا يې په هديره کې انګازې کولې. د قبر خاورې تازه ښکارېدې. محيا وړاندې لاړه، ساه يې بنده ـ بنده کېده. د يو قبر تر څنګ کېناسته، په ژړغوني غږ يې وويل:

ـ سلام مورې.

ساعت ته يې وکتل، ٦:۴۵ دقيقې وې. شونډې يې وخوځېدې، تر ډېره يې له ځان سره څه ويل.

شبېه وروسته بل قبر ته لاړه. د قبر په ډډ يې لاس کش کړ، د زېړو خاورو نرمه تودخه يې په ورغوي نوته. کڅوړه يې څنګ ته کېښوده. لړزې واخيسته، ژامې يې وکړپېدې. په څېره يې ژړا پرېبوته، خو اوښکې له سترګو نه څڅېدې. د قبر ډډ ته غلې کېناسته.

سر يې وځړېد:

ـ پلاره! فرحان په خوب ليدلی وې. ويل يې چې ستا او د مور په لاسونو کې د ګلانو ګېډۍ وې. نن مې کتابچه راوړې، د فرحان خوب به درته رسم کړم.

محيا دوې څېرې رسم کړې، د يوې څېرې ونه لوړه وه. اوښکې يې په سترګو کې ولغړېدې، رسمونه تت ورته ښکاره شول. د سپېره لاس څټ يې په سترګو کش کړ.

بیا یې څه رسم کړل.

شپېه وروسته یې سره او شنه رنګه ور واخیسته. د ګلانو درې پاڼې یې د یوې څېرې او درې پاڼې د بلې څېرې په لاس کې شنې کړې. ګرد ګلان یې سره کړل.

ناڅاپه د چاودنې غږ ولګېد. محیا سر پورته کړ، لمر یې سترګو ته سیخ شو. سپېره لاس یې په ټنډه کېښود. د پنډغالي په لور یې سترګې وګرځولې، سپېره دوړه اسمان ته پورته کېده. په شپېه کې تور دود وخوت، له منځه یې سره لمبه پورته شوه، لمبه د دود په نمایي کې ورکه شوه.

زړه یې ولړزېد، کتابچه یې وتړله. رنګې یې را واخیستې، دواړه یې په کڅوړه کې واچولې. سترګو ته یې یو په بل پسې د فرحان، حسنات او فاطمې څېرې ودرېدې. له ځایه را پورته شوه، منډه یې وکړه.

قبرونه لا پای ته نه وو رسېدلي، چې ساه یې بنده شوه. لړزانده ګامونه یې اخیستل.

د لارې په نمایي کې درې امبولانسونه په چټکۍ تېر شول. په سپېرو دوړو پسې یې منډه واخیسته، بېرته ودرېده. پښې یې سستې شوې، وچې شونډې یې په ژبه لمدې کړې. بیا یې ګامونه واخیستل، ساعت ته یې وکتل، ۷:۱۵ دقیقې وې. زړه یې ولړزېد.

شپېه وروسته له لرې پنډغالی ښکاره شو، سترګې یې وموښلې، کېږدۍ یې روغې ښکارېدې. څو ګامه مخکې لاړه، بېرته یې په درېیو امبولانسونو سترګې ولګېدې، په تېزۍ یې له څنګ تېر شول. مخ پورته روان وو، سپېرې دوړې ورپسې نښتې وې.

ساه نیولې د یوې کېږدۍ څنډې ته ورسېده، ګنو خلکو په انګړ کې یوې او بلې خواته منډې وهلې. ګامونه یې اوچت کړل، کېږدۍ له سترګو تېرې کړې، روغې وې، په زړه کې یې وویل: څه ټکه را لوېدلې؟

وراندې لاړه، سیده په یوه کېږدۍ ننوته، سترګې یې په فاطمه ولګېدې، رنګ یې الوتی و. د محیا زړه ولړزېد، حسنات او فرحان یې تر سترګو نشول.

په ساه نیولي غږ یې وپوښتل:

- فرحان او حسنات؟

- حسنات، فرحان لټوي.

زړه یې څیرکه وکړه، له کېږدۍ ووته. په ګڼه ـ ګوڼه کې یې سترګې وځرخولې، حسنات او فرحان یې په منځ کې نه ښکارېدل.

د پنډغالي په وروستۍ برخه کې خلک ولاړ ول، په تېزۍ یې ورمنډه کړه. پښې یې تودې شوې، د بارډو سوړ بوی یې په پوزه ننوت. یو سوی بوټ یې تر سترګو شو، سترګې یې رډې را ووتې، بوټ یې ور پورته کړ، ښه ورته ځیر شوه، بېرته یې په ځمکه واچاوه.

د خلکو ګرده دایره ماته شوه، د محیا سترګې په ځمکه ولګېدې، ژوره شوې وه. ځنګ ته یې دوه موټر پراته ول، وسپنې یې غونجې وې.

دوه سړي ځنګ په ځنګ روان ول، یوه وویل:

- له کېږدیو وړاندې ولګېد، که نه اوس به ډېر...

بل سړي یې خبره پرې کړه:

- د موټرو له سپرو پرته، نور ټیپیان شول.

د محیا سر وڅرېد، بېرته کېږدۍ ته روانه شوه. د کېږدۍ په خوله کې یې په حسنات او فاطمه سترګې ولګېدې، ناهیلې ولاړې وې.

محیا منډه ور واخیسته، ساه نیولې د حسنات مخې ته ودرېده:

- فرحان، فرحان.

- پیدا مې نه کړ.

ـ تاته مې سپارلی و.

ـ د کېږدۍ خوله کې یې لوبې کولې.

ـ خې څه شو؟

ـ زه په اوبو پسې لاړم، چې راغلم، فرحان نه و.

ـ چېرته تللی؟

ـ فاطمې انا ویل، چې له دوو هلکانو سره یې د موټرو خواته منډه وکړه.

محیا په ځمکه گونډې ولگولې، تېرې کوکې یې له خولې پورته شوې:

ـ اوس څه وکړم؟

حسنات مخکې ورغله، محیا یې له لاس ونیوه، په ژړغوني غږ یې وویل:

ـ پورته شه، روغتون ته به ورشو.

محیا اوښکې پاکې کړې:

ـ چېرته؟

ـ پوښتنه به وکړو.

حسنات او محیا یوې او بلې خواته سترگې وغړولې، خلک له کېږدیو راوتل. یوه سرې دستمال هوار کړ، دوې توشکې یې پکې وتړلې. پنډه یې اوږې ته پورته کړه، یو کوچنی هلک یې تر لاس ونیو. یوه ښځه او درې هلکان ورپسې شول، د ښځې په یوه لاس کې بوشکه، په بل کې دېگ و.

فاطمې د حسنات په غږ پورته ترپ کړل:

ـ چېرته ځې؟

ـ کډه کوي.

ـ مورې څه وکړو؟

ـ ته او محيا لاړې شئ روغتون ته.

ـ ته څه کوې؟

ـ ستاسو تر راتګ به همدلته انتظار باسم.

حسنات بېروسه څېره ونيوه:

ـ خو...

ـ لاړې شئ، په ما څه نه کېږي.

حسنات او محيا ګنې ـ ګوټې ته ننوتې، کېږدۍ په خالي کېدو وې، شاته يې وکتل، فاطمې دوې سترګې پکې ښخې کړې وې.

محيا يوه سړي ته وکتل، چټک ګامونه يې اخيستل. محيا ور نږدې شوه، په ژړغوني غږ يې وويل:

ـ ټپيان يې چېرته يوړل؟

سړی ودرېد، سترګې يې محيا ته ور واړولې:

ـ څوک لټوې؟

ـ ورو مې.

ـ غټ و که کوچنی؟

ـ تر ما کوچنی و.

ـ ټو کوچنيان يې لومړی کښته روغتون ته يوړل.

ـ څومره لاره ده؟

ـ ډېره.

محیا او حسنات را وګرځېدې، بېرته د فاطمې مخې ته ودرېدې. د فاطمې په لاس کې د لرګي تسبېح وې، پټه خوله یې اړولې.

حسنات د فاطمې لاس ونیو:

ـ انا یوه سړي ویل، چې کښته روغتون کې یې وګورئ.

ـ هو، یو موټر اول راغی، کښته لاړ.

حسنات او محیا ترې لاړې. د یوې کېږدۍ شاته ورکې شوې. د فاطمې لمدې سترګې وځلېدې، لاسونه یې ولړزېدل، تسبېح ترې ولوېدې. د پنډغالي په انګړ کې یې سترګې وګرځولې، خال ـ خال کسان روان وو.

شپه وروسته په انګړ کې ژوره چوپتیا خوره شوه، فاطمه په لړزانده ګامونو کېږدۍ ته روانه شوه.

***

محیا شپه په شپه ساعت ته کتل، پلاستیکي کڅوړه یې په لاس کې لړزېده. د کنډوالو په دواړو خواوو کې له دوی پرته څوک نه ښکارېدل.

د محیا ذهن ته د فرحان خبره راغله، دواړه لاس یې د مرغه د وزرو په څېر خلاص نیولي ول، منډې یې وهلې.

سترګې یې لمدې شوې، حسنات یې له لاس ونیوه، د دواړو په سترګو کې اوښکې پرتې وې.

محیا له حسنات لاس بېل کړ، بیا یې ساعت ته وکتل، نرۍ وسپنه یې ورو څغلېده.

حسنات ته يې وويل:

ـ تر دې به اوږده ورځ وي؟

ـ هو!

ـ نه، همدا اوږده ده.

حسنات څه ويلو ته خوله جوړوله، خو بېرته يې شونډې ونښتې. يو كس په مخه ورغی، په لاسي گاډۍ كې يې د كور سامان پروت و، ټاير يې يوې او بلې خواته كوږ اوښته. د ټاير غنچا د محيا په زړه ترخه لگېده، لاسونه يې غوږونو ته يوړل، كڅوړه ترې ولوېده. لا هم د گاډۍ غنچا خته، له خولې يې كوكه ووته:

ـ غږ يې ورک كړه.

سړی ودرېد، حيرانې سترگې يې محيا ته ور واړولې. بېرته يې حركت وكړ. شېبه وروسته د كنډوالو په منځ كې چوپتيا خوره شوه.

حسنات له ځمكې كڅوړه را پورته كړه، محيا ته يې ونيوه. جوړه روانې شوې، لمر يې په سرونو تېز لگېده. د محيا غوږونو شرنگا كوله، د گاډۍ غنچا يې په ذهن خوله خښته كړې وه.

***

د يوې كنډوالې په منځ كې نيمه وېجاړه ودانۍ ښكارېده. خلک ترې وتل او ورتلل. په يوه سوي دېوال ليكل شوي وو: ناصر ميډيكل كمپلېكس

د محيا زړه ولړزېد، په تېزۍ مخكې لاړه. حسنات هم ورپسې وه. ذهن ته يې د فرحان څېره ودرېده، تر سر يې سپينه جنډه تاو وه، خال ـ خال په وينو سره وه. سر يې وخوځاوه، بل تصوير يې سترگو ته ودرېد، د فرحان غټې سترگې په سپين كفن كې وازې پاتې وې.

د محیا له خولې کوکه ووته:

ـ نه!

حسنات ور نږدې شوه:

ـ څه شوي؟

ـ څه نه، څه نه.

دواړه نيمه وېجاړې ودانۍ ته ننوتې. سترګې يې په اوړده دهلېز ولګېدې، سرې وينې څاڅکي ـ څاڅکې څڅېدلې وې. وړاندې لاړې، سپين کفنونه يې سترګو ته نېغ شول.

محيا ځای په ځای ودرېده، پښې يې سستې شوې. يو سړی يې تر څنګ تېر شو. د يوه کفن څنډه يې لرې کړه، سر يې وخوځاوه، بل ته ورغی. د څو کوچنيانو څېرې يې تر سترګو تېرې کړې. د وروستي کوچني سر ته ودرېد، د سړي لاسونه ولړزېدل، د کفن څنډه يې لرې کړه، ګونډې يې ووهلې، اوښکې په مخ را ماتې شوې. د کوچني تر سر يې لاس کېښود، ورو يې تېر ته را پورته کړ. زانګې ـ وانګې د محيا له څنګ تېر شو.

د محيا وچې شونډې خلاصې شوې:

ـ ته يې وګوره.

حسنات مخکې لاړه، د هر کوچني جسد ته يې په خېر ـ خېر کتل. شېبه وروسته يې سر وخوځاوه. محيا سوړ اسويلی واېست، د حسنات څنګ ته ورغله.

حسنات بېروسه څېره ونيوه:

ـ دې ماشومانو که نشته.

يوې خونې ته ننوتې، د ځينو کتونو پښې ماتې وې، ناروغان او ټپيان په وچه ځمکه

پراته ول. د هر یوه څېره یې تر سترګو تېره کړه، فرحان نه ښکارېد.

جوړه ووتې، د یوې بلې خونې څخه تېرې کوکې راوتې، خو غړونو یې توپیر درلود: پښه مې چېرته؟ وی سترګې مې سوځي. لاس مې نشته. ډاکتر صاحب ما پرېږده، خیر دی زوی مې وژغوره.

د حسنات او محیا له الوتو څېرو لا رنګ والوت. د خونې د دروازې په لوري یې سست ـ سست ګامونه پورته کړل، نبغې په دروازه کې ودرېدې. د یوه سړي په لاس کې قیچي وه، په وینو سره اوښتې وه. سترګې یې په محیا او حسنات ولګېدې.

د سړي ډډ غږ د ټپیانو په کړیغو کې پورته شو:

ـ دلته څه کوئ، هه؟

حسنات په بنده ژبه وویل:

ـ فر، فرحان.

ـ غټ دی که کوچنی؟

ـ کوچنی.

ـ دلته کوچنیان نشته، له دې خایه ورکې شئ.

د حسنات او محیا سرونه وځړېدل. بېرته له دهلېز ووتې. د یوه سړي سپینه چپنه په وینو سره وه، محیا یې مخې ته ودرېده:

ـ خپل ورور لټوم، تر ما کوچنی دی.

ـ لورې مړي مو وکتل؟

ـ هو، هلته نه و.

ـ خې دلته نشته، بل روغتون کې یې ولټوئ.

محیا غریو واخیسته:

- چېرته لاړه شم؟

سړي مخکې ګامونه پورته کړل، د چېنې سوړ بوی یې د محیا په پوزه ننوت. لړزانده لاس یې د محیا په سر کش کړ:

- مه وېرېږه لورې، ښایي ډار شوی وې او چېرته پټ وې.

محیا په ذهن فشار راوړ، د فرحان یو تصویر یې سترګو ته ودرېد: راپورته شه محیا، پیدا مې کړې، د ټکري پیښکه دې له کټ راوتې. اوس زما نوبت دی. ته ډه په دېوال ولګوله، سترګې پټې کړه، تر لسو وشماره، بیا سترګې لوخې کړه.

یوه تېره کړېغه د روغتون په دهلېز کې خوره شوه. د فرحان د تېرې زمانې تصویر د محیا په ذهن کې رنګ شو. بله کړېغه پورته شوه:

- درته مې وویل، چې ما پرېږده، زوی مې وژغوره.

محیا سترګې وغړولې، ډاکټر ترې تللی و. د حسنات لمن یې کش کړه:

- هغه کېږدۍ دې وکته؟

- کومه کېږدۍ؟

- مخکې چې موږ پکې اوسېدو.

- نه! ما نه ده لیدلې، ولې؟

- تر اوسه چا له فرحانه په پټ پټوني کې نه ده وړې. یوه ورځ یې زما سره لوبه کوله، په ټول کور کې مې ولټاوه، پیدا مې نه کړ. د ډوډۍ وخت شو، مور مې کوخې ته ورپسې ووته، هلته هم نه و. مور ته مې وویل چې پلار ته زنګ ووهه.

شبیه به لا نه وه وتې، چې د الماری دړه خلاصه شوه، فرحان ترې راووت. سترګې مې

رډې را وختې. په داسې ځای کې پټېدا، چې هېڅ شک نه کاوه.

د حسنات څېره وغوړېده:

ـ ښايي فاطمې انا بل څوک ليدلي وي، چې موټرو ته يې منډه وهله.

ـ فرحانه که ګوتو ته راغلې، زه به دربانډې يخ کړم.

جوړه له روغتونه ووتې، الوتی رنګ يې په څېرو بېرته وغوړېد. تېز- تېز ګامونه يې اخيستل. يوې او بلې ته يې د تېر ژوند کيسې کولې؛ د غزې د ښکلا، چې اوسنيو کنډوالو کې خيال ښکارېد.

***

حسنات وپوښتل:

ـ څومره لاره پاتې ده؟

ـ لس دقيقې.

ـ روغتون ته په څو دقيقو کې را ورسېدو؟

ـ يوه نيم ساعت کې.

حسنات ودرېده، سبکه يې له پښو ختلې وه. سترې څېره يې د محيا خواته ور واړوله:

ـ لږ به دمه شو.

د کنډوالې په منځ کې کېناستې. زړونه يې له وېرې درېبدل. شبېه وروسته يې بيا مزل پيل کړ. د محيا په شونډو وچ پوستکی پروت و. ژبه يې پرې تېره کړه، شونډې يې وسوځېدې.

حسنات يې مټ ونښوروله:

ـ محيا پندغالي ته وګوره.

کېږدۍ نه ښکارېدې، په ځمکه پنډ ـ پنډ ابرې پرتې وې. دواړو منډه وکړه، حسنات ولوېده، بيا را پورته شوه. منډه يې تېزه کړه، له محيا مخکې شوه. محيا په کله منډه واخيسته، کله تېز ـ تېز ګامونه.

شېبه وروسته د حسنات څنګ ته ور ورسېده. حسنات په خاورو کې پښې وهلې، ځمکه ژوره شوې وه، په ژوره کې خاورې او ايرې ګډې وې، مږ دود ترې پورته کېد.

حسنات په کړيغو وه:

ـ انا اوس به چاته د يوسف سورت وايم؟ اوس به چاته قرانکريم تلاوت کوم؟

محيا منډه واخيسته، د کېږديو انبار ابرې يې په سترګو کې د اغزيو په څېر خښېدې. په کوکو کې يې د فرحان نوم اخيسته، يوازې خپل غږ او د حسنات کړيغې يې اورېدې.

شېبه وروسته د حسنات مخې ته ودرېده:

ـ فرحان مې پيدا نه کړ.

حسنات پورته شوه، ښی لاس يې کش کړ، کړس شو، د محيا له خولې لاړې او وينې باد شوې.

د محيا پاسنۍ شونډه پرې شوه، په ژامه کې يې وچ درد حس کړ. اوښلنې سترګې يې حسنات ته ونيوې.

حسنات په کرکه ور وکتل، په ژړغوني غږ يې وويل:

ـ ستاسو له لاسه مې انا وسوځېده.

محيا شېبه چوپه خوله ولاړه وه، يوازې اوښکې يې له سترګو روانې وې.

د حسنات غږ بيا لوړ شو:

ـ اوس به څه کوم؟

محیا په ژړغوني غږ وویل:

ـ ما هم فرحان تاته سپارلی و. ته مې گرمه نه کړې، زه څه گرمه یم. تا ویل چې یو ځای به روغتون ته ورپسې ورشو.

د حسنات سر وځړېد. ژورې سلگۍ یې له خولې ووتې.

د محیا ژړغونی غږ پورته شو:

ـ د پلار لخوا مې انا نه په یاد کېږي، مشره مور (د تسنیم ادې) مې د خوب په څېر په یاد ده. فاطمه انا زما انا هم وه. د محیا وروستۍ خبره په ژړا کې ورکه شوه:

ـ ډېره راباندې گرانه...

حسنات سترگې پورته کړې، په لاره کې یې دوه سړي ولیدل، مخ پورته روان ول. منډه یې ور واخیسته، سړي ترې مخکې وو، ژړغونی غږ یې پورته شو:

ـ ودرېږئ!

دواړه لنډ را تاو شول، یوه وویل:

ـ دلته څه کوې لورې؟

ځواب یې وانه ورېد، حسنات ځنگ بدل کړ، گوته یې مخامخ نېغه کړه. یوه سړي بل ته وکتل، پټه خوله روان شول، ځنگ ته یې حسنات لړزېدلي گامونه اخیستل.

دوه سړي ژورې ځمکې ته ورسېدل، عمر خوړلي وویل:

ـ دلته څه دي؟

ـ انا.

ـ فکر نه کړم، خې تاسو څنګه جوړې پاتې شوې یاست؟

ـ موږ بل چېرته وو.

ـ انا مو شاید چېرته تللې وي.

ـ نه! ویل یې چې زموږ تر راتګ به انتظار کوي.

بوډۍ د ځوان غوږ ته خوله ور نږدې کړه. ځوان یوې او بلې خواته وکتل. وړاندې لاړ، د سوځېدلو موټرو څنګ ته ودرېد، د یوې تورې پلنې وسپنې څوکه د موټر په ډډ را ځړېدلې وه. لاسونه یې ور اوږده کړل، زور یې وکړ، وسپنه جلا نشوه. کمیس یې وویست، د وسپنې له تېرو کونجو یې تاو کړ، بیا یې زور وکړ، وسپنه بنده وه. غابنونه یې وچیچل، وسپنه یې دوه ځلې وخوځوله، له دریېم ځل زور سره یې مخ سور واوښت، وسپنه جلا شوه، سړی شا په تخته ولوېد. بېرته را پورته شو، کمیس یې واغوست. وسپنه یې واخیسته، چټک ګامونه یې اوچت کړل.

شپېه وروسته په ژور کې د وسپنې څوکه په نرم څه ننوته. وسپنه یې را پورته کړه، په وینو سره وه. سر یې وځړېد، له ژوره راپورته شو، د سپین ږیري په غوږ کې یې څه وویل.

دواړو لاسونه بډ وهل. ځنګلې او مخونه یې په خاورو سپېره کړل، لنډ را ورګرځېدل، د قبلې خواته ودرېدل. شېبه وروسته یې مخونه یوې او بلې خواته وګرځول. لاسونه یې لپه کړل، بېرته لاسونه وځړېدل. ځوان د وسپنې په پلنه خوله کې خاورې تولې کړې. شپېه وروسته ژور ډک شو.

سپین ږیري د محیا او حسنات په سر لاس کش کړ، د دواړو اوښکې یې پاکې کړې:

ـ لورانو! صبر وکړئ. الله پاک شهیدان د جنت په نعمتونو نازوي. دې تورو ابرو ته مه ګورئ. ان شاءالله لاندې به د جنت باغچه وي.

دواړه سړي روان شول. محيا ورپسې کتل. زړه يې ولړزېد، په شبېه کې يې فرحان تر تورو خاورو لاندې وليد. سترګې يې پټې کړې، درې امبولاسونه يې مخې ته ودرېدل. د ډاکټر خبره ور په زړه شوه: ښايي بل روغتون ته يې وړي وي.

حسنات ته يې وکتل، د مجسمې په څېر ولاړه وه. ورو يې ورته وويل:

ـ اوس څه وکړو؟

ـ صبر محيا، صبر!

حسنات په خاورو کې کېناسته، په ژړغوني غږ يې وويل:

ـ انا د يوسف سورت په وروستي ځل درته وايم، هيله ده په جنت کې يوځای شو.

حسنات ښی لاس غوږ ته پورته کړ، لمدې سترګې يې پټې کړې. خوږ او لړزانده غږ يې له خولې پورته شو. محيا يې غلې څنګ ته کېناسته.

شبېه وروسته د الوتکې کړسنده غږ ولګېد. محيا له وېرې را پورته شوه، حسنات په خپل ځای ناسته وه. محيا لاس ور اوږد کړ، د حسنات سر ځړېدلی و.

وړاندې د چاودنو غږونه پورته شول. الوتکه بيا را وګرځېده، کړسنده غږ يې د محيا په بدن لړزه راوسته، کړيغې يې پورته شوې: خير دی پورته شه، ستا پرته ځوک نه لرم.

حسنات لړزې واخيسته، لاسونه يې په ځمکه تکيه کړل، په سختۍ را پورته شوه. دواړه وړاندې لاړې.

د حسنات له خولې خاموشه سلګی وتې. د محيا کړيغې د چاودنو په غږونو کې نه اورېدل کېدې. يوې کنډوالې ته ورسېدې، شاته يې وکتل، سپېره بړبوکی د پنډغالي په انګړ کې ځغلېده.

***

محیا غوړونه ځک کړل، خندا یې تر غوږ شوه. حیرانه څېره یې ونیوه، حسنات ته یې وکتل، سترګې یې سرې ځلېدې. مخکې لاړې، څو تنه یې ولیدل، په وېردلو څېرو یې موسکا پرته وه.

یوې ښځې سپینې جامې اغوستې وې، د پلاستیکي ګلانو ګېډۍ یې په لاس کې وه. څنګ ته یې یوه ځوان ګامونه اخیستل، جامې یې پاکې ښکارېدې. د ښځې لمن د کنډوالو په ټوټو څښېده. یو کوچنی تیټ شو، د ښځې لمن یې په لاس کې پورته کړه.

محیا په زړه کې وویل: په کنډواله کې واده.

سترګې یې په یوه ښځه ولګېدې، غوږي یې په لاس کې و، د کېک له ټوټو ډک ښکارېد. نږدې ورغله، ښځه یې له لمن کش کړه:

- ورې یوه.

ښځې یوه ټوټه محیا ته ونیوه، بله ټوټه یې حسنات ته وځوځوله. حسنات سرې سترګې د کېک په سپینو لیکو کې ګنډلې وې. ښځې بیا ځلې ټوټه ورته ونیوه، حسنات مړې ګوتې ور اوږدې کړې.

ښځې غږ وکړ:

- اوبه!

سړی مخکې راغی، پلاستیکي ګیلاسونه یې په لاس کې ول. دوه یې د بوشکې ژلې ته ونیول، له رنو اوبو ډک شول.

حیا ګیلاس په سر واړاوه. حسنات خپل ګیلاس ورته ونیو.

حیا لستوني په خوله تېر کړ:

ـ ته يې وځنبه.

ـ زړه ته مې نه کېږي.

ـ د انا لپاره يې وخښنه.

حسنات ګيلاس خولې ته يووړ، اوبه يې په وچه مرۍ تنوتې، وچ درد يې حس کړ، ګيلاس ترې ولوېد، اوبه په ډبرو تشې شوې.

دواړو په زوم او ناوې پسې کتل، شېبه وروسته له کنډوالې واوښتل.

محيا د حسنات لاس ونيو، سر يې وځړېد، د فاطمې کيسه ورپه زړه شوه: مينه او مهرباني وکړئ، د ژوند سوړ ژمی به مو ګرم شي.

محيا لنډه راتاو شوه، د حسنات مخې ته ودرېده:

ـ خير دی غبږه راکړه، زړه مې چوي.

د حسنات سترګې را ډکې شوې، لړزانده لاسونه يې له محيا تاو کړل، زنه يې د محيا په سپېره ټکري کېښوده. په غريو کې يې وويل: وبښه محيا، وبښه.

***

د ودانيو لويې توتې توري ښکارېدې. سپين کفونه د کټونو په سر لمر ته خلبدل. خلکو کاړه ـ واړه ګامونه اخيستل. د محيا زړه ولړزېد، لا يې خبره نه وه کړې، چې حسنات وويل:

ـ مه وېرېږه، لويان دي.

دواړه وړاندې لاړې، د کوچنيانو غږ پورته شو، د جنډو په جوړ شوي توپ يې فوټبال کاوه. تر څنګ يې څلور جنازې تيرې شوې، هلکانو هماسې په توپ پسې منډې وهلې.

***

لمر د اسمان له نمايي لمنې اوښتی و. محيا او حسنات واړه ـ واړه ګامونه اخيستل. سبکه يې له زړوتو ختلې وه، چوپه خوله روانې وې. ډله کارغانو په يوه کنډواله کې توره حلقه جوړه کړې وه، ټونګې يې وهلې.

د محيا زړه ولړزېد، په يوه کارغه يې سترګې ولګېدې، تور سر يې را پورته کړ، د مښوکې منځ ته يې د غوښې ټوټه سيخه کړه. ګردې سترګې يې وېرونکې ښکارېدې.

حسنات ډبره را واخيسته، د کارغانو خواته يې خوشې کړه. کارغانو وزرې وربولې، د را لوېدلو دېوالونو په سر کېناستل. کاغ ـ کاغ يې انګازې کولې.

محيا او حسنات غلي ګامونه واخيستل، له وېرې لړزې اخيستې وې. څو ګامه وړاندې لاړې، بېرته يې شاته وکتل، کارغان په هماغه ځای ور ټول وو.

حسنات سپېره لاس اوږد کړ، په مخ لوېدلي وېښتان يې بېرته تر ټکري لاندې کړل.
محيا ته يې وکتل، له ښورو سترګو يې تورې حلقې تاو وې.

د محيا لړزانده غږ پورته شو:

وېرېږم.

ـ مه وېرېږه.

ـ له ذهن مې د کارغانو ټونګې او وينې لړلې مښوکې نه وځي.

چوپتيا يې په منځ کې خوره شوه. څو ګامه وړاندې د حسنات شونډې وخوځېدې:

ـ ولې هېڅوک په مخه نه راځي؟ ښايي زه او ته ژوندی وو.

محيا غريو واخيسته:

ـ داسې مه وايه حسنات. له فرحان پرته ژوند نشم کولی.

شببه وروسته يې يو سړی ولیده، د محیا خبره وغوړېده، په منډه يې مخې ته ودرېده.

لاړې يې تېرې کړې:

ـ کاکا روغتون ته څومره لاره پاتې ده؟

ـ ډېره.

د محیا سر وځړېد، سړي وویل:

ـ له روغتونه يې ځینې ټپیان رخصت کړل، ځای نه کېد.

د محیا سترګې رڼې را ووتې:

ـ کوچنیان هم وو؟

ـ هو، ډېر کوچنیان يې له انګړه را ووتل.

ـ څه شول؟

ـ ځینې په خپله مخه لاړل، ډیری يې یوه پنډغالي ته بوتلل.

د محیا او حسنات خبرې وغوړېدې. ګړندی مزل يې کاوه. په یوه ځای کې کېناستې، یوې او بلې دېوال ته سرونه تکیه کړل. سترګې يې پټې شوې، په شببه کې يې په وېرجنو خبرو خوب پرېوت.

شببه وروسته نری غږ ولګېد، محیا سترګې وموښلې. پیشو يې تر سترګو شوه، د مخې یوه پښه يې غونجه نیولې وه. پیشو نږدې شوه، سر يې د محیا په ګونډه کېښود. محیا ځان وخوځاوه، ګونډه يې د پیشو له ماتې پښې سره ولګېده. پیشو له وغ سره پورته ترپ کړل.

د حسنات سترګې رڼې را ووتې، زړه يې تېزه درزا وکړه. ژوره ساه يې واخیسته.

محیا ور نږدې شوه، د پیشو په سر يې لاس کش کړ. پیشو غونجه شوه، برګ سر يې

د محیا په پښو وموښاه.

شپبه سوچونو یوړه، لاس یې اوږد کړ، د ټکري د پیڅکې ګنډه یې پوزې ته نږدې کړه، د خاورو سوړ بوی یې حس کړ. ګنډې یې خلاصې کړې، سپېرې خاورې یې په کڅوړه کې واچولې. زور یې وکړ، د ټکري پیڅکه یې پرې کړه.

لاس یې اوږد کړ، د پیشو ماته پښه یې ونیوه، پیشو ووغږېده. بل لاس یې د پیشو په سر تېر کړ. شنه جنډه یې تر پښې ور تاو کړه. پیشو لکۍ هسکه ونیوه، درانه ګامونه یې واخیستل. شپبه وروسته تېزه تلله، د تورو را لوېدلو دېوالونو په منځ کې ورکه شوه.

***

حسنات او محیا یوې سیمې ته ورسېدې، ژېړې وړانګې په تورو کنډوالو پرتې وې. خلک یوې او بلې خواته تلل.

محیا ته د سړي خبره ور په یاد شوه: ځینې ټېپان یې له روغتونه ابستلي.

یوې او بلې خواته یې سترګې واړولې، د ګچ ټوټې په تورو لوټو کې سپینې ځلېدې.

یوه ډېره یې را پورته کړه، د ګچ ټوټه یې وویشته. ټیټه شوه، سپینه وړه ټوټه یې د ګوتو په منځ کې ونیوه. وړاندې لاړه، د یوې نیمه وېجاړې ودانۍ دېوال روغ ښکارېده، یوازې په دود تور و.

د دېوال په منځ یې د ګچ ټوټه کش کړه، شپبه وروسته یې یوه څېره رسم کړه.

یو سړی تېر شو، محیا غږ وکړ:

ـ دا هلک دې لیدلی؟

سړي دېوال ته وکتل، ټنډه یې ګونځې شوه. شپبه به لا نه وه وتې، چې بل هلک په لاره تېر شو. د محیا غږ یې په غوږونو ولګېد:

- دا هلک دې څېرته تر سترګو نشو؟

هلک تصوير ته ځير شو، په کرس ـ کرس يې وخندل. خندا يې چې ورو شوه، رسم ته يې ګوته نېغه کړه:

- همدا هلک؟

د محيا څېره وغوړېده:

- هو، همدا هلک.

- ليدلى مې دى.

- چېرته دى؟

- په دېوال رسم دى.

حسنات هلک ته په کرکه وکتل:

- ورک شه.

شپه وروسته سيمه خالي شوه. خلک نه ښکارېدل، حسنات نږدې لاړه، د محيا په اوږه يې لاس کېښود:

- پورته شه په ځان ملنډې مه وهه.

محيا له ځايه نه وه را پورته شوې، چې سترګې يې په يوه سړي ولګېدې.

د کنډوالې په لوري يې منډې وهلې. شاته يې وکتل، تېټ شو، په کړوپه ملا يې منډه وکړه. بيا ودرېد، لاسونه يې په ځمکه ولګول، په خاپوړو، خاپوړو يې ځان تر حسنات او محيا را ورساوه.

محيا او حسنات ووېرېدې، دواړو کوکه کوله، چې سړي په خپلو شونډو لاس کېښود. ورو يې له خولې ووتل:

ـ هله ننوځئ، یهودیان دي.

دواړې په نیمه وبجاړې ودانۍ ننوتې. سړی هم ورپسې و. محیا او حسنات څنګ په څنګ ناستې وې، غابښونو یې کړپا کوله. سړي د دېوال له سوري وکتل، د ټانګ میل یې سترګو ته نېغ ودرېد. چاینونه یې په خښتو او ډبرو اوښتل، وچ غږ ترې پورته کېد.

په شبېه کې بل موټر د ټانګ شاته ودرېد. د ټانګ د سر دروازه خلاصه شوه. یو چاغ پوځي را کښته شو، لاسونه یې څنګ ته ونیول. د موټر له ډالې عسکرو پښې واړولې، درې تنه یې څنګ ته ودرېدل.

د چاغ پوځي په مخ موسکا وغوړېده، سر یې وخوځاوه:

ـ خوندوره فضا ده.

شېبه وروسته یې موسکا په کړسنده خندا واوښته. د محیا او حسنات په زړونو داسې لګېده، لکه زهرجن خنجر.

چاغ پوځي په ماته ـ ګوډه عربي وویل:

ـ دا کنډوالې د خیبر غچ وګڼئ!

بل پوځي له ټانګ سینه بهر کړه، یو ستوری یې د چاغ پوځي له ستوریو ډېر و، په عبري ژبه یې وویل:

ـ راځه خاورې او کنډوالې غوږ نه لري.

یوه عسکر مخامخ ګوته ونیوه:

ـ هلته وګورئ!

سړی په څمکه پرېوت، محیا او حسنات په کونج کې غونجې ناستې وې. حسنات له ځان سره ورو ـ ورو څه ویل.

د پوځیانو خندا لوړه شوه، یوه وویل:

- رسم دی.

- رسم شوې څېرې یې هم د رحم وړ نه دي.

بل غږ پورته شو:

- خې څه ته گورئ.

د وسلو کړپا وخته، د سړي زړه ولړزېد، مړې سترگې یې محیا او حسنات ته ور واړولې:

- مه وېرېږئ، تاسو نه ولي.

ترخې دزې پورته شوې، محیا شونډې وچیچلې. هر گولی به چې په دېوال لگېده، زړه به یې کښته ـ پورته لوېد.

د پوځیانو د گامونو غږ پورته شو، ټانگ وغړومبېد، چاینونه یې وڅرخېدل. شېبه وروسته یې غږ ورک شو.

سړي سوړ اسویلی واېست، نرم په ځای کې کېناست. د دېوال له سوري یې وکتل، څه نه ښکارېدل.

شونډې یې وچیچلې:

- ورځ به یې راشي، ډېرې به خوله خلاصه کړي، چې یهودی مې تر شا پټ دی.

سړي مخکې گامونه واخیستل، په لاره کې د گولیو پوچک خواره ـ واره پراته ول.

د محیا غږ پورته شو:

- د فرحان رسم یې ویشتی.

حسنات په خیر ورته وکتل، رسم شوې څېره سوری ـ سوری وه.

سړی لنډ را تاو شو:

ـ دلته څه کوئ؟

حسنات وویل:

ـ د محیا په ورور پسې ګرځو.

ـ تښتېدلی؟

ـ نه، په کښته پنډغالي کې ګولۍ ولګېده. له هغه وخته ورک دی.

د سړي سر وخوځېد:

ـ روغتون کې یې وګورئ!

ـ خو یوه سړي ویل، چې ټپیان یې ویستلي.

ـ نه، ډېر لا روغتون کې دي.

ـ څنګه ځان ور ورسوو؟

ـ تر روغتونه ډېره لاره ده. که موټر روغ پاتې و، په پنچر ټایر به مو ورسوم.

محیا او حسنات د پنډ لوټو تر شا واوښتې. سړی ترې مخکې و. یوه موټر ته ودرېدې، په یوه اړخ کوږ و. سړي د موټر دروازه خلاصه کړه، محیا او حسنات ور پورته شوې.

شېبه وروسته موټر حرکت کړ، ژېړې وړانګې یې د مخې له ښیښې را لوېدلې وې.

***

د جنراتو غږ په کنډواله کې خور و، تته رڼا په تور دېوالله لوېدلې وه، په منځ یې یوازې یوه کرښه ښکارېده: روغتون...

محیا او حسنات لړزانده ګامونه پورته کړل، د روغتون په دروازه ننوتې، په دهلېز کې د وینو سوړ بوی لګېده.

حسنات د محیا لاس ټینګ ونیو، یوې خونې ته ننوتې، د مخې دېوال یې را لوېدلی و. غولی یې تور ښکارېده. څلور کسه په ځمکه پراته ول.

بلې خونې ته ننوتې، د ګڼو ماشومانو له پښو، لاسونو او سرونو سپینې جنډې تاو وې. محیا د هر یوه څېره تر سترګو تېره کړه، فرحان نه ښکارېده. لاره یې کږه کړه، کیڼ اړخ ته وګرځېدې. سترګې یې په دوو کوچنیانو ولګېدې، څنګ په څنګ په یوه کټ پراته ول؛ څلور ټوټې هډوکي ښکارېدل. خونې ته ننوتې، چوپه چوپتیا وه، په هر کټ درې او دوه ماشومان پراته وو، د سینې او ډډې هډوکي یې راوتلي وو، ګونډې یې تېرې ښکارېدې. ماشومانو نه ژړل، نه یې حرکت درلود، په سختۍ یې د ګروپ تتې رڼا سترګې غړولې. سترګې یې داسې ښکارېدې، لکه له وچو مخونو یې چې په را لوېدو وي.

ناهیلې له خونې ووتې، سیده بلې ته ولاړې. بیا یې بې غوښې ماشومان تر سترګو شول، د هر یوه نرۍ پوستکی په هډوکو سرېښ و.

محیا په رډو سترګو حسنات ته وکتل:

- یوه ورځ مې د مور سره هدیرې ته تللې وم. یوازې یو ماشوم مې همداسې ولید، ډېره ووېرېدم. اوس څومره ډېر شوي.

له یوه کونجه زیګروي راوتل، محیا او حسنات ور ننوتې، لویه خونه وه، واړه او زاړه هرې خواته پراته ول. لویان په ځمکه اوږده ځغبدلي وو، ځینو پښې ور ټولې کړې

وي.

محیا یوې او بلې خواته سترګې وغړولې، په څېره موسکا پرېوته، بې څه ویلو یې منډه کړه. له یوه تېپي یې پورته ترپ کړل، لاره یې کړه کړه، د دوو ټپیانو له سر تېره شوه، د هلک مخې ته ودرېده. تر سر یې سپین بنداژ تاو و، لاس یې نه و. د محیا سترګې ردې را ووتې، په ځیر یې هلک ته وکتل، سر یې وخوځېد، شاته را ورګرځېده، له پرتو ټپیانو واوښته، په ډکو سترګو د حسنات مخې ته ودرېده.

حسنات خوله خلاصه کړه:

ـ نه و؟

ـ نه، جامې یې د فرحان په څېر وې.

محیا او حسنات په دهلېز کې بې هیلې ګامونه واخیستل. شپه وروسته غلې کېناستې. د امبولانسونو غږ تېره لګېد. څو کسان په بېړه ور ووتل، لاسونه یې لړزېدل. د څنګ له کوټې چیغه پورته شوه، د محیا زړه ولړزېد. لړزېدلي ګامونه یې پورته کړل، د کوټې په دروازه کې ودرېده. د جنراتور غږ ورک شو، توره تیاره یې په سترګو خوره شوه.

شپه وروسته د کوټې په منځ کې سپینه رڼا وځلېده، رڼا لړزېده. محیا په وېرېدلو سترګو ور وکتل. د یوه کس په لاس کې موبایل و، د بل په لړزانده لاس کې قیچي وه، تتې رڼا ته سره ځلېده.

بېرته را وګرځېده، تپه تیاره وه. پښه یې له یو څه سره ولګېده، تېره کوکه یې په غوږ ننوته. سترګې یې وغړولې، څه نه ښکارېدل. دېوال ته یې تکیه وکړه، لاسونه یې خلاص کړل، څنګ ته په څښېدو ـ څښېدو وه. شپه به لا نه وه وتې، چې د لاسي څراغ رڼا په غولي ولوېده. د محیا سترګې ردې را ووتې، د یوه هلک وینې لړلی بدن په وچه خمکه لړزېد.

****

څلورمه ورځ وه. محیا او حسنات د نیمه وېجاړې ودانۍ په دهلېز کې لړزانده ګامونه کېښودل، د یوه زاړه سړي تر ځنګ کېناستې. کنډواله کې د باردو تریخ بوی لګېد. د هرې خونې په غولي د خښتو او سیمټو انبار ټوټې پرتې وې. د چت له کونجونو سیخونه را ځړېدلي ول.

سړي ځنګ بدل کړ، سترګې یې په یوه کوچني ولګېدې، بیر وېښتان یې له خاورو ډک و. لاس کې یې تېره وسپنه وه. هلک د وسپنې ځوکه په ځمکه کشوله. له خولې یې نرمه زمزمه پورته کېده. ټوله نړۍ یې همدا توره وسپنه او سره ځمکه ګرځېدلې وه.

د محیا غږ لوړ شو:

- عثمان نومېږي. مور او پلار یې په خوړو پسې تللي، تر اوسه بېرته نه دي راغلي.

وړاندې یوه بوډا چاک - چاک دېوال ته تکیه کړې وه، سپینه ږیره یې په خاورو سپېره وه. سترګې یې نه رپېدې، داسې ښکارېد لکه په خپل ځان کې چې ورک وي. لړزانده لاسونه یې په ګونډو ایښي وو. نه یې له چا سره خبرې کولې، نه یې چاته خواب ورکاوه.

یوه ښځه په کونج کې ناسته وه، باد ولګېد. د نوي زېږېدلي ماشوم سترګو ته یې لاس ونیو، لپه خاوره له چته را ولوېده. د هلک لاندې په وینو لړلي جامې هوارې وې. هلک یې غېږې ته را پورته کړ. ټنډې ته یې لړزېدلی لاس ور اورد شو. وېرجن غږ یې له خولې پورته کېده: خدایه! ټنډه یې سړه مه کړې.

یوې زړې ښځې سترګې پټې کړې وې. مخ یې د قبلې په لوري ګرځولی و. شونډې یې ورو - ورو خوځېدې. په لاس کې یې خیالي تسبیح اړولې. له لرې به چې د چاودنې غږ پورته شو، شونډې به یې ورېږدې، ټنډه به یې وغوړېده. داسې ښکارېده لکه له خدایه چې مرګ غواړي.

د محیا غږ لوړ شو:

ـ له کومه چې دلته راغلې یوو، همداسې ناسته ده.

یو ډنگر سړی د کړکۍ سره ولاړ و. ژامې یې راوتلې وې، د باندې یې کتل. گرد سوک یې په دېوال ورو ـ ورو واهه.

محیا وویل:

ـ همدلته ولاړ وي. د عسکر په څېر پيره کوي. حیرانه یم چې پښې یې ولې نه وچېږي؟

یوه هلک دېوال ته ډډه لگولې وه. سپین بنداژ یې تر مټ تاو و. د تورې وینې گرده حلقه د بنداژ په منځ داسې ښکارېده، لکه د کلونو زوړ ټپ چې نه رغېږي. ټکی وېره یې په وجود که نه ښکارېده، غوسه یې په څېره پرته وه. سترگو کې یې ماشومتوب مړ شوی و، مخکې له دې چې د ځوانۍ موسم یې راشي.

وړاندې یوه ځوانه ښځه د ټوټو ـ ټوټو زینو په منځ کې ناسته وه. د ټکري پيڅکه یې په اوبو خېشته کړه، څاڅکي ـ څاڅکي اوبه یې د هلک په خوله کې وڅڅولې. د شرم ډکې سترگې یې د کنډوالې په دېوالونو کې را وگرځولې. سر یې وځړېد، لکه د ماشوم تنده او لوږه یې چې په اوږو بار وي.

د سړي ډکې سترگې د محیا لوري ته کږې شوې:

ـ دا څوک ده؟

ـ په نوم یې نه پېژنم. ماشوم یې ژړل. زه او حسنات ورغلو، چې شیدې ورکړه. سترگې یې رډې را ووتې. په ژړغوني غږ یې راته وویل، چې خیر دی، اوبه راته پیدا کړئ. په سختۍ مو یوه کوزه اوبه ورته راوړې.

یوې نجلۍ په خاورو کې پتلۍ وهلې وه. څېره یې د اووه کلنې ښکارېده، خو بدن یې د کمروزې پینځه کلنې په څېر و. دواړه لاس یې په سینه پورې جوخت نیولې ول،

سترګې يې په خاورو کې ګنډلې وې. کمزورې غږ يې له خولې پورته کېده: «مورې».
همدا يې له خولې راوتل، نه يې ډوډۍ غوښته، نه اوبه. خو هېڅ خواب يې نه اورېد.
غږ يې د کنډوالې په ژوره خاموشۍ کې ورکېده.

د يوه ټيپي سرې له ښېټې خيرنه جنډه تاو وه. په وينو سره، په خاورو سپېره وه. سترګې
يې له ډېره درده ځلېدې. غوڅه ـ غوڅه ساه يې اخيسته. يوه ښځه يې تر څنګ ناسته
وه، لاس به يې ټنډې ور اورد کړ، بېرته به يې لرې کړ. لکه اورجن تبخې ته يې چې
ګوتې ور وړې وي. سړي په سوري چت کې سترګې ښخې کړې وې. د لمر مړې
وړانګې يې په څېره پرتې وې. ژبه يې په خوله کې يوې او بلې خواته اړوله.

يوې نجلۍ خيرنه نانځکه په ښنو اچولې وه. د نانځکې د طلايي وېښتانو څوکې په
خاورو لګېدې. نجلۍ غټې سترګې درلودې، نري بانه يې پورته او کښته غورځېدل. په
وړه ژبه يې نانځکې ته خبرې کولې: «صبر وکړه، پلار راځي. ولې دومره وېرېږې؟ صبر
وکړه، چې بمباري ختمه شي، بېرته باغچې ته ځو.» وړې نجلۍ په داسې نړۍ کې
ژوند کاوه، چې قانون يې انتظار و؛ هغه څه ته انتظار چې پای يې نه درلود.

يوه بله نجلۍ د سيمټو په ګرده ټوټه ناسته وه. لاس کې يې ماته ايينه وه. ايينه يې د
کميس په لمن پاکه کړه، مخ ته يې ونيوه. ايينه کې د شا لوېدلي دېوالونه ښکاره شول.
نجلۍ لړزانده ګوتې وېښتانو ته ور وړې، لکه مېلمستيا ته چې خان جوړوي. هغې
خيالي مېلمستيا ته چې پرته له دې هېڅوک نه وو وربلل شوي.

څنګ ته يې يو سپين ږيرى ناست و. ډوډۍ يې سترګو ته د کتاب په څېر نيولې وه.
ډوډۍ وچه وه، د پوپنک ګردې حلقې ترې تاو وې. سپين ږيري نه خپله خوړه، نه يې
بل چاته ورکوله. يوازې په حيرانو سترګو يې ورته کتل. لاس کې يې د ژوند د وروستي
مالکيت په څېر ټينګه نيولې وه؛ د وروستي سپر غوندې چې د فقر پر وړاندې يې سترګو
ته نېغ درېدلى و.

له يوه کونجه د يوه هلک د خندا غږ لوړ شو. د کنډوالې ژوره خاموشي يې په خندا کې

وخوړه. داسې یې خندل، چې د ناستو کسانو په زړونو یې لړزه راوسته. سترګې یې رډې راوتې وې، وېره پکې نښېده. خو خوله یې له خندا نه ټولېده. دا خندا د داسې جنون خواب و، چې د یوه ماشوم په اوږو بار و.

د سرې او محیا حیرانې سترګې د نیمه وېجاړې ودانۍ په کونجونو کې وڅرخېدې. یوه ښځه یې ولیده، ماشوم یې په غېږه کې د درې په څېر شخ و. له خولې یې نرمه زمزمه پورته کېده. ماشوم یې ښوراوه، خو د ماشوم ټول بدن ښورېد. د ماشوم له خولې ساه نه وته. یوازې د مور لړزانده غږ یې پورته کېده. خپل زوی یې په ابدي سفر کې للو ـ للو کاوه.

سرې او محیا ښځې ته ځیر ول، چې ناڅاپه یې یوه کوچنۍ نجلۍ مخې ته ودرېده. نجلۍ په وره ژبه وویل:

ـ که مړه شم، جنت به همدا وي؟

محیا یې سترګو ته وکتل، ژور غم پکې پروت و.

نجلۍ بیا وویل:

ـ که جنت همدا وي، ولې دومره تیاره دی؟

محیا پټه خوله ناسته وه. د نجلۍ هرې پوښتنې یې زړه ته زهرجن نېش ورکاوه. نجلۍ واړه ګامونه واخیستل، د بل سړي مخې ته ودرېده.

د محیا سترګې را ډکې شوې، په لړزانده غږ یې وویل:

ـ استاده! هغه ورځې دې په یاد دي، چې د تاریخ درس دې راکاوه؟

زه اوس تاریخ د کتاب له پاڼو نه لولم. تاریخ په خپلو هډوکو، زړه او پوست کې لولم.

ځلور ورځې مخکې چې زه او حسنات له روغتونه را ورګرځېدو، فکر مې کاوه چې تر ټولو ستر غم دا دی، چې فرحان مې پیدا نه کړ. خو کله چې پنډغالي ته را ورسېدو،

نړۍ مې په څلورم ځل وسوځېده.

تول څه په اېرو بدل وو. کبړدۍ په تورو لوخړو کې غونجې وې. فاطمه انا لولپه شوې وه، يوازې تسبيح يې وړاندې پرتې وې. پتې مې را واخيستې، په همدې کڅوړه کې مې واچولې. هغه تسبيح چې په مهربانه لاسونو کې يې اړولې.

زه او حسنات را پورته شوو، خو چېرته تللې وای؟ په سر مو له اسمانه بمونه اورېدل او د پښو لاندې مو ځمکه سوځېده. په هماغه لومړۍ شپه يې له روغتونه په تېلو ـ تېلو بهر کړو.

يوه ډاکتر ته گڼ خلک ولاړ ول. چا به چې يو نوم ورته واخيست، يا به يې تصوير ور ښکاره کړ، ډاکتر به ويل، چې مړ شوی، خاورو ته يې وسپاره. روغتون کې چې گڼه ـ گوڼه ختمه شوه، د ډاکتر سترگې په ما او حسنات ولگېدې. ويل يې چې څه کوئ؟ ځواب مې ورکړ، چې په ورور پسې مې گرځم. ډاکتر راته وويل، چې نوم يې څه دی؟ نښه يې راته ووايه.

تېره ډېره مې را پورته کړه، ډاکتر مې ويشت. حسنات مې لاس ونيو. ډاکتر چېغه کړه، چې لېونۍ شوې يې؟ په ژړا کې مې ورته وويل، چې ولې مې د ورور نوم او نښه پوښتې؟ غواړې ووايې چې مړ دی. اوس خاورې پرې پنډ دي؟

په هماغه شپه يوې کنډوالې ته لاړو. تياره وه. يوې ښځې خپل ماشومان ويده کول. للو ـ للو يې ورته ويل، خو د ماشومانو ژړا نه کرارېده. د ښځې لړزانده غږ پورته شو، چې خولې وتړئ، هغوی يې اورې.

استاده! ايا موږ ځناور وو او ښکارچې په کمين کې راته ناست و؟

شپه مو په سختۍ تېره کړه. د يوې چاودنې غږ به مو له غوږونو نه و وتلی، چې بل درز به پورته شو. سهار په خوبولو سترگو ببرته په فرحان پسې ولاړو. يوه ښځه مو وليده، چې ماشوم يې په غېږه کې سوړ شوی و. سرې مو پيدا نه کړل. ما او حسنات قبر ورته

وکینده. ډېرې سترې شوو، هر ځل به د ښځې غږ لوړېده، چې ژور یې کړئ.

استاده! په همدې لاسونو مې قبر ژور کړ، ته ورته وګوره.

کله مو چې په هلک خاورې وشیندلې، د ښځې له سترګو یو څاڅکی اوښکه و نه څڅېده. لاسونه یې اسمان ته پورته کړل، ویل یې چې شکر خدایه، نور مې د زړه ټوټه لوږه نه حس کوي.

له قبر چې را ورګرځېدو، یوه نجلۍ مو ولیده. مهلا نومېده. له پښو یې وینې څڅېدې، ویل یې چې زخمي پښې یې سوځي، نوره نشي ګرځېدای. حسنات نجلۍ غېږې ته پورته کړه. ځای ـ ځای به مو دمه وکړه.

ځان مې بختور ګانه چې یو څوک به مخې ته راغی. د فرحان کیسه مې ورته تېروله، چې تل خاندي، سترګې یې لویې دي، مخ یې د واورې په څېر سپین ځلېږي، خو دې وروستیو کې ژېړ اوښتی و.

ډېرو به ویل، چې نه مو دی لیدلی. ځینې به له څه ویلو پرته په خپله مخه لاړل.

استاده! نه پوښتې چې د فرحان کیسه مې ولې خلکو ته کوله؟ زړه مې نه کېده، چې څېره یې رسم کړم. حتی په یوه رسم شوې څېره یې رحم ونشو، سوری ـ سوری شوه. څنګه به مې لوربدل، چې بیا ځلې یې په رسم شوې تنده ګولی خښې شي، هه؟

له ډېرې ستومانۍ ببرته راغلو. مهلا په وړه ژبه ویل، چې پلار یې نانوای دی، تللی ډوډۍ پخوي. مور یې د سوغاتونو له ډکو کڅوړو سره لیده، چې له بازاره یې راوړې. کله چې همدې کنډوالې ته را ورسېدو، د نجلۍ له خولې یوه خبره و نه وته. لاس مې یې ټینګ ونیو. له ډېرې ستړیا خوب یوړو.

همدلته چې ناست یې، زما تر څنګ ویده شوه. سهار چې را پاڅېدو، د مهلا د لاس تودوخه مې حس نه کړه. لاس یې سوړ شوی و.

د ښوونکي پښې ولړزېدې، څمکې ته یې په حیرانو سترګو وکتل.

محیا سوړ اسویلی واېست:

ـ استاده! پوهېږې تر ټولو وېرونکي څه په نړۍ کې کوم دي؟ دا نه دي چې مړه شو. دا دي چې له مرګ سره عادت شو.

بیا شدیده بمباري وشوه. چا چیغې نه وهلې. لاسونه مو په دېوالونو تکیه کړي وو. انتظار مو باسه. داسې وو لکه د مني پاڼې چې باد ته یې ځانونه سپارلي وي.

شپه وه، چې مهلا مو په یوه څنډه کې خاورو ته وسپارله. حسنات د قرانکریم یو سورت تلاوت کاوه، ما اسمان ته کتل. ستوري لا هم راته ځلېدل. هغه شپه مې په یاد شوه، چې زه او فرحان په برنډه پراته وو. فرحان په هر ستوري نوم ایښوده. هغه اوس ورک دی، خو ستوري لا هم ځلېږي.

کنډوالې ته چې بېرته را ورسېدو، حسنات راته وویل، چې دې ورځو کې داسې کارونه کوو، لکه لویان. ریښتیا یې ویل. د یتیمانو مور جوړه شوې وم؛ د ټپیانو خور؛ د هغه ښار لور، چې مور او پلار یې بایللي وو.

استاده! سترګو ته مې ځیر شه، یوه پېړۍ غم نه دی پکې پروت، عه؟

ښوونکي ژوره ساه واېسته، سر یې پورته کړ، د محیا له سترګو تاو تورې حلقې په اوښکو لمدې وې.

محیا په لړزانده غږ وویل:

ـ نن مې چې په دې کنډواله کې سترګې درباندې ولګېدې، داسې احساس مې وکړ، لکه تېر ژوند مې چې بېرته را ژوندی شوی وي. مخکې له دې چې تیاره راشي، بېرته را وګرځېدو. فرحان مو پیدا نه کړ، خو خوښه په دې یم چې ته بل چېرته نه یې تللی.

د دواړو په منځ کې ژوره چوپتیا خوره شوه. شېبه وروسته محیا وویل:

ـ نن زه پوښتنې لرم، ته یې خواب راکوه.

استاده! تاسو د تاریخ درس راکاوه، خو مور مې د یووشتمې پېړۍ د تمدن په اړه راته ویل، چې نړۍوال دی، پولې نه پېژني، که دا تمدن نه وی، تېر تمدنونه به چا نه پېژندل. نن ته راته ووایه، چې دا تمدن ولې زموږ په وینو لیکل کېږي؟

استاده! وبښه چې دا خبره درته کوم. خو زه نوره د تاریخ په کتابونو تکی باور نه لرم. ریښتینی تاریخ مې د تیپي ماشومانو په هیلو کې ولید؛ د هغې مخامخ ښځې د تکرې په پیڅکه کې چې د ماشوم په خوله کې اوبه څڅوي؛ د دې بابا په سترگو کې چې د وچې ډوډۍ په لیدو نه مړېږي؛ د یوه بل سپین ږیري په خبره کې چې سوځېدلي بوټ ته یې خبرې کولې...

استاده! ابدي ژمی مې بنه وپېژانده. فاطمې انا به وروسته له هرې چاودنې ویل، چې یوې او بلې ته د مینې ډکه غېږه ورکړئ، د ژوند ژمی به مو گرم شي. خو نه کېږي.

استاده! نوره هغه محیا نه یم، چې د تاریخ کورنۍ دنده مې درته رسم کوله. تا به ویل، چې تاریخ لیکل کېږي. خو زه به شله وم، بله ورځ به مې بیا یو څه درته رسم کړل. نه پوهېږم، چې محیا څه شوې؟ په ځان کې ورکه یم. کله چې سترگې پټوم، یوازې دود او اور وینم. کله چې یوه ټوټه وچه ډوډۍ پیدا کړم، د اېرو ورم لري. یو غوړپ اوبه چې وڅښم، د وینو خوند کوي. غوږونه مې د ماشومانو په کړیغو سترې شوي.

کله له ځان سره فکر کوم، چې غزه یو نوم نه دی. غزه یعنې زما پلار چې د مخ تپ یې ژور ښکارېد؛ یعنې مور مې چې په ځمکه د لرگي په څېر وچه پرته وه؛ یعنې څلور تونې هډوکي چې د روغتون په وینو لړلو کټو کې یې لا هم ساه ویسته؛ یعنې زه... او زه یعنې دا ټول درد. داسې فکر کوم، چې غزه مې په کوچني زړه کې پرته ده.

استاده! ریښتیا ووایه، ته هم په اوسني تمدن مین یې؟

ها! یوازې تا په غوږ نه وهم، مور مې هم په دې خبرو غوږونه را خوړل. د فرعویانو په اهرامونو، چې د اوسني تمدن په برکت روغ پاتې دي. د حمورابي منشور چې د پاریس په لوور موزیم کې پروت دی. د کوروش منشور، چې برېتانیا کې یې د خلکو سترگې

په لیدو ستړې دي. د پاکال ماسک چې مکزیک کې ساتنه ترې کېږي. د اډوین اسمبټ پاپیروس.

مور مې ویل چې دا پاپیروس د نړۍ تر ټولو پخوانی طبي متن دی.

استاده! د یوویشتمې پېړۍ تمدن د همدې لپاره دی، چې د پخوانیو تمدنونو کاغذ، هډوکي او وسپنې وساتي، خو دلته یو ماشوم نه؟

ولې د تېر تمدن په یوه پاپیروس مواد شیندي، چې روغ پاتې شي او زموږ په سرونو بمونه؟

مور مې ویل چې اډوین اسمبټ په پاپیروس د روغتیا پیغام لیکلی.

ها! یوه خبره مې یاد ته راغله. د روغتون په غولي ګڼ ماشومان او لویان پراته ول، له خولو یې سپین ځګونه بادېدل. خېټې یې پړسېدلې وې. یوه سړي ګونډې وهلې وې، غبرګ لاسونه یې د ډاکټر له پښو تاو کړي وو. په کوکو یې ویل، چې خیر دی، وراره مې وژغوره، د ورور یوازینۍ نښه مې ده. ډاکټر حرکت نشوای کولی، اخر ډېر ستړی شو، ویل یې، چې د دې علاج نه کېږي، په زهري بم ټپي شوی.

استاده! فکر کوم چې دې تمدن په هماغه زاړه پاپیروس زړه بایللی، نه یې په لیکل شوي پیغام که څنګه؟

شېبه په کنډواله کې ژوره چوپتیا خوره شوه. ښوونکي سترګو ته لاسونه یوړل. اوښکې یې پاکې کړې. د محیا سر وځړېد، د ښوونکي لړزانده لاس یې په سر کش شو.

د محیا له خندا ډک غږ یې په غوږونو ننوت:

- استاده! ښایي تېروتنه مې کړې وي، که څنګه؟ صبر تېروتنه به مې په دې ټکیو اصلاح کړم.

د یوویشتمې پېړۍ تمدن ډېر ښکلی دی. له اسمانه یې الوتکې زهر اوروي. په

موزيمونو کې د تېرو تمدنونو وسپنې په وياړ ساتي، خو دلته د زرګونو انسانانو ژوند اخلي.

استاده! حق يې دی چې وسپنې وساتي. خپله خو څه نه لري، چې زموږ څخه وروسته تمدن ته يې وسپاري. قبرونه خو په موزيم که نه ساتل کېږي. اخر څومره هديرې به د موزيمونو په ښيښنو کې ځای شي، عه؟

يوه ورځ مې د پلار سره په چکر تللې وم. د يوې کارخانې مخې ته ودرېدو. په ښيښه يې د نانځکې لوی تصوير و. درجن ـ درجن کارتن ترې راوتل او په لويو موټرو کې بارېدل. له پلار مې وپوښتل چې دا څه دي؟ پلار مې ويل، چې نانځکې.

د محيا سر وځړېد، شونډې يې ونښتې. شېبه وروسته يې حيرانې سترګې ښوونکي ته ور واړولې:

ـ استاده! اوس داسې فکر کوم، چې د يوويشتمې پېړۍ تمدن د انسانانو د مرګ لويه کارخانه ده. هره ورځ په زرګونو جنازې توليدوي. تېروتې خو به نه وم، عه؟

د محيا تېنده ګونځې شوه، موسکا يې په څېره وغوړېده. ترۍ ګوتې يې د ښوونکي تر زنې لاندې کړې. د ښوونکي سر دوې ګوتې هسک ودرېد:

ـ استاده! خبرې نه کوې، لکه چې د تاريخ پنډ ـ پنډ کتابونه دې له ذهن تښتېدلي، که څنګه؟

د محيا ګوتې د ښوونکي له زنې لرې شوې. د ښوونکي سر بېرته وځړېد، سپين وېښتان يې ژېړو ورانګو ته ځلېدل.

محيا په لړزانده غږ وويل:

ـ استاده! ډېره وغږېدم. وروستۍ خبره درته کوم. د جغرافيې استاد ويل چې اوسني تمدن داسې دوربينونه جوړ کړي، چې کهکشانونه ليدای شي. دا خبره يې لوی وياړ ګاڼه. خو که اوس هغه استاد دلته وای، ترې پوښتلي به مې و، چې دې دوربينو که

څه ویاړ دی، چې سیارې لیدلی شي او یوه ټوټه سوې غزه نه!؟

استاده! که فرحان یو ځل، حتی یوه ځل په دې دوربینو کې ښکاره شوی وای، بیا به مې هم دا تمدن لوی ویاړ ګاڼه.

خبرې مې اوږدې شوې، خو ژمنه ده چې له دې پوښتنې سره خوله ترم: تاریخ به زموږ په اړه څه ولیکي؟ د ریاضي وچ عددونه او ارقام!؟

***

د خوارلسم سپوږمي رڼا په کنډواله کې تېزه لګېده. محیا او حسنات د ښوونکي تر څنګ غلې ناستې وې. دریو واړو له یوې لویې کړکۍ د باندې کتل. د زیتونو وچه ونه هسکه ولاړه وه.

ښوونکي له ژورې چوپتیا وروسته خوله خلاصه کړه:

ـ محیا لورې، که سترګې دې رڼا ته کار کوي، یو تاریخي رسم راته وباسه. هسې مې هم یو رسم پوروړې یې.

د محیا له خندا ډک غږ په کنډواله کې خور شو:

ـ استاده! د مالګینې ښځې وچ جسد درته رسم کړم، چې د هخامنشي دورې ده او اوس د ایران په ملي موزیم کې ساتل کېږي؟ د مصر اهرامونه؟ که ختین ګلدانونه چې د رومي اتلانو څېرې پرې حک دي؟

ښوونکي وویل:

ـ نه، نه لورې! زموږ د تېر برم رسم راته وکړه.

محیا کڅوړې ته لاس دننه کړ. ګوتې یې په خاوره او تسبیح ولګېدې. رنګې یې په لاس کې را پورته کړې، وریسې یې کتابچه را واخیسته. پاڼې یې واړولې، سړه ساه یې واېسته:

ـ همدا وروستۍ پاڼه پاتې ده.

د رنگو له منځ یې پنسل ته وکتل. بیا ځلې یې سره ساه وابسته: دومره څوکه یې پاتې ده، چې ابله یو ښکلی رسم پرې وشي. بیا به یې څوک راته وتراشي؟

لا یې د پنسل څوکه د پاڼې په منځ نه وه کش کړې، چې له خولې یې ووتل:

ـ استاده! گټه یې څه ده. تبر برم مو داسې سوی وگڼه، لکه همدا کنډواله.

ـ نن دې ډېرې پوښتنې راځخه وکړې، خواب مې نه درلود. خو زما یوه خبره دې په زړه کې کلکه وساته: ښېرته به برم زموږ په لاس کې وي. ښېرته به تمدن موږ په لاس کې اخلو. پرمختگونه به نه یوازې د مسلمانانو، بلکې د ټول بشر د هوساینې لپاره وي. ته یې رسم کړه لورې، ته یې رسم کړه.

شبه یې په منځونو کې ژوره چوپتیا خوره شوه. محیا سوچونو یوړه، هغه خبره ور په زړه شوه، چې یهودي یوځي خوله په ویاړ پرې جینگه کړې وه: دا کنډوالې د خیبر غچ وگڼئ!

شپه وروسته محیا د سپوږمۍ رڼا ته رسم وکاږه. پاڼه یې د ښوونکي مخ ته ونیوه. ښوونکي د مخې په جېب لاسونه وټپول. څه یې په سترگو کړل، عینکې وې. یوه ښیښه یې رڼا ته ځلېده. د عینکې له بل چوکاټه یې چیپې سترگې ته د سپوږمۍ رڼا سیخه وه. سره سترگه یې ژېړه ځلېده.

ښوونکي وویل: محیا لورې! اوس په تاریخ کې پوره نومرې لرې.

ـ استاده! همدلته نومرې پرې ولیکه.

ـ نه لورې! یو څو کرښې د لاندې پرې لیکم. د ریاضي وچ عددونه گټه نه لري.

د محیا خندا لوړه شوه:

ـ استاده! کاش زما کتابچه یې په موزیم کې ایښې وای.

ـ نه لورې! د نړۍ ټول موزيمونه ستا له کتابچې سره نه برابروم.

ـ استاده! کاش دغه کتابچه زموږ بل نسل ته پاتې شي.

ـ زه هم دوې کرښې پرې ليکم، يوازې دوې کرښې.

د محيا خندا لوړه شوه. نړۍ غږ يې د ښوونکي په زړه د شاتو د څاڅکو په څېر پرېوت:

ـ ښايي يوه کرښه د اوسني تمدن پرمختګونه وي. بله، بله د تېرو تمدنونو وسپنې او هډوکي چې اوسنی تمدن يې څنګه ساتي.

د دواړو خندا لوړه شوه. ښوونکي د قلم څوکه د پاڼې په څنډه کېښوده. لاس يې لړزېده. شېبه وروسته يې کتابچه وتړله، محيا ته يې وويل:

ـ لورې! سهار يې وګوره، چې څه مې ليکلي؟ بيا به يو ځای په فرحان پسې ولاړ شو.

ناڅاپه يې سره لمبه سترګو ودرېده. له سپوږمۍ کښته وه، اورډې شغلې يې په بېړه را کښته کېدې. لمبه نږدې شوه، د محيا له سر ټکرۍ ولوېده. ببر وېښتان يې يوې خواته واوښتل، لکه تېز باد چې پرې لګېدلی وي. سرو وړانګو يې تورې سترګې وځلولې. لاس يې اورد کړ، په تېزۍ يې کتابچه له کړکۍ وغورځوله. لمبې په غولي ولوېدې. دروند غږ پورته شو، نيمه وېجاړه ودانۍ ونړېده. شېبه وروسته ژوره چوپتيا خوره شوه.

***

د سهار په خړه کې څو کسانو یوې او بلې خواته لوتې او خاورې اړولې. د یوه ځوان سترګې په یوه نیمه سوځېدلې کتابچه ولګېدې. کتابچه یې را پورته کړه. د سر پاڼې یې واړولې، رسمونه نه ښکارېدل، سوځېدلي وو. څو پاڼې روغې ښکارېدې. سړی ورته ځیر شو؛ ګلان، د ښځې او سړي تکراري څېرې پکې رسم وې.

وروستۍ پاڼه یې واړوله. یو کس په آس سپور و، د وسپنې خولۍ یې هسکه ښکارېده. آس د کنډوالو په منځ کې ولاړ و.

ځوان سترګې وموښلې، بیا ځلې یې کتابچې ته په ځیر وکتل. لاندې ترې لیکل شوي و:

صلاح الدینه! ستا په نشتون کې یوه ورځ د بیت المقدس ګنبده همداسې ړنګه وبوله.

د ځوان سترګې را ډکې شوې، بیا ځلې یې پاڼې ته وکتل، بله کرښه یې سترګو ته ښېغه شوه: موږ وسوځېدو، څو تاسو وېښ شئ!

د ځوان په مخ مرې اوښکې وبهېدې. نه د غم، د شرم اوښکې. شرم له هغه خوبه چې د ویښدو بیه یې د نورو وینې وې.

ځوان په وروستي ځل رسم ته وکتل. د لمر لومړۍ وړانګې د صلاح الدین ایوبي په رسم شوې څېره وغوړېدې. کتابچه یې ټینګه په سینه پورې ونیوه. سر یې اسمان ته پورته کړ، سینه یې له هوا ډکه کړه.

داسې ښکارېد لکه له خولې چې د اسرافیل شپېلۍ جوړوي. څو د ښوونکي او محیا غږ په ټوله نړۍ خور کړي:

«موږ وسوځېدو، اوس ستاسو د ویښدو وار دی»

«نړۍ له سره رسم کړئ، داسې نړۍ چې نه کنه وي، نه ړنده!»

**پای**

**د لیکوال لنډه پېژندنه:**

محمد طارق صابر په ۱۹۹٦ میلادي کال کې د میدان وردګو ولایت، د چک ولسوالۍ په شهباز خان کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې. لومړنۍ زده کړې یې د عربانو په عالي لېسه کې پیل کړې. وروسته د میر غلام محمد غبار له لیسې څخه فارغ شو.

هغه له کوچنیوالي د کیسو له کتابونو سره مینه لرله، پلار به یې د کمکیانو مجلې او کتابونه ورته راوړل. وروسته یې د عملي او نظري روزنو له لارې د لیکوالۍ ورتیا پیاوړې کړه. د لیکوالۍ تر څنګ یې په بېلابېلو ادارو کې ژباړې کولې.

محمد طارق صابر له څېړنیزې ورځپاڼلیکنې سره لېوالتیا درلوده او د «توانا» انلاین اکاډمۍ له لارې یې څېړنیزه ورځپاڼلیکنه زده کړه. وروسته یې چاپي رسنیو ته په فرهنګي، سیاسي، ټولنیزو او ورزشي برخو کې ګڼ شمېر مقالې ولیکلې، چې په بېلابېلو ورځپاڼو کې خپرې شوې دي.

همدارنګه په ګالیمالوا انلاین اکاډمۍ کې یې د داستاني ادبیاتو اړوند عملي او نظري زده کړه پیل کړه. وروسته یې چې څو لنډو کیسو پوره نومرې تر لاسه کړې، د دې اکاډمۍ غړیتوب یې خپل کړ.

د ادبي او فرهنګي لېوالتیا تر څنګ، هغه له کوچنیوالي ورزش پیل کړ. په ۲۰۰۵ م کال کې یې د کانګفو رزمي هنر پیل کړ. په ۲۰۰۸ کال کې یې د استاد ګلرحیم طوطاخېل تر لارښوونې لاندې جمناستیک ته دوام ورکړ. په ۲۰۱۰ کال کې یې د ITF تکواندو سره لېوالتیا ډېره شوه. په دې څانګه کې یې د استاد محمد رستم احمدي تر نظر لاندې تمرینات پیل کړل، چې د تور کمربند لومړني دان تر کچې ورسېد. همدارنګه په کبک بوکسینګ هم د تور کمربند لومړني دان کچه لري.

محمد طارق صابر ګڼ شمېر ورزشي فعالیتونه ترسره کړي دي. هغه یو وخت په کابل پوهنتون کې د تکواندو او MMA روزونکی و. همدارنګه د خپلو ملګرو په ملتیا یې د «ځوان خواک» ورزشي ټولنه تاسیس کړه او درې کاله د دې ټولنې مرستیال و. وروسته د باتوران دود او ارچري فدراسیون د نشراتو امر وټاکل شو.

کوم کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، د لیکوال دویم اثر دی. تر دې مخکې یې یو دري اثر «در سایه‌های روزگار» چاپ شوی دی.

محمد طارق صابر په نورو ناولونو هم کار کوي او په نږدې راتلونکي کې به د ادب مینه‌والو تر لاسونو ور ورسېږي.

**ضروري خبرتیا :** ملګري که ته نوي کتابونه لرې او تر اوسه نوي سکن شوي ، نو سکن يې کړئ او موږ ته يې واستوئ ، ځکه دغه دومره سخت کارنده . یا هم لیکوال یاست په خپرولو کې موږ مرسته درسره کوو،ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به يې نشر کړو که په هره ژبه او هره برخه کې وي ، تر څو موږ يې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو، موږ ته يې په دې لاندې نمبر په ټلیګرام کې را واستوئ : +93789212634 📱

**یادونه :** داچې زموږ د کتابتون په نامه کاپي کتابتونونه جوړ شوي نو هيله ده زموږ چینل ددغه لاندني [ Join ] بټني له لارې جوین کړئ، لومړی له انټرنیټ سره وصل شئ ، بیا باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ که مود ټلیګرام اکونټ وي ډیر ښه که نوي نو جوړيې کړئ او ورسته په دغه بټنه کیکاږئ او ورسته به تاسو زموږ چینل ته بوځي هغه Join کړئ او نور تاسو زموږ د کتابتون له کورنۍ سره یوځای یاست .!

JOIN

paktekawalAfghan

استاده! وبښه چې دا خبره درته کوم. خو زه نوره د تاریخ په کتابونو تکی باور نه لرم. ریښتینی تاریخ مې د تېرو ماشومانو په هیلو کې ولید؛ د هغې مخامخ ښځې د ټکري په پیڅکه کې چې د ماشوم په خوله کې اوبه څڅوي؛ د دې بابا په سترګو کې چې د وچې ډوډۍ په لیدو نه مړېږي؛ د یوه بل سپین ږیري په څېره کې چې سوځېدلي بوټ ته یې خبرې کولې...
استاده! نوره هغه محیا نه یم، چې د تاریخ کورنۍ دنده مې درته رسم کوله. تا به ویل، چې تاریخ لیکل کېږي. زه به شله وم، بله ورځ به مې بیا یو څه درته رسم کړل. نه پوهېږم، چې محیا څه شوې؟ په خان کې ورکه یم. کله چې سترګې پټوم، یوازې دود او اور وینم. کله چې یوه ټوټه وچه ډوډۍ پیدا کړم، د ابرو وړم لري. یو غوړپ اوبه چې وڅښم، د وینو خوند کوي. غوږونه مې د ماشومانو په کړیغو سترې شوې...

Aksos®

بیه
۱۰۰ ؋

Price
6.99$

ISBN 978-9936-1-1010-6

9 789936 110106